د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د بنوونکو د روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف عمومي رياست

درسي کتابونه دپوهنې په وزارت پورې اړه لري،
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.
له سر غړونکو سره قانوني چلند کيږي.

۱۳۹۰

اسلامي بنوونه او روزنه

نهم ټولگی

Ketabton.com

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو
د روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

اسلامي ښوونه او روزنه

نهم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش.

ketabton.com - The Digital Library

ليکوالان:
- استاد نور الله صافی
- استاد سید فاضل شاه پاچا
- مولوي عبدالصبور عربي
- استاد فضل الله نیازی
- استاد رقیب الله ابراهیمي

علمي اديتوران:

- دکتور محمد یوسف نیازي
- استاد احسان الله ناشر
- استاد محمد آصف کوچي
- استاد فیض محمد عثماني

د دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه:

دکتور محمد یوسف نیازی
حبیب الله راحل د پوهنې وزارت سلاکار د تعلیمي نصاب د پراختیا په ریاست کې.

د تدقیق، تصحیح او څارنې کمیسیون:

دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین
دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې مسؤول
د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس

کمپوز: استاد رقیب الله ابراهیمي

طرح او ډیزاین: محمد سهیل انصاري او عنایت الله غفاري

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو ښوونکو او زده‌کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کېږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او **رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.** دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځېدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو مینديې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې برياوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، دوطن دوستۍ د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وومومي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له مینډو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو او نورو دوستو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

د مطالبو لړ لیک

سر لیک **مخ**

۱. د ایمان اړین څیزونه ۱
۲. اتفاق او یووالی ٤
۳. دین خیر غوښتنه ده ۷
٤. د اړیکو پرېکول ۹
٥. دوه مخي ۱۲
٦. تقوا او پرهیزګاري ۱٥
۷. تواضع (عاجزي کول) ۱۷
۸. کفالت ۱۹
۹. د کفالې پای ۲۳
۱۰. حواله ۲٦
۱۱. حواله ۲ ..... ۲۹
۱۲. وکالت ۱ ..... ۳۲
۱۳. وکالت ۲ ..... ۳٦
۱٤. مضاربت ۳۹
۱٥. مضاربت ۲ ..... ٤۲
۱٦. هبه ٤٥
۱۷. هبه ۲ ..... ٤۸
۱۸. ودیعت (امانت) ٥۱
۱۹. مدینې منورې ته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم هجرت ٥٤
۲۰. مدینې منورې ته د نبي کریم (ص) رسېدل ٦۰
۲۱. د مسلمانانو تر منځ د ورورګلوی ټرون ٦٥
۲۲. له نورو قبیلو سره د رسول الله (ص) ټرونونه ٦۷
۲۳. د مسلمانانو په ضد د قریشو پاڅون ٦۹
۲٤. د بدر غزا ۷۱
۲٥. د احد غزا ۷۷
۲٦. د سلام فضیلت ۸۲

ketabton.com - The Digital Library

۲۷. د وخت او سلامتیا (صحت) ارزښت ۸۵
۲۸. د رشوت حراموالی ۸۷
۲۹. دحلال کسب طلب ۸۹
۳۰. د الله (ج) نعمتونه ۹۲
۳۱. د مزدور حق باید ډیر ژر ورکړل شي ۹۶
۳۲. د علم زده کړه فرض ده ۹۹
۳۳. غصب ۱۰۲
۳٤. لقطه (موندل شوی مال) ۱۰۵
۳۵. مزارعت (دهقاني) ۱۰۹
۳٦. مساقات (باغباني) ۱۱۲
۳۷. وقف ۱۱۵
۳۸. صلح (سوله) ۱۱۸
۳۹. شرکت ۱۲۱
٤۰. د وجوهو شرکت ۱۲۵
٤۱. شفعه ۱۲۸
٤۲. له ځان څخه د فاع کول ۱۳۲
٤۳. وصیت ۱۳۵

ketabton.com - The Digital Library

لومړی لوست

د ایمان اړین څیزونه

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ﷺ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ – صلى الله عليه وسلم– قَالَ «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ». متفق عليه

د راوي پېژندنه:

نوم يې عبدالرحمن بن سخرالدوسي لقب يې ابوهريره او د هجرت په اووم کال مسلمان شوی دی ډېره موده يې د پيغمبر (ص) خدمت کړی له همدې امله يې له رسول الله (ص) څخه ګڼ شمير احاديث روايت کړي دي. دغه جليل القدر صحابي په تقوی او پرهيزګاری مشهور او د لوړ ذکاوت خاوند و او د هجرت په (۵۸) کال وفات شو.

فعاليت:

ابوهرة څوک دی؟ معرفي يې کړئ.

د کلمو معنا:

۱. فَلْيَقُلْ خيراً : نو ښکې خبرې دې وکړي.
۲. أَوْ لِيَصْمُتْ: يا دې چوپ اوسي.
۳. فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ: نو د خپل ګاونډي عزت دې وکړي.
۴. فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ: نو د خپل مېلمه عزت دې وکړي.

د حديث شريف معنا:

له ابې هريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: که څوک په الله تعالی او د آخرت په ورځ ايمان لري نو د خير خبرې دې کوي او يا دې چوپ اوسي، او که څوک په الله تعالی او د آخرت په ورځ باندې ايمان لري نو د خپل ګاونډي درناوی دې وکړي، او که څوک په الله تعالی او د آخرت په ورځ ايمان لري نو د خپل ميلمه عزت او پالنه دې وکړي.

د حديث شريف حکمت:

په الله تعالی او د آخرت په ورځ باندې ايمان درلودل د زړه عمل دی، خو هغه وخت نور خلک پرې پوهېدای شي، چې نښې او نښانې يې په خبرو او يا عمل کې څرګندې شي، نو په خبرو او عمل کې د ايمان نښې پدې حديث شريف کې بيان شوې دي، هغه دا چې هر وخت د خير خبرې ورڅخه اوربدل کېږي، او له خلکو سره ښکې کوونکی وي، په ځانګړي ډول له هغو خلکو سره چې له ده سره زيات کارو بار لري زيات ښه چلند وکړي، لکه: ګاونډيان، همکاران، مېلمانه او يا هغه خلک چې کور او يا د کار ځای ته يې راځي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: ایمان تعریف کړئ.

د حدیث شریف ګټې:

۱. **ښې خبرې کول د ایمان نښه ده:** په الله تعالی او د آخرت په ورځ باندې ایمان انسان د نېکو خبرو کولو، له ناوړه خبرو څخه ډډې کولو او په بې ځایه خبرو باندې ځان او یا نورو ته له ضرر رسولو څخه ډډې کولو ته هڅوي، پاتې دې نه وي چې خبرې کول د خبرو ټولو ډولونو لکه: ژبنې، قلمي، اشاري، د اوربدلو یا لیدلو ټولو ډولونو ته شامیلږي، چې باید مؤمن انسان د دغو ټولو شیانو استعمال ته پاملرنه وکړي.

ځکه کله چې انسان خپلو خبرو ته پاملرنه ونه کړي شونې ده چې دروغ ووایي، په چا باندې تهمت وتړي، د چا بې عزتي وکړي، غیبت وکړي او یا د خلکو وخت په بې ځایه خبرو او بې ځایه غوښتنو ضایع کړي.

۲. **له ناوړه خبرو څخه چوپ اوسېدل غوره دي:** که یو انسان د نېکو او غوره خبرو توان ونه لري او ونه شي کولای چې په نېکو خبرو سره خلکو ته ګټه ورسوي نو پده باندې لازمه ده چې چوپ و اوسي.

فعالیت: هغه ضررونه چې له ناوړه او بدو ویلو څخه را منځ ته کېږي کوم دي؟

۳. **د ګاونډي عزت او درناوی کول د ایمان نښه ده:** ګاونډی چې پدې حدیث شریف کې ذکر شوی دی ټولو هغو خلکو ته ویل کېږي چې له انسان سره د کور، کار او یا هم د ښوونې او روزنې په چاپېریال کې نږدې ژوند کوي.

ګاونډی مختلفې مرتبې او درجې لري، چې عزت او درناوی کول یې د ایمان نښه ده، همدارنګه د ګاونډي اکرام او درناوی هم مختلفې مرتبې لري، خو تر ټولو کمه مرتبه یې داده چې هر سړی له دوې سره په ورین تندي مخامخ او راشه درشه وکړي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: کوم څیزونه دي چې هر څوک کولای شي د ګاونډي عزت پرې وکړي؟

د مېلمه عزت او درناوی کول د ایمان بله نښه ده: مېلمه په عرف کې هغه سړي ته ویل کېږي چې د انسان کور ته په اجازه او یا دده په دعوت سره ورشي.
خو په عامه معنا سره ټولو هغو خلکو ته ویل کېږي چې د انسان کور یا د کار ځای ته په اجازه او یا دده په دعوت سره ورشي، چې پدې صورت کې ټولو هغو خلکو ته ویل کېږي چې دعوت ورته شوی وی او یا دعوت ورته نه وي شوی آن د دفترونو مراجعینو ته هم ویل کېږي.
نو څرنګه چې د مېلمه درجې او مرتبې متفاوتې دي همدارنګه عزت او درناوی یې هم مختلفې مرتبې لري چې تر ټولو کمه مرتبه یې له مېلمه سره په ورین تندي مخامخ کېدل دي.

ارزونه:

۱. لاندې عبارتونه تکمیل او پوره کړئ:

- ✓ من کان یؤمن بالله و الیوم الآخر فلیقل.....او لــــ.....
- ✓ و من کان یؤمن بالله و الیوم الآخر.....جاره.
- ✓ و من کان یؤمن بالله و الیوم الآخر.....ضیفه.

۲. هغه عبارت چې د حدیث شریف په دریو جملو کې تکرار شوی کوم دی؟

۳. هغه عبارتونه چې د حدیث شریف په درې واړو جملو کې متفاوت دي کوم دي؟

۴. د لوست د حدیث شریف معنا بیان کړئ.

۵. د حدیث شریف حکمت بیان کړئ.

کورنۍ دنده:

۱. د پورتني حدیث شریف عبارتونه له تکمیل او پوره کولو څخه وروسته حفظ کړئ.

۲. د لاندې موضوعاتو څخه د یوې په اړه لنډه مقاله ولیکئ:

- ✓ نیکې خبرې او په فرد او ټولنه د هغې اثر.
- ✓ د ګاونډي عزت او درناوی کول.
- ✓ د مېلمه عزت او درناوی کول.

ketabton.com - The Digital Library

دويم لوست

اتفاق او يووالی

عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ ﷺ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ:« مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ، وَتَرَاحُمِهِمْ، وَتَعَاطُفِهِمْ، مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ، تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى».متفق عليه

د راوي پېژندنه:

نوم يې نعمان د بشير بن ثعلبه انصاري زوی د خزرج له قبيلې څخه دی، مدينې منورې ته د نبي کريم صلی الله عليه وسلم له هجرت څخه وروسته په انصارو کې تر ټولو لومړی زېږېدلی دی، خپله راوي، پلار او مور يې ټول صحابه وو، دغه جليل القدر صحابي سخي، نيک خويه، شاعر، زړه ور او ښکلی نطاق و، او د هجرت په ٦٥ کال وفات شو.

د کلمو معنا:

١. تَوَادِّهِمْ: د دوې تر منځ دوستي.
٢. تَرَاحُمِهِمْ: د دوې تر منځ زړه سوی.
٣. تَعَاطُفِهِمْ: د دوې تر منځ مهرباني.
٤. تَدَاعَى: يو بل را بلي.
٥. السَّهَرِ: بې خوبي.
٦. الْحُمَّى: تبه.

د حديث شريف معنا:

له حضرت نعمان بن بشير رضی الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: مسلمانان په خپلو منځونو کې په دوستی، زړه سوي، او شفقت کې د يو بدن مثال لري، که د بدن يو غړی په درد شي د بدن نور غړي هم په پرېشانۍ او تبه کې له هغه سره ګډون کوي.

د حديث شريف حکمت:

اتفاق او يووالی د ټولو ملتونو د بريالیتوب او کاميابۍ اصلي لامل دی، هغه ملت چې وګړي يې د بدن د غړو په څېر متحد او د خپلې ټولنې د نېکمرغۍ له پاره کار کوي، په خوښيو او ستونزو کې يو له بل سره شريک وي، په يقيني توګه هغه بريالی او نېکمرغه ملت دی.

ketabton.com - The Digital Library

له همدې امله نبي کريم صلى الله عليه وسلم پدغه مبارک حديث کې مسلمانان په هر وخت او هر ډول شرائطو کې اتفاق او يووالي ته را بللي دي، تر څو مسلمانان د خپل ځان او ټولنې د نېکمرغۍ له پاره د يو بدن د غړو په څېر کار وکړي.

فعاليت:

د بدن له غړو سره د مسلمانانو په تشبيه کې غور وکړئ، او ووايئ چې مسلمانان د خپل وضعيت د بنه والى له پاره بايد څه تدابير ونيسي؟ عمده ټکي يې په فردي او يا ډله ييزه توګه بيان کړئ.

د حديث شريف ګټې:

۱. ټول مسلمانان د يو بدن د غړو په څېر دي.
۲. اتفاق، يووالى او له نفاق څخه ځان ساتل پر مسلمانانو باندې لازم دي.
۳. د اسلامي ټولنې ټول وګړي بايد په امتيازاتو او حقوقو کې سره برابر وي، او بايد دا ټول د ټولنيز عدالت تر سيوري لاندې وي.
۴. همدارنګه د اسلامي ټولنې ټول وګړي په مسئوولیت، وجايبو، او د ستونزو په حل کولو کې بايد سره شريک وي او هر يو د خپل توان په اندازه د هغې په حل کولو کې ونډه واخلي.
۵. هېڅ يو وګړی بايد امتيازات پر خپل ځان او يا څو تنو پورې ځانګړي نه کړي.
٦. هېڅ يو وګړی بايد د ستونزو د حلولو مسئوولیت ته شا نه کړي.
۷. مسلمانان بايد تر ټولو وختونو زيات د ستونزو او تکليفونو په وخت کې يو بل ته نږدې شي، او د ټولنې له اصلاح، او ستونزو له حل څخه پرته په بل شي ځان مصروف نه کړي.
۸. د مسلمانانو اتفاق او يووالى له نورو بشري ټولنو سره د جنګ او اختلاف معنا نه لري، بلکې مسلمانان د يووالي او اتفاق په صورت کې کولای شي چې خپلې ټولنيزې، اقتصادي او سياسي ستونزې حل او له منځه يوسي، او په نړۍ کې د يو فعال بشريت ته د ګټې رسوونکي غړي په حيث ښکاره شي، د نورو خلکو د اوړو اقتصادي او ټولنيز پېټی نه وي، بلکې د دې مبارک حديث (خير الناس من ينفع الناس) په اساس ټول بشريت ته د خدمت مصدر وګرځي.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

۱. د لاندې حدیث شریف عبارات بشپړ کړئ:

« مَثَلُ ..... فِی تَوَادِّهِمْ، وَتَرَاحُمِهِمْ، وَتَعَاطُفِهِمْ، كَمَثَلِ ..... إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ، ..... لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى »

۲. د حدیث شریف مفهوم واضح کړئ.

۳. لاندې کلمې معنا کړئ:

- ✓ تَوَادِّهِمْ:
- ✓ تَرَاحُمِهِمْ:
- ✓ السَّهَرِ:
- ✓ الْحُمَّى:

۴. د حدیث شریف حکمت واضح کړئ.

۵. له حدیث شریف څخه په لاس راغلې ګټې بیان کړئ.

کورنۍ دنده:

۱. د لوست حدیث شریف له مفهوم سره حفظ کړئ.

۲. د حدیث شریف د مطالبو په اړه یوه لنډه مقاله ولیکئ او یو مناسب عنوان ورته غوره کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

دريم لوست

دين خير غوښتنه ده

عَن تَميم بن أوس الداري رضي الله تعالى عنه أن النبي صلى الله عليه وآله وسلم قَالَ: ((اَلدِّينُ اَلنَّصِيحَةُ، قُلنَا لِمن ؟ قَالَ لِلّهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُولِهِ وَلِأَئمّةِ الْمُسلِمينَ وعَامّتِهم)) رواه مسلم

د راوي پېژندنه:

نوم يې تميم د اوس بن خارجة زوی، د هجرت په نهم کال پر اسلام مشرف شو، لومړی کس وو چې نبي کريم ﷺ ته يې د منبر جوړولو مشوره ورکړه او په مسجد نبوي کې يې چراغ بل کړ، ډېر تهجد به يې کول، په مدينه منوره کې اوسيده خو د عثمان رضي الله عنه له شهادت څخه وروسته شام ته ولاړ او د هجرت په څلوېښتم کال په فلسطين کې وفات شو.

د کلمو معنا:

١. اَلنَّصِيحَةُ: اخلاص، خير غوښتنه او نورو خلکو ته نېکه مشوره ورکول.
٢. أَئمّةِ الْمُسلِمينَ: د مسلمانانو پېشوايان او حاکمان.
٣. عَامّتِهم: عام مسلمانان.

د حديث شريف معنا:

له تميم بن اوس الداري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ و فرمايل: دين د خير غوښتنه ده، مورږ وويل د چا لپاره؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله تعالى لپاره، د هغه د کتاب او رسول لپاره، د مسلمانانو د امامانو لپاره او د ټولو مسلمانانو لپاره.

د حديث شريف حکمت:

له الله تعالى سره اخلاص، د خلکو له پاره خير غوښتنه، د الله تعالى د خوښې د پاره حاکمانو او عامو مسلمانانو ته نېکې مشورې ورکول ډېر ارزښناک کار دی، چې د ټولنې د پرمختګ او له ډېرو ستونزو څخه د بريالیتوب لامل کېږي.

په همدې اساس نبي کريم صلى الله عليه وسلم پدې حديث شريف کې دين له خير غوښتنې سره يو ځای کړی او فرمايلي يې دي: دين خير غوښتنه ده.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: یوبل ته د نصیحت د نه کولو زیانونه په فردي او یا ګروپي ډول بیان کړئ.

د حدیث شریف ګټې:

۱. **انسان باید له الله تعالی سره اخلاص ولري:** یعنې د الله تعالی په ذات او صفاتو ایمان ولري، له هغه سره څوک شریک نه کړي، په اوامرو یې عمل وکړي او له نواهیو څخه یې ځان وساتي.

۲. **د الله تعالی له کتاب سره باید اخلاص ولرو:** د الله تعالی په کتاب چې قرآن کریم دی ایمان ولرو، او د هغې په لارښوونو عمل وکړو.

۳. **د الله پیغمبر سره باید اخلاص ولرو:** د الله تعالی پر پیغمبر چې حضرت محمد (ص) دی باید ایمان ولرو او د هغه په لارښوونو عمل وکړو.

۴. **د مسلمانانو د پیشوایانو له پاره خیر غوښتوونکي و اوسو:** پداسې ډول چې له هغوي سره د کارونو په سرته رسولو کې مرسته وکړو او د نېکو مشورو، ښو نظرونو، د لارښوونې او توفیق په غوښتلو سره دوي د آخرت او دنیا ښېګڼو ته وهڅوو.

۵. **د عامو مسلمانانو په حق کې د خیر غوښتل:** دوي نېکو کارونو ته دعوت کړو، په دنیوي او اخروي ګټورو کارونو کې ورسره مرسته او تعاون وکړو.

ارزونه:

۱. د لاندې حدیث شریف عبارت تکمیل او پوره کړئ:

✓ الدین.....قلنا لمن؟ قال لله و لکتابه و لرسوله و .....المسلمین و عامتهم.

۲. د پورتني حدیث شریف معنا واضح کړئ.

۳. د پورتني حدیث شریف حکمت واضح کړئ.

کورنۍ دنده:

۱. د لوست حدیث شریف حفظ کړئ.

۲. د خلکو په منځ کې د نصیحت (خیر غوښتنې) د فکر د خپرېدو د ارزښت په اړه یوه مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

څلورم لوست

د اړيکو پرېکول

عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « لاَ يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثِ لَيَالٍ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا وَخَيْرُهُمَا الَّذِى يَبْدَأُ بِالسَّلاَمِ ». متفق عليه.

د راوي پيژندنه:

نوم يې خالد بن يزيد انصاري (خزرجي) دی د بنو نجار له قبيلې سره تړاو لـــري. د اصـــحابو کرامو په منځ کې په ابو ايوب انصاري مشهور و، د عقبې د دويم بيعت پر مهال يې د رســـول الله صلى الله عليه وسلم سره بيعت وکړ او له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره يې په ټولـــو غزواتو کې ګډون درلود، ابو ايوب انصاري د حضرت علي رضى الله عنه سره ناســـته ولاړه درلوده او د مجلس ملګری يې و او د هجرت په پنځلسم کال د قسطنطنيې ښار ته نژدې وفات او خاورو ته وسپارل شو.

د کلمو معنا:

١. لاَ يَحِلُّ: روا نه ده.
٢. أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ: دا چې د خپل ورور سره اړيکې پرېکړي.
٣. فَوْقَ ثَلاَثِ: زيات له درې (ورځو).
٤. يَلْتَقِيَانِ: د يو بل سره مخامخ کيږي.
٥. يُعْرِضُ هَذَا: مخ اړوي دی له هغه څخه.

د حديث شريف معنا:

له ابو ايوب انصاري رضى الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:
((هيڅ مسلمان ته روا نه ده چې د خپل مسلمان ورور سره له درې ورځو څخه زياتـــه مـــوده اړيکـــې پرېکړي، چې کله سره مخامخ شي، نو يو له بل څخه مخ واړوي، خو په دوی کې غوره کس هغـــه دی چې په بل ړومبی سلام واچوي)).

د حديث شريف حکمت:

اسلام د يووالي، ټولنيزو اړيکو د ټينګښت، اجتماعي ژوند، بسپنې، سرښندنې او ورورګلـــوی دين دی، داسې ستونزه نشته چې د اسلام په مقدس او سپيڅلي دين کې د هغې لپاره حـــل نـــه

ketabton.com - The Digital Library

وي، د يو بل څخه په مخ اړولو او د اړيکو په پرې کولو او يو بل ته د سلام په نه اچولو سره ستونزې نه هواريږي او کله داسې هم کيږي چې دا کار د ډېرو نورو ستونزو د زياتيدو لامل وګرځي، نو په دې مبارک حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مسلمانانو ترمنځ د اړيکو د پرېکولو څخه سخت ممانعت کړی دی او له درې ورځو څخه زيات يې پر هغې تينګار او هميشه والی له شريعت څخه سرغړونه بللې ده.

د حديث شريف ګټې:

۱. **د نورو سره د اړيکو د پريکولو حرمت:** د هيڅ مسلمان لپاره جايز نه ده چې د شخصي او دنيوي ګټو په خاطر د خپل مسلمان ورور سره اړيکې پرېکړي، ځکه دغه کار د تکبر او غرور نښه ده او که چيرې دغه کار ته ادامه ورکړل شي، نو په دښمنۍ او نفرت بدليږي او هغه کسان چې په يو ځای کې سره ژوند تيروي له يو بل څخه لرې کوي او په زړونو کې يې کينه راپاروي.

۲. **لږ تر لږه درې ورځو کې د اړيکو راژوندي کول:** کله چې کوم سړی له خپل مسلمان ورور څخه خفه شي، نو لازمه ده چې د درې ورځو په ترڅ کې دې سوچ او فکر وکړي او خپلو خطاګانو او تيروتنو ته دې متوجه شي، د پوهې او علم خاوندانو سره دې مشوره وکړي او خپلې تيروتنې دې هغوی ته څرګندې کړي او د هغوی څخه دې د ستونزو د حل غوښتنه وکړي، که چيرې مصلحينو دا درک کړه چې ملامتي په مقابل لوري کې ده بيا دې هم له ده څخه غوښتنه وکړي تر څو له مقابل لوري سره اړيکه ونيسي او د دوی ترمنځ دې جوړ جاړی وشي.

۳. **هر څوک چې په پخلاينې پيل وکړي هغه غوره دی:** ډېر خلک داسې فکر کوي چې که چرې دښمنۍ ته دوام ورکړي او په مقابل لوري شرطونه ومني، نو دې غيرتمند بلل کيږي، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم غوره او غيرتمند هغه څوک بللی دی چې په پخلاينې او سلام اچونه کې پر بل لومړيتوب وکړي.

۴. **پر مسلمانانو لازمه ده چې سوله رامنځته کړي:** کله داسې کيږي چې ښکېلې خواوې دواړه د غچ او بدلې اخيستلو په قهر او غوسه کې راګيرې وي او هره شيبه مقابل لوري ته د سختو مجازاتو د ورکولو پلانونه جوړوي او لازم تدبيرونه نيسي او د اسلام د سپيڅلي دين د لارښوونو او ارشاداتو څخه بې خبره وي او يا هم هغو لارښوونو ته کوم

ketabton.com - The Digital Library

ارزښت نه ورکوي، نو په داسې حال کې پرمسلمانانو فرض ده، ترڅو د خپلې وسعې او توان په اندازه د ښکیلو خواوو تر منځ په پخلاینه کې برخه واخلي او په دې لار کې هر ډول سستي او تقصیر د لویو ګناهونو د ارتکاب سبب ګرځي، ځکه چې الله تعالی فرمایي: ژباړه: ((که د مسلمانانو دوه ډلې یو له بل سره په جګړه کې ښکېلې وي، نو ترمنځ یې سوله وکړئ او سره پخلا یې کړئ)).[1]

فعالیت:

زده کوونکي دې د اړیکو د پرېکولو په اړه په ځانګړیز او یا ګروپي بڼه څرګندونې وکړي.

ارزونه:

۱. پورتنی حدیث معنا کړئ.
۲. د لاندې حدیث شریف عبارت تکمیل کړئ: لایحل لمسلم ..... اخاه فوق ثلاث لیال، یلتقیان فیعرض د هذا و یعرض هذا و ..... الذی یبدأ بالسلام.
۳. د حدیث شریف ګټې په لنډ ډول بیان کړئ.
۴. د حدیث حکمت وواياست.

کورنۍ دنده:

۱. د حدیث دا عبارت یاد کړئ (لایحل لمسلم ان یهجر اخاه فوق ثلاث لیال).
۲. د اړیکو د پرېکولو د اضرارو په هکله یوه لنډه مقاله ولیکئ.

۱ - ((وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا)) د الحجرات سورت، ۹ آیت.

ketabton.com - The Digital Library

پنځم لوست

دوه مخي

عن أبی هريرة قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم «تَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ يومَ القِيامَهِ ذَاالوَجهَينِ الَّذِی يأتِی هَؤُلَاءِ بِوَجهٍ وَ هَؤُلَاءِ بِوَجهٍ» متفق عليه

د راوي پيژندنه:

نومورې عاليقدر راوي په لومړني لوست کې معرفي شوی دی.

د کلمو معنا:

۱.	تَجِدُونَ:	تاسو مومی.
۲.	ذَاالوَجهَين:	دوه مخي.
۳.	يأتِی:	راځي
۴.	هَؤُلَاءِ:	دوی
۵.	وَجهٍ:	مخ

د حديث شريف معنا:

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل:((تاسو به د قيامت په ورځ د ټولو خلکو بد کس هغه څوک ومومئ چې د خلکو ترمنځ دوه مخي کوي، يعنې ځينو ته په يو مخ او ځينې نورو ته په بل مخ ځرګندېږي چې دې خلکو ته يو څه او هغو نورو ته بل څه وايي، (تر څو يې تر منځ نيکې او دوستانه اړيکې خرابې کړي)

د حديث شريف حکمت:

دوه مخيتوب د انسان اخلاقي او تربيوي نيمګړتيا ځرګندوي، د افرادو او ډلو ترمنځ اړيکې زيانمنې کوي او د هغوی ترمنځ د کرکې او دښمنيو لامل ګرځي چې وروسته بيا په جګړو او وينو تويولو بدليږي، دغه ډول کار يو ډول نفاق او غولونه ده ، بناءً پيغمبر صلی الله عليه وسلم مسلمانان ور څخه په کلکه منعه کړي دي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: د دوه مخی ضررونه په ځانګړیزه او یا ګروپي بڼه بیان کړئ.

د حدیث شریف ګټې:

۱. **د قیامت په ورځ به تر ټولو بد کس دوه مخی کس وي:** دوه مخي یوه ډېره بده کړنه ده چې د الله ﷻ په نزد ډېره لویه ګناه ده، خو ځینې خلک دوه مخي یو لوی هنر ګڼي او په هغې ویاړي، خو دوی په حقیقت کې په یوې لوېې ګناه اخته کېږي، نو په دې حدیث شریف کې دوه مخي انسان ډېر بد انسان ګڼل شوی دی.

۲. **دوه مخي او دوه رنګي یو ډول نفاق او دوکه ده،:** دا ځکه دوه مخي انسان د دې پر ځای چې د دوو خفوو مسلمانانو او یا ډلو ترمنځ د روغې جوړې هڅه وکړي، دا کوښښ کوي، ترڅو د هغوی ترمنځ تاوتریخوالی او نفرت زیات کړي، دوه مخي انسان کله چې کومې ډلې ته ورشي د هغې تایید کوي او هغه سل پر سلو په سمه او مقابل لوري یې سل پر سلو په ناروا بولي، ترڅو په دې توګه خپله ګټه په دواړو خواوو کې خوندي وساتي او له بلې خوا دواړو ډلې سره نورې هم په دښمنۍ کې رابښکېل کړي.

۳. **مسلمان باید د دې جرئت ولري، ترڅو ګنهګار ته د هغه ګناه ور په ګوته کړي:** مسلمان باید دواړو ناراضو ډلو ته د هغوی خطاګانې ور په ګوته ګړي، البته د حق دا وینا باید په ډېر حکمت او نرمۍ سره دواړو خواوو ته وویل شي او هغوی باید په دې پوه شي چې د دوی حقیقي او واقعي دوست هغه څوک دی چې دوی ته د دوی خطاګانې خرګندوي او نېکې مشورې ورکوي.

۴. **د مداحو او غوړه مالو خلکو څخه ځان ژغورل:** ځکه ډېر ځل داسې هم کېدای شي چې مداحان او غوړه مالان د خپلو ګټو په خاطر له ریښتیا ویلو ډډه وکړي، خصوصاً هغه وخت چې د حق وینا د دوی د دوستانو د خفګان لامل ګرځي.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

۱. د لاندې حديث عبارت تکميل کړئ:

..... شَرَّ النَّاسِ يومَ القِيامَهِ ..... يأتِى هَؤُلاءِ ..... وَ هَؤُلاءِ بوَجهٍ.

۲. د حديث عبارت ولولئ او مفهوم يې څرګند کړئ.

۳. د حديث حکمت بيان کړئ.

۴. د حديث ګټې څرګندې کړئ.

کورنۍ دنده:

۱. لاندې عبارتونه له معنا سره په يادو زده کړي:

«تَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ يومَ القِيامَهِ ذَاالوَجهَينِ الَّذِى يأتِى هَؤُلاءِ بوَجهٍ وَ هَؤُلاءِ بوَجهٍ»

۲. د دوه مخي تر عنوان لاندې لنډه مقاله وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

شپږم لوست

تقوا او پرهيزګاري

عن معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنهما عن رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم قال: ((اِتَّــقِ اللهَ حَيثُمَا كُنتَ ، وَ أَتبِعِ السَّيئةَ الحَسَنَةَ تَمحُهَا)) رواه الترمذي

د راوي پيژندنه:

معاذ بن جبل د انصارو د خزرج له قبيلي څخه ؤ ، په ځوانۍ کې په اسلام مشرف شــوی و، او له پيغمبر صلی الله علیه وسلم سره د بيعت په مهال په عقبې کې هم موجــود و ، د حفــاظو ، فقيهو او مجتهديونو صحابوو څخه ګڼل کيږي ، په ټولو غزاګانو کې يې ګــډون ګــړی دی ، پيغمبر صلی الله علیه وسلم يمن ته د قاضي په حيث وليږه ، او د هجرت په اتلسم کال په اردن کې وفات شو .

د کلمو معنا:

۱. اِتَّقِ الله:	له الله څخه وويريږه .
۲. حَيثُمَا كُنتَ:	په هر ځاې او هر حالت کې چې يې .
۳. أَتبِعِ السَّيئةَ الحَسَنَةَ:	د بدۍ پسې نيکي وکړه .
۴. تَمحُهَا:	پاکوي يې (نيکې بدي پاکوي او له مينځه يې وړي).

د حديث شريف معنا:

له معاذ بن جبل رضي الله عنه څخه روايت دی چې : پيغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي : په هر ځاې او هرحالت کې چې وی له الله جل جلاله څخه وويريږه ، او که چيــرې درڅخــه کومه ګناه صادره شوه ، نو حتماً ورپسې نيک کار وکړه ، ځکه چې نيکي بدي له مينځه وړي .

د حديث شريف حکمت:

انسان په هغه وخت کې د ګناه مرتکب کيږي کله چې الله جل جلاله هېر کړي، غصه او عذاب يې له پامــه وغورځوي ، او يا دا چې ګناه نه پيژني ، نو کله چې انسان د الله تعالی په يادولو او د هغه په عبادت ځــان عادت کړي، او له هغه څخه دوامداره ويره يې په سترګو کې وي، او په دې پوه شي کوم کار چې کــوي يې ګناه ده ، په دې صورت کې به هيڅکله انسان د ګناه مرتکب نه شي . په دې حديث کې پيغمبر صلی

ketabton.com - The Digital Library

الله علیه وسلم د انسانانو پام دې ته را اړوي تر څو له الله جل جلاله څخه وویریږي ، ځکه چې له الله جـــل جلاله څخه ویره د فرد او ټولنې په اصلاح کې رغنده رول لري .

فعالیت:د دوو کسانو کړنې چې یو یې له الله جل جلاله څخه ویریږي او بل نه ویریږي په ډله یزه توګه مقایسه کړئ.

د حدیث شریف ګټې:

۱. **پرهیزګاري:** له الله جل جلاله څخه په هر ځای کې وېرېدل، دا احساس د انسان وجدان ویښ ساتي او په وجود کې یې د یو داخلي څارونکي په حیث دنده تر سره کـــوي . لـــه خیانت، د نورو پر حقوقو له تیري کولو او بل هر بد عمل څخه یې ژغوري .

۲. **له بد عمل څخه وروسته د نیک عمل تر سره کول:** انسان باید د الله جل جلاله لـــه رحمت څخه نا هیلې نه شي، کله چې ورځخه د بیلا بیلو لاملونو په وجه کومه ګناه صادره شي ، نو له ګناه څخه دې توبه وباسي او نیک کار دې وکړي ، ځکه الله جـــل جلالـــه د خپلې مهربانۍ له مخې د نیک کار په سرته رسولو سره ګناه له مینځه وړي.

خو که چیرې انسان د نورو په حقوقو تیری کړی وي ، لازمه ده چې هر چا ته خپل حـــق ور کړي ، او توبه وباسي، تر څو الله جل جلاله ورته بخښنه وکړي .

ارزونه:

۱. **لاندې نیمګړې جملې پوره کړئ:**

اِتَّقِ اللهَ حَیثُمَا..... وَ أَتبِعِ ..... الحَسَنَةَ .....

۲. **د لوست د حدیث مفهوم ذکر کړئ.**

۳. **د لاندې کلماتو معنا وواياست.**

اِتَّقِ اللهَ　　حَیثُمَا کُنتَ　　السَّیئَةَ　　تَمحُهَا

۴. **هغه ګټې چې د لوست حدیث ورته لاربښوونه کوي ذکر کړئ.**

کورنۍ دنده:

۱. **د لوست حدیث حفظ کړئ.**

۲. **د حد یث حکمت په خپلو کتابچو کې ولیکئ.**

ketabton.com - The Digital Library

اووم لوست

تواضع (عاجزي کول)

عن عمر رضی الله عنه قال: إنّی سَمِعتُ رَسُولَ الله صلی الله علیه و سلم یَقُولُ: «مَن تَوَاضَعَ لِلّـهِ رَفَعَهُ اللهُ» رواه البیهقی فی شعب الإیمان.

د راوي پيژندنه:

دغه ستر صحابي امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خطاب ځوي او د مسلمانانو دويم خليفه ؤ ، د نوموړي په اسلام راوړلو سره مسلمانان په مکه مکرمه کې خورا قوي شول، په ټولو غزاګانو کې يې ګډون درلوده، د هجرت په ديارلسم کال د مسلمانانو خليفه وټاکل شو ، د هجري سنې بنسټ يې کيښود ، او د خلافت په دوران کې يې د عراق شام او مصر اوسيدونکي په اسلام مشرف شول ، د عدالت په پلي کولو کې يې شهرت درلوده ، نوموړی د هجرت په درويشتم کال د دري شپيتو کالو په عمر په مدينه منوره کې د يو مجوسي غلام له خوا چې ابولؤلؤ نوميده په شهادت ورسيده ، او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د قبرتر څنګ د ابوبکر الصديق رضي الله عنه په خوا کې دفن کړاې شو .

د کلمو معنا:

۱. مَن تَوَاضَعَ لِلّه: چا چې د الله جل جلاله لپاره عاجزي وکړه .
۲. رَفَعَهُ اللهُ: الله جل جلاله به يې مقام او منزلت اوچت کړي .

د حديث شريف معنا:

له حضرت عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې ويلي يې دي : له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه مې واوريدل چې ويل يې : ((چا چې د الله تعالی د رضا لاس ته راوړلو په مقصد عاجزي وکړه ، نو الله جل جلاله به يې مقام او درجې اوچتې کړي)) .

د حديث شريف حکمت:

لويې او تکبر انسان د نورو په وړاندې خورا وړوکی کوي، ولی د دې پر خلاف عاجزي کول انسان د نورو په زړونو کې لويوي او خلک ورته په درنه سترګه ګوري، متواضع انسان د همیش لپاره کوښښ کوي چې خپلې ټولنې ته خدمت وکړي او نه غواړي چې څوک يې وپيژني ، نه غواړي چې د حقوقو او امتيازاتو په حاصلولو په نورو برتری ولري ، د خداي جل جلاله د رضا د حاصلو لپاره د ټولنې تر ټولو وګړو څخه کم بولي ، شپه او ورځ پدې فکر کې وي چې

ketabton.com - The Digital Library

څرنګه د خلکو خدمت وکړي، په دې حدیث کې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د پورته صفاتو لرونکو اشخاصو سره وعده کوي چې : الله جل جلاله به دوې ته د دوې بدله ورکړي ، مرتبې به یې اوچتې او عزت به یې زیات کړي.

فعالیت: په ډله ییزه توګه د تواضع (عاجزۍ) ګټې ، او د تکبر(لویې) تاوانونه ذکر کړئ.

د حدیث شریف ګټې:

۱. **عاجزي باید د الله جل جلاله لپاره وي:** انسان باید په هیڅ صورت کې ځان په نورو پورته و نه ګڼي ، او د کبر (لویی) او د نورو له سپک ګڼلو څخه ځان وساتي ، او کوښښ دې وکړي چې کومې نیکۍ یې د خلکو سره کړي یادونه یې خلکو ته و نه کړي، خپل نیک کارونه الله جل جلاله ته وسپاري، په یقیني توګه چې الله جلاله به یې بدله په دواړو جهانو کې ورکړي.

۲. **الله جل جلاله د متواضع انسان مرتبه اوچتوي:** کله چې انسان د الله لپاره تواضع و کړي ، نو عادل ذات خپل بنده هیڅکله ذلت ته نه پریږدي ، بلکې الله جل جلاله هغه ته عزت ورکوي او مرتبه یې لوړوي ، هغه ته د خپلو نیکانو بندګانو په زړونو کې ځای پیدا کوي ، او د الله تعالی سره یې هم مرتبه اوچتیږي .

ارزونه:

۱. لاندې نمیګړي عبارتونه پوره کړئ:
من .....الله رفعه الله.

۲. د لوست حدیث معنا کړئ.

۳. د لوست له حدیث څخه چې کومې ګټې په لاس رائي، بیان یې کړئ.

۴. د حدیث حکمت بیان کړئ.

کورنۍ دنده:

۱. د لوست حدیث د معنا سره حفظ کړئ.

۲. د لوست حدیث د خپلې کورنۍ غړو ته ووایاست.

ketabton.com - The Digital Library

کفالت

د کفالت تعریف:

کفالت په لغت کې: یو څای کېدو ته وایي.

او د فقهاوو په اصطلاح کې: په یو چا د لازم (ثابت) مال او یا د هغه د ځان ضمانت کول په داسې توګه چې غوښتونکی یې د اصیل او کفیل دواړو څخه غوښتلای شي کفا لت بلل کېږي.

لنډه دا چې پور د کفیل په غاړه نه ثابتېږي او د اصیل له غاړې څخه نه ساقطېږي.

لکه زید احمد ته پور او یا ورسره څه شی امانت ږدي، مګر زید په احمد اعتبار نه لري، محمود زید ته وایي: زه د احمد ضامن یم که چېرې له هغه څخه ورک شي زه یې حاضروم، زمـــا پـــه اعتماد له ده سره معامله وکړه، دا معامله کفالت بلل کېږي، چې پدې اساس په کفالت کې پور د کفیل په غاړه ثابت نشو او همدارنګه د مدیون له ذمې څخه ساقط نشو.

د کفالت د روا والي دلیل:

د ضمانت روا والی په قرآن کریم، احادیثو او اجماع باندې ثابت دی.

لومړی: قرآن کریم:

الله تعالی فرمایي: ﴿وَلِمَنۡ جَآءَ بِهِۦ حِمۡلُ بَعِيرٖ وَأَنَا۠ بِهِۦ زَعِيمٞ﴾ (سورۀ یوسف، ۷۲ آیت)

ژباړه: او هغه چا ته د یو اوښ بار به په جایزه کې ورکول کېږي چې (د یوسف علیه السلام) ورکه شوې پیمانه راوړي، او زه یې ضامن یم.

په دې آیت کریمه کې (زَعِيمٞ) د کفیل په معنا دی.

دویم: سنت:

نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایي: « الزَّعِيمُ غَارِمٌ »[1]

ژباړه: ضمانت کوونکی به تاوان ګالي.

([1]) ترمذي، ۲/ ۲۹۵

ketabton.com - The Digital Library

دريم: اجماع:

ټولو مسلمانانو د کفالت په روا والي باندې له دې امله اجماع کړې ده چې خلک ورته اړتيا لري.

فعاليت:زده کوونکي دې د خپل چاپېريال څخه داسې يو مثال راوړي چې د چا د مال او يا ځان ضمانت يې کړی وي.

د ضمانت د روا والي حکمت:

د حقوقو دساتنې، د وګړو ترمنځ مرسته، پورونو او داسې نورو مالي معاملاتو کې آسانتيا، او ددې لپاره چې د حق خاوند په خپل پور، او چاته د څه په ورکولوکې ډاډمن اوسي، او همدارنګه د خلکو څخه ستونزې دفع او له منځه ولاړې شي تر څو په خپل منځ کې په ډاډه زړه يو د بل سره معاملې وکړي، دا هغه ټول مطالب دي چې د ضمانت دروا والي د حکمت له جملې څخه شميرل کيږي.

د کفالې رکن:

د کفالې رکن ايجاب او قبول دی. (۱)

البته ايجاب د کفيل له لوری او قبول د پور د خاوند له لوری.

د کفالت ډولونه:

کفالت په دوه ډوله دی:

۱. د يو چا د ځان ضمانت کول چې دې ته کفاله بالنفس وايي.

۲. د يو چا د مال ضمانت کول چې کفالت بالمال بلل کيږي.

د کفالت اړوند ځينې اصطلاحات:

کفيل: هغه څوک دی چې د بل چا د مال او يا ځان ضامن کيږي.

مکفول عنه: اصلي پورورې چې د اصيل په نامه هم يادېږي.

مکفول له: د حق خاوند.

د کفالې محل: د کفالې محل به يا نفس وي او يا مال.

---

(۱) فتح القدير/۵/ ۳۹۰- الدر المختار ۴/ ۲۶۰

ketabton.com - The Digital Library

د کفالې شرطونه:

کفالت ځانګړي شرطونه لري چې صیغې، کفیل، اصیل، مکفول له او مکفول به پورې اړه لري او په لاندې ډول بیانېږي:

د صیغې شرطونه:

۱. کفالت باید په داسې صیغه یا لفظ وي چې په التزام دلالت کوي، مثلاً ووایي:
زه ستا د هغه پور ضامن یم چې فلاني کس درځخه اخیستې دی.
او یا: زه د فلاني شخص ضامن یم.

۲. د کفالت لفظ باید په غیر متعارف شرط پورې تړلی نه وي، مثلاً د چا په راتګ پورې یې وتړي.

۳. د کفالت لفظ باید وخت پورې ونه تړل شي، دا که د مال کفالت وي اود یانفس، ځکه چې د کفالت څخه مقصد ورکړه او یا حاضرول دي، کله چې وخت پکې رامنځ ته شي بیا دا مقصد نه ترسره کېږي.

د کفیل شرطونه:

۱. کفیل باید د تبرع (ورکړې او بخښلو) اهلیت ولري یعنې عاقل او بالغ وي، د لېونې او ماشوم کفالت صحیح نه دی.

۲. کفیل به آزاد شخص وي نو د غلام (مرئي) کفالت صحیح نه دی، ځکه چې دا یو خدایي کار دی، حال دا چې مرئی ددې اهل نه دی.

د اصیل یا مدیون شرطونه:

۱. اصیل باید د مکفول به په تسلیمولو قادر وي، که پخپله وي او یا د کوم نائب په واسطه.

۲. اصیل باید کفیل ته معلوم وي.

د مکفول له شرطونه:

۱. مکفول له (د قرض خاوند) باید معلوم وي.

۲. مکفول له باید عاقل وي.

۳. مکفول له به د عقد په مجلس کې حاضر وي. (۱)

---

(۱) فتح القدیر، ج ۵، ص ۳۹۰، بدایع الصنایع ٦/ ۲

ketabton.com - The Digital Library

د مکفول به شرطونه:

۱. د مکفول به یا ضمانت شوی شی تاوان به اصیل (مدیون) ګالي.

۲. مکفول به باید له هغه شیانو څخه وي چې ورکړه یې د کفیل له لوری امکان ولري، څو عقد ګټور واقع شي.

۳. د ضمانت شوي مال پور به لازم او صحیح وي.

فعالیت: زده کوونکي دې په خپل منځ کې کفیل، مکفول به، مکفول له او مکفول عنه په داسې مثالونو روښانه کړي چې یو یو کس په دې نومونو ونوموي.

د کفالې احکام:

۱. داین به د کفیل څخه د هغه څه مطالبه کوي چې په اصیل باندې یې لري.

۲. کفیل به د اصیل څخه هغه څه غواړي چې د څه شي ضمانت یې کړې دی.

ارزونه:

لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

کفالت لغتاً او اصطلاحاً تعریف کړئ.

دکفالې رکن ووایاست.

کفالت په څو ډوله دی؟ بیان یې کړئ.

دکفالې اړوند اصطلاحا ت تعریف کړئ.

لاندې خالی ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. هغه کس چې له هغه څخه د مال ورکولو اویا دشخص حاضرولو غوښتنه کیږي د..... په نوم یادیږي.

۲. مکفول عنه ته..... هم ویل کیږي.

کورنۍ دنده:

د خپل ټولګي د ملګرو په نومونواخیستو سره د کفالت بالمال او کفالت بالنفس صورتونه ولیکئ، او هر کس ته د کفالت په اصطلاح کې نوم ورکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

نهم لوست

د کفالې پای

په تېر درس کې مو ولوستل چې کفالت په دوه ډوله دی، یو ته کفالت بالمال او بل ته کفالت بالنفس وایي، پدې لوست کې غواړو چې هغه کارونه وپیژنو چې کفاله پرې پای مومي.

(۱) کفالت بالمال په یو د دوو لارو سر ته رسېږي:

۱. د مال ورکول غوښتونکي ته، او یا هغه څه کول چې د ورکړې په معنا وي، برابره ده که دا ورکړه د کفیل لخوا وي، اویا د پوروړی لخوا وي.

۲. ابراء او یا صلح کول، نو کله چې غوښتونکی پوروړي یا کفیل ته ابراء وکړي او یا ورسره په یوه اندازه مال روغه وکړي، کفالت پاې ته رسېږي.

(۲) کفالت بالنفس په لاندې شیانو سره پای مومي:

۱. د سړي سپارل غوښتونکي ته په هغه ځای کې چې د قاضي مجلس ته یې حاضرولې شي.

۲. ابراء: کله چې د حق خاوند کفیل ته ابراء وکړي نو کفالت بالنفس پای ته رسېږي.

۳. کله چې په خپله مکفول عنه مړ شي کفالت بالنفس پای ته رسېږي.

فعالیت: څو تنه زده کوونکي دې په انفرادي توګه د کفالې د یو یو شرط د حکمت په اړه خپلو ملګرو ته معلومات ورکړي.

په اصیل باندې د کفیل درجوع شرطونه:

۱. کفالت باید د مکفول عنه په اجازه سره شوی وي، که داسې نه وي، بیا کفیل ورکړې شی د پوروړي څخه نه شي غوښتلای، ځکه چې په دې صورت کې د کفیل ورکړه خیرات شمېرل کېږي.

۲. کفالت باید په صحیحې اجازې سره تر سره شوی وي، نو د هغه ماشوم اجازه د اعتبار وړ نه ده چې په ده باندې بندیزونه ایښودل شوي وي.

۳. د ضمانت نسبت به اصیل ته کېږي، لکه چې کفیل ته ووایي: زما څخه ضامن شه تر څو د قرض ورکولو معنا پکې رښتینې شي، نو کله چې مدیون د ضمانت نسبت ځان ته ونه کړي، بیا د کفیل او اصیل ترمنځ هېڅ علاقه نه پاتې کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

مسئله:

- که چېرې دوه تنه د يو سړي د زرو افغانيو ضمانت وکړي، په داسې حال کې چې دوی دواړه يو د بل تضمين ونه کړي، بيا د دواړو ضامنانو څخه يو تن خپله حصه پور ادا کړي، نو د هغه څه چې ده ورکړي دي، د خپل ملګري څخه هېڅ غوښتنه نه شي کولای ځکه چې ده هغه د خپل لوری څخه ورکړي نه د ملګري له لوری څخه، خو د اصيل (مديون) څخه يې غوښتلای شي، ځکه چې د همده په امر ضامن شوی دی.
- وړاندې له دې چې ضامن منل شوی مال نه وي ورکړی د مديون څخه يې نه شي غوښتلی، نو هر کله چې کفيل منل شوی شی داين ته ورکړ بيا يې د پور وړي څخه غوښتلای شي.

په اوسني عصر کې په کفالت باندې د اجورې اخيستلو حکم:

دا غوره ده چې د کفالت عقد پرته له کومې اجورې ترسره شي، بيا هم که چېرې پوروړي څه اندازه مال د خيرات، هديې او بخشش په نامه خپل کفيل ته ورکړي ګناه نه لري، ځکه چې دا دده د هغه ښېګڼې په لړ کې ده، چې ضامن دده سره کړې ده.

- که چېرې کفيل اجوره شرط کړي څه حکم لري؟

ځواب: د ضرورت او ټولنيز حاجت لپاره په کفالت باندې اجوره اخيستل روا ده، ددې لپاره چې د خلکو مصالحو يا ښېګڼو کې ځنډ رانه شي، لکه بهر ته د مزدوری، يا درس لپاره تګ.

د اوسني عصر د مهمو تجارتي کفالتونو ډولونه:

۱. د درک ضامن کېدل:

هغه دا چې پلورونکي ته د پيسو ضمانت ورکړي او مشتري يا اخيستونکي ته د مبيعې تضمين ورکړي.

۲. د بازار ضمانت کېدل:

دا چې د بازار د تاجر د ټولو پورونو ضمانت وکړي، يعنې تاجر چې څه شيان په بازار کې رانيسي د هغو د پيسو تضمين په غاړه واخلي.

۳. د وزن، ګز او پيمانې ضامن کېدل:

دا چې دا تاجر يا دوکاندار چې د وزن، ګز او پيمانې په هکله څه وايي صحيح دي د غلطۍ اودرغلۍ يې زه ضامن يم.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

أ. لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. په کومو حالاتو کې کفالت بالمال او کفالت بالنفس پای مومي؟

۲. ایا کفیل د اصیل څخه غوښتنه کولای شي؟ ددې مسئلې شرطونه په لنډ ډول بیان کړئ.

۳. داوسنۍ زمانې د تجارت اړوند مهم ډولونه دکفالت ووایاست.

ب. لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. کفالت باید په امر اواجازې د..... سرته ورسیږي.

۲. د بازار ضمانت او تعهد عبارت دی له .....

کورنۍ دنده:

دلوست مهم ټکي په خپله ژبه په پنځو کرښو کې ولیکئ

ketabton.com - The Digital Library

لسم لوست

حواله

زبير په بلال پنځوس زره افغانۍ پورلري، بلال احمد ته وايي: پنځوس زره افغانۍ زبير ته زما لـــه درکه ورکړه، احمد وايي سمه ده. دې کار ته د فقهې په اصطلاح کې حواله ويل کېږي.
دا عمل په څلورو عناصرو مشتمل دی چې د فقهې په علم کې هر يو خپل نوم لري.
بلال ته محيل، زبير ته محال، احمد ته محال عليه او پور ته محال به وايي.

د حوالې تعريف:

حواله په لغت کې: نقلولو ته وايي.
اود فقهاوو په اصطلاح کې: د مديون له غاړې څخه د ذمې اخيستونکي غاړې ته د غوښـــتنې نقلولو ته حواله وايي.
دا د کفالې پر خلاف ده، ځکه په کفاله کې غوښتونکی په اصيل او کفيل دواړو حق لري او په هر يو چې برلاسی شي، خپل حق ورڅخه غوښتلی شي، مگر په حواله کې د محيل لـــه غـــاړې څخه حق ساقطېږي. [1]

د حوالې د روا والي دليل:

د پور حواله د نبي اکرم صلی الله عليه وسلم په احاديثو او اجماع باندې روا شوی ده.
۱. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: (مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ وَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيءٍ فَلْيَتْبَعْ) [2]
ژباړه: غني چې د پور ورکولو توان ولري د پور ځنډول يې ظلم دی، هر کله چې څـــوک غني ته حواله کړی شو، حواله دې ومني.
۲. مسلمانانو د حوالې په جواز باندې اجماع کړې ده. [3]

---

(۱) فتح القدير د عنايې سره، ۵/ ۲۴۳، الدر المختار: ۴/ ۳۰۰
(۲) نصب الدراية، ۴/ ۵۹
(۳) فتح القدير، ۵/ ۴۴۴

ketabton.com - The Digital Library

د حوالې حکم:

حواله په پورونو کې روا ده، خو په اعيانو کې جواز نه لري، ځکه چې دا د نقل او اړولو په معنا ده، حال دا چې دا کارونه په پورونو کې راتلای شي نه په اعيانو کې، ځکه اعيان مشخص وي او کوم عين چې له يوه سره وي هغه له بل سره نه وي، نو ځوک نه شي کولی چې هغه عـــين حقدار ته ورکړي چې په بل لازم دی.

فعاليت: څو تنه زده کوونکي دې دحوالې مختلف موارد تمثيل کړي.

د حوالې اړوند ځينې اصطلاحات:

۱. **مُحيِل:** هغه کس ته ويل کيږي چې پور ورباندې وي .

۲. **مُحَال:** هغه کس ته وايي چې د حق خاوند وي.

۳. **مُحَال عَلَيه:** هغه شخص دی چې دبل پور ورکړه يې په ځان منلې وي.

۴. **مُحَال بِه:** هغه پور ته ويل کيږي چې بل کس ته حواله شوی وي.

د حوالې رکن:

په ځانګړو الفاظو سره ايجاب او قبول د حوالې رکن دی. [۱] ايجاب د حواله کوونکي له خوا او قبول د حواله اخيستونکي او حواله شوي له خوا.

د حوالې شرطونه:

الف: د صيغې (ايجاب او قبول) شرطونه:

۱. ايجاب او قبول بايد په يو مجلس کې وي.

۲. عقد بايد قطعي وي هېڅ ډول خيار به پکې شرط شوی نه وي.

ب: د محيل يا حواله کوونکي شرطونه:

۱. حواله کوونکی بايد عاقل او بالغ وي.

۲. حواله کوونکی به په خوښی سره حواله ترسره کوي، په زور سره حواله صحيح نه ده.

ج: د محال يا د حق خاوند شرطونه:

۱. محال يا د حق خاوند به عاقل او بالغ وي.

---

(۱) الدر المختار، ۴/ ۳۰۱ او وروسته پاڼه

ketabton.com - The Digital Library

۲. محال علیه یا حواله شوی شخص به په حواله خوښ او راضي وي.

۳. حواله شوی شخص باید حواله د عقد په مجلس کې ومني.

د: د محال علیه شرطونه:

۱. د ده شرطونه کټ مټ د محال یا د حق خاوند شرطونه دي.

هـ: د محال به شرطونه:

۱. محال به یا حواله شوی مال باید پور وي، که چېرې پور نه وي، عین وي په دې صورت کې تسلیمول دعین حواله نه، بلکه وکالت بلل کیږي. [۱]

د حوالې احکام:

۱. د حواله کوونکي خلاصېدل: کله چې حواله د مقابل لوری په منلو سره پای ته ورسېده حواله کوونکی براءت لاس ته راوړ او له پور څخه خلاص شو.

۲. د حق د خاوند د غوښتنې ثابتېدل، په هغه چا باندې چې دی ورته حواله شوی.

ارزونه:

أ. لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. حواله لغتاً او اصطلاحاً تعریف کړئ.

۲. حواله په کومو شیانو کې رواده؟ په لنډ ډول یې بیان کړئ.

۳. د حوالې رکن ووایاست.

۴. د حوالې کوونکی اړوند شرطونه بیان کړئ.

۵. د حوالې داخیستوونکي اړوند شرطونه ووایاست.

ب. لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

۱. حواله په ..... روا ده نه په اجناسو کې.

۲. د حوالې په صیغه کې..... شرط دی اوباید دعقد مجلس کې را منځ شي.

کورنی دنده :

حواله له کفالت څخه څه توپیر لري؟ ددې موضوع په اړه پنځه کرښې ولیکئ.

---

(۱) بدایع الصنایع، ج ۲، ص ۱۶

ketabton.com - The Digital Library

حواله ۲

په تېر درس کې مو حواله وپېژندله، په دې درس کې به د حوالې پای او د محال علیه رجوع په حواله کوونکي باندې وپېژنو.

لومړی: د حوالې پاې: حواله په لاندې شیانو پای مومي:

۱. د محیل او محال علیه له خوا د حوالې فسخه کول یا له منځه وړل: هر کله چې حواله فسخه یا له منځه ولاړه شي محال باید بېرته خپل شی د محیل څخه لاس ته راوړي.
۲. محال علیه مړینه اویا مفلس کیدل: د محال علیه د مړینې او یا دمفلس کېدو په صورت کې حواله له منځه ځي او محال باید خپل پور له محیل څخه وغواړي.
۳. د محال علیه ادا یعنې کله چې محال علیه حق محال ته وسپاري.
۴. کله چې محال مړ شي او محال علیه یې وارث وګرځي، دحوالې مال به محال علیه له محیل څخه غواړي.
۵. کله چې محال خپل حق محال علیه ته وبخښي او هغه یې ومني.
٦. کله چې محال خپل حق محال علیه ته خیرات ورکړي او هغه یې خیرات ومني.
۷. کله چې محال هغه چاته ابراء وکړي چې دا ورته حواله شوی او ورته ووایي چې زه په تا باندې هېڅ مطالبه نه لرم. [۱]

فعالیت:څو تنه زده کوونکي دې په انفرادي توګه دحوالې دیو یو شرط حکمت په هکله خپلو ملګروته معلومات ورکړي.

په محیل باندې د محال علیه رجوع:

دلته موږ په دوه شیانو خبرې کوو:

۱. د رجوع شرطونه.
۲. هغه څه چې په هغې باندې رجوع کېږي.

([۱]) بدایع الصنایع، ۲/ ۱۸، فتح القدیر، ۵/ ۴۴۷

ketabton.com - The Digital Library

لومړی: د رجوع شرطونه:

۱. حواله بايد د محيل په امر ترسره شوې وي.

۲. حواله شوی مال بايد محال ته ورکړې شوی وي، او يا محال له خوا محال عليه ته بـــښنل شوی وي او يا خيرات ورکړشوی وي، او ده ورسره منلی وي.

۳. محيل بايد په محال عليه باندې هم مثل پور ونلري.

دويم: په څه به رجوع کيږي؟

محال عليه محيل څخه دهغه څه غوښتنه کولای شي چې ده پرې حواله ورکړې وي، نه هغـــه شی چې محال ته ورکړل شوی وي، نو که چيرې محال عليه د پيسو پر ځای محال ته جـــنس ورکړي د حواله کوونکي څخه به پيسې غواړي نه جنس.

د حوالې په اړه مسايل:

لومړی مسأله:

د حوالې په پای کې مو ولوستل چې حواله د محال عليه په له منځه تگ سره پای مومي. دا له منځه تگ د امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په نظر په لاندې دوه شيانو صورت مومي:

۱. کله چې محال عليه مړ شي.

۲. کله چې محال عليه د حوالې څخه منکر او د قاضي له لوري قسم ورکړل شـــي،په داســـې حال کې چې د حق خاوند هيڅ شاهدان ونه لري.

د صاحبينو په نظر په دريم شي هم راتلای شي هغه دا چې:

۳: کله چې محال عليه په ژوندانه کې مفلس او قاضي دده په افلاس پريکړه وکړي.

دويمه مسأله:

که چيرې د حق خاوند د حوالې مال ترلاسه کړي، او بيا د حواله کوونکي سره اختلاف پيدا کړي:

حواله کوونکی ووايي: ستا په ما باندې هيڅ نشته، بلکه ته ما د قبض لپاره وکيل کړی وې، څـــه چـــې دې ترلاسه کړي هغه زما دي.

د حق خاوند ووايي: نه داسې نه ده بلکه تا ماته د خپلو هغه يو زر افغانيو پور ترلاســـه کولـــو حوالـــه راکړې، چې ددې سړي څخه يې ترلاسه کړه، دې صورت کې:

ketabton.com - The Digital Library

د حواله کوونکي خبره د قسم سره د باور وړ ده، ځکه چې محال د پور ادعا کوي او حواله کـــوونکی منکر دی، بناءً د شاهدانو د نه لرلو په صورت کې د منکر خبره د لوړې سره د قبول وړ ده.

سفتجه:

په حواله باندې د دا ډول پیسو استول جواز لري، هغه دا چې یو سړی چاته یو اندازه مال د امانت په توګه په یو بنار کې ورکړي او بیا ترې په بل بنار کې تسلیم شي. [1]

ارزونه:

أ. لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. حواله په کومو شیانو پای ته رسېږي؟ په لنډ ډول یې بیان کړئ.

۲. د رجوع شرطونه ووایاست.

ب. لاندې عبارات بشپړ کړئ :

۱ . دامام ابوحنیفه (رح) په نظر د ..... له منځه تلو سره حواله پاې مومي.

۲ . کله چې دحق خاوند او حواله کوونکي تر منځ اختلاف منځ ته‌راشي، د ..... خبره په ..... کولو سره د اعتبار وړ ده.

کورنی د نده:

د حوالې د ګټو په اړه مختصره مقاله ولیکئ.

---

(1) الباب، ۲/ ۱۶۲

ketabton.com - The Digital Library

دوولسم لوست

وکالت [1]

احمد په کابل کې اوسيږي غواړي چې له هرات څخه يو موټر واخلي، دهغه ملګری محمود د هرات اوسيدوونکی دی، هغه يي خپل له خوا د موټر په اخيستلو کې وکيل ونيوه تر څو ده ته موټر واخلي.

د وکالت تعريف:

وکالت په لغت کې د ساتنې، سپارنې او اعتماد په معنی راغلی دی.

او د فقهې په اصطلاح کې: په جائز او معلوم تصرف کې د ځان پر ځای د بل چا ټاکل وکالت بلل کيږي. [1]

د وکالت د روا والي دليل:

وکالت په قرآن کريم، نبوي احاديثو، او اجماع باندې روا شوی دی.

أ. قرآن کريم: الله تعالی فرمايي: وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُواْ حَكَمًا مِّنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِّنْ أَهْلِهَا إِن يُرِيدَا إِصْلاَحًا يُوَفِّقِ اللّهُ بَيْنَهُمَا إِنَّ اللّهَ كَانَ عَلِيمًا خَبِيرًا (٣٥) النساء: ٣٥

پدې آيت کريمه کې (حکمان) د ښځې او خاوند له لوری وکيلان دي.

ب. احاديث: رسول الله ﷺ حکيم بن حزام د قربانۍ له پاره د مال اخيستلو په خاطر وکيل کړی ؤ همدا راز يې عروة البارقي د پسه د اخيستلو له پاره وکيل نيولی ؤ. [2]

ج. اجماع: د دې له پاره چې يو انسان نه شي کولای خپل ټول کارونه پوائې تر سره کړي، له دې امله د وکالت په روا والي باندې اجماع راغلې ده. [3]

---

[1]- و گوره: بدائع الصنائع. ج: ١. ص: ١٩.

[2]- د دې حديث تخريج ابوداؤد او ترمذي کړی دی.

[3]- و گوره: فتح القدير: ج، ٢. ص، ٦.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: یو شمېر زده کوونکي دې په انفرادي توګه د وکالت دشرطونو یویو حکمت خپلو ملګروته بیان کړي.

د وکالت حکم:

و کالت په اصل کې یو مباح کار دی، لاکن ځینې وخت مستحب او مکروه هم راتلای شـــي، مګر په هغه صورت کې چې د موکل څخه ضرر دفع کوي بیا واجب دی.

د وکالت د روا والي حکمت:

داسې پېښېږي چې ځینې وخت یو انسان د ځینې کارونو د کولو څخه عاجز وي، او دا کار بل څوک په ښه توګه کولای او مخ په وړاندې ښولای شي د همدې ښېګڼې او حکمت لـــه پـــاره وکالت روا شوی دی.

د وکالت ارکان:

د وکالت رکن ایجاب او قبول دی.

د وکالت اړوند ځینې اصطلاحات:

۱. موکل: هغه شخص دی چې په یو جایز اومعلوم کار اوتصرف کې دځان پر ځای بل کس ته د کولو واک ورکوي.

۲. وکیل: هغه کس دی چې له موکل لخوا د ورکړې شوي واک په اساس دهغه له طرف یو کار تر سره کوي.

۳. موکل به: هغه جایز او معلوم کار او تصرف څخه عبارت دی چې د موکل او وکیل تر منځ پرې اتفاق کیږي.

د وکالت شرطونه:

د وکالت شرطونه ځینې وکیل، موکل او د وکالت د عقد په محل کې شرط دي.

أ. د وکیل شرطونه: وکیل څلور شرطونه لري:

۱. وکیل به عاقل وي، څو په عقد پوه شي یعنې داسې چې بیعه یا پلورنه وپېژني.

۲. وکیل باید د عقد کولو قاصد وي، نه دا چې ټوکې او مسخرې کوي.

۳. وکیل باید معلوم او معین شخص وي نه داسې چې دوه تنو ته ووایي، له تاسې څخه یو زما وکیل یاست، دا وکالت د جهالت له امله صحیح نه دی.

ketabton.com - The Digital Library

۴. وکیل به خپل موکل (هغه څوک چې دی پې وکیل نیسي) په کامله معنا پېژني یعنې وصف او شهرت به پې ورته معلوم وي.

ب. د موکل شرطونه: موکل دوه شرطونه لري:

۱. هغه څوک چې وکیل نیسي(موکل) باید عاقل وي، نو د لیونې توکیل صحیح نه دی.

۲. موکل به دهغه تصرفاتو چې وکیل ورته نیسي مالک وي.

ج. د عقد د محل یا موکل به شرطونه:

۱. هغه شیان او کارونه چې و کالت پرې ترسره کیږي باید د مباحاتو څخه نه وي، نو د یو چا وکیل کول د معدنونو په راویستلو باندې روا نه دي.

۲. د عقد محل (موکل به) به د موکل ملکیت وي.

۳. موکل به له داسې ډلې څخه وي چې نیابت به مني، نو په بدني عباداتو لکه لمونځ باندې د یو چا وکیل کول روا نه دی.

د وکالت احکام:

ددې لپاره چې د وکالت احکام وپېژنو باید ډولونه پې هم و پېژنو، نو د وکیلانو ډولونه دا دي:

۱. د خصومت وکیل: دا هغه وکیل دی چې د قاضي په وړاندې محاکمو کې د خپل موکل نیابت کوي، نوموړی پرته له قصاص او حدودو څخه په خپل موکل باندې د اقرار مالک دی، ځکه چې دا د مدعي د دعوی د ځواب، د حق روښانتیا او اثبات له پاره ټاکل شوی نه د جنګ او جنجال په خاطر.

۲. د پور د اخیستلو له پاره وکیل: دا هغه وکیل دی چې د پور غوښتلو له پاره ټاکل کیږي.

۳. د اخیستلو او پلورلو له پاره وکیل: دهغه وکیل دی چې د موکل لخوا ورته د اخیستلو او پلورلو واک وسپارل شوی وي.

لومړی: د خصومت د وکیل احکام:

۱. پرته له قصاص او حدودو څخه په نورو شیانو کې یواځې د اقرار واک لري.

۲. د قبض یا ترلاسه کولو واک ورسره نشته، ځکه یو څوک د لانجې ګټلو له پاره امین ګرځول کیږي اما د مال په هکله معتمد نه وي.[1]

دویم: د هغه وکیل احکام چې د پورغوښتنې له پاره ټاکل شوی وي:

۱. د پور تر لاسه کولو واک نه لري، ځکه چې یواځې د غوښتلو له پاره ټاکل شوی دی.

۲. دا واک هم نه لري چې بل څوک د ځان پر ځای و ټاکي.

---

[1]- و ګوره: فتح القدیر، ج: ٦. ص: ۹۷، المبسوط: ج:۱۹، ص: ۱۹.

ketabton.com - The Digital Library

دريم: د پلورنې او اخيستنې وکيل احکام:

دا وکيل به په خپلو کړنو کې آزاد او يا به يې تصرفات مقيد وي، که چېرې يې تصرفات مقيـــد وي لاندې احکام لري:

۱. د هغه قيودو رعايت پرې لازم دي چې د موکل له لوري ورته ټاکل شوی دي.

۲. که چېرې د موکل له ټاکلو قيودو څخه مخالفت کوي بيا د موکل اجازې ته اړتيا لري.

اما که چېرې د موکل لخوا په تصرفاتو او کړنو کې آزاد وي، نو احکام يې دا دي:

۱. اخيستنه او پلورنه به په هغه روپو کوي چې هغې وطن کې رائجې او چلند ولري.

۲. اخيستنه او پلورنه په مناسب ارزښت او قيمت تر سره کيږي.

ارزونه:

لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

۱. وکالت په لغت اواصطلاح کې څه ته وايي ؟

۲. د وکيل ، موکل،او دعقد محل څخه څه مقصد دی؟

۳. دوکيل په اړه شرطونه ووياست.

۴. دعقد دځای شرطونه بيان کړئ.

۵. دخصومت وکيل اړوند احکام بيان کړئ.

لاندې عبارات بشپړ کړئ:

۱. موکل دوه شرطونه لري :

۲. موکل بايد..... .

۳. په هغه څه کې چې وکيل په کې تصرف کوي بايد موکل د هغه..... وي.

۴. د خصومت وکيل: هغه وکيل دی چې د..... په وړاندې محاکمو کې د خپل ..... نيابت کوي.

کورنی دنده:

د وکالت اړوند اصطلاحات په يادو زده کړئ. او د وکالت په هکله په پښتو کرښو کې يوه مقاله وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

وکالت ۲

د وکیلانو ډېروالی، د وکالت ختم، د دې باب له ځینو اړوندو مسایلو سره

۱- د وکیلانو ډېروالی:

ډېر داسې پېښېږي چې د یو تن څخه ډېر اشخاص په تصرفاتو او شخړو کې وکالت کوي، نــو پدې صورت کې به یو شخص دوه یا ډېر وکیلان لري.

الف: که چیرې یو تن ډېر وکیلان پداسې توګه سره ولري چې هر یو ته یې ځانګړی عقد یــا کار سپارلی وي، دې صورت کې به هر یو خپل کار پرته د بل وکیل له مشورې څخــه مخ په وړاندې وړي.

ب: که چیرې یو سړي د یو کار لپاره ډېر وکیلان نیولي وي، دې صورت کې هیڅ یو ځانتــه پرته د موکل له اجازې څخه ټاکلی کار نشي ترسره کولای، مګر هغه کارونه کولای شي چې هغه مشورې ته اړتیا نلري، لکه د امانتونو سپارل او د پورونو پرې کول.

۲- د وکالت صفت:

الف: وکالت پرته له اجورې څخه:

مفت وکالت کول روا دي، لاکن پدې بیا عاقدین ملزم ندي، نو هر یو کولای شي چې دا عقد فسخه کړي.

ب: په اجورې باندې وکالت: دا وکالت په دوه صورتونو کې راتلای شي:

۱. دا چې د انعام بڼه ولري، یعنې چې په عقد کې وخت او کارونه ونه ټاکل شي، دې صورت کې جبري عقد ندی.

۲. اما که چیرې د اجورې بڼه ولري، یعنې چې وخت او کار پکې وټاکل شي، بیا ملزم دی[۱].

۳- د وکالت پای: وکالت په لاندې شیانو باندې پای ته رسیږي:

۱. کله چې موکل خپل وکیل ګوښه کړي، خو پدې شرط چې وکیل پرې خبر وي ، او د بل کس حق ورسره تړاو ونلري.

۲. کله چې موکل خپله د وکیل دنده ترسره کړي، ځکه چې دې وخت کې وکالت هیڅ ګټه نه لري.

---

[۱]- وګوره: بدائع الصنائع: ۳۷/٦، الدر المختار: ۳۱۵/۷.

ketabton.com - The Digital Library

۳. کله چې د وکالت غرض ترسره شي، يعنې هغه تصرف اجرا شي د کوم لپاره چې وکيل نيول شوی دی.
۴. کله چې موکل يا وکيل خپل اهليت په مړينه او يا دائمي ليونتوب سره د لاسه ورکړي.
۵. کله چې هغه عين له منځه ولاړ شي چې د هغې د تصرفاتو لپاره وکيل نيول شوی وي.
٦. د موکل له لاسه د موکل فيه وتل[1].

فعاليت:وکالت د کفالت سره څه توپير لري؟ په ډليز اويا انفرادي توګه دغه موضوع روښانه کړئ.

د وکالت اړوند مسائل:

۱. داسې وکالت هم شته چې هيڅ حقوق نلري، لکه په چا پسې د تګ راتګ وکالت، پرته له ملازمت څخه هيڅ نلري.
۲. ځينې وکالتونه داسې دي چې حقوق يې وکيل ته راجع کيږي او بيا د نورو حقوق موکل ته راجع کيږي، بناء:

الف: هر هغه عقد چې موکل ته يې د نسبت اړتيا نه وي، ځان ته يې نسبت کول صحيح کيږي، بناء حقوق يې عاقد ته راجع کيږي لکه د پلورلو عقد پس همدا وکيل به هغه چا ته چې ورباندې يې شی پلورلی مبيعه سپاري او پيسې به ترلاسه کوي.

ب: که چيرې عقد داسې وي چې هغه د موکل نسبت ته اړتيا لري، د دې حقوق موکل ته راجع کيږي لکه نکاح.

ج: همدا راز که چيرې داسې عقود وي چې د هغې تمام په قبض او ترلاسه کولو سره راځي لکه بخشش، قرض او داسې نور. د دې نسبت به هم موکل ته کوي او حقوق يې هم همده ته راجع کيږي.

د اخيستلو د وکالت ډولونه: دا وکالت په دوه ډوله دی:

۱ – عام: هغه داسې چې موکل وکيل ته ووايي، څه چې دې خوښ وي ما ته يې اخله يا څه چې ګوري ما ته يې اخله.

۲ – خاص: داسې چې موکل خپل وکيل ته ووايي: ما ته جامې يا کور او يا غاړکی واخله.

---

[1] – الدر المختار: ج ۷ ص ۳۹۳، المبسوط ۵۰/۱۹، بدائع الصنائع: ۳۸/٦، تکملة فتح القدير ۱۲٦/٦.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

۱. ایا یوکس کولای شي څو تنه وکیلان ونیسي؟ بیان یې کړئ.

۲. په اجوره سره دوکالت یو مثال ووایاست.

۳. کله وکالت پاې مومي ؟ دری موارد یي ووایاست.

لاندې عبارات بشپړ کړئ:

۱. پرته له اجورې وکالت ..... دی، مگر یو دعاقدینوکولای شـــي چـــې عقد..... کړي.

د وکیل د ګومښه کولو دوه شرطونه دي:

۲. ..... .

۳. ..... .

د درس مهم مطالب په خپل عبارت په پنځو کرښو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

مضاربت

د مالونو د شرکت څخه یو ډول شرکت د مضاربت شرکت دی، هغه داسې چې پانګه د یو چا او کار وربانديې بل څوک کوي، دا شرکت د اجاري سره ورته والی لري، ځکه چې کار گر په مال کې د هومره گټې مستحق دی چې څومره کار يې په مال کړی وي.

د مضاربت تعریف:

مضاربت په لغت کې د ضرب یا سفر په معنا دی، ځکه چې کارگر سفر ته اړتیا لري.

او د فقهاوو په اصطلاح کې: هغه عقد دی چې مالک مال د تجارت لپاره بل چا ته پداسې ډول ورکړي چې گټه به دواړه د ټاکلي شرط سره سم ویشي. یا په بل عبارت دا هغه شرکت دی چې مال د یو چا او تجارت وربانديې بل څوک کوي[1] مضاربت ته قراض هم ویل کیږي.

د مضاربت روا والی: مضاربت په قران کریم، احادیثو او اجماع باندې ثابت دی.

قران کریم: الله جل جلاله فرمایي: «وَآخَرُونَ يَضْرِبُونَ فِي الْأَرْضِ يَبْتَغُونَ مِنْ فَضْلِ اللَّهِ» (د المزمل سورت، ۲۰ آیت)

ژباړه: (... او نور په ځمکه کې گرځي د الله جل جلاله د فضل (حلال رزق) لټونه کوي. مضارب هم په ځمکه کې د الله جل جلاله د فضل لټونه کوي.

حدیث: د عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روایت دی چې: ((حضرت عباس رضی الله عنه به چې کله د مضاربت لپاره چا ته مال ورکاوه، په مضارب باندې به يې دا شرط اېښودل چې زما مال سره به په بحر کې نه ځې، نه به خورونو ته کوزیږي او نه به وربانديې ژوندی مال اخلې، که چیرې دې دا کارونه وکړل تاوان به يې ته ګالې، کله چې دا شرطونه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورسیدل، اجازه يې ورکړه[2].

اجماع: د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعینو د ټولګې څخه په روایت کې راځي چې دوی د یتیم مال په مضاربت ورکړی او لدې څخه هیڅ چا انکار ندی کړی[3]، بناء دا اجماع شمیرل کیږي.

---

[1]- وګوره: المبسوط ۱۸/۲۲.

[2]- د دې تخریج طبراني په الاوسط کې کړی.

[3]- وګوره: نصب الراية ۱۱۳/۴.

ketabton.com - The Digital Library

د مضاربت د روا والي حکمت:

خلکو ته د مال څخه د ګټې اخیستلو لار برابرول، یو بل سره پداسې شکل مرسته کول چې د یو بل له تجربو څخه په ګټه اخیستلو ښه ګټه ترلاسه او غوره نتیجې ته رسېدل د مضاربت د روا والی حکمت ګڼل کېږي.

د مضاربت رکن:

د مضاربت رکن ایجاب او قبول دی، په هغو الفاظو باندې چې په مضاربت دلالت کوي.

د مضاربت ډولونه:

مضاربت په دوه ډوله دی، مطلق مضاربت او مقید مضاربت.

۱- مطلق مضاربت:

مطلق مضاربت هغه دی چې څوک بل چا ته خپل مال د مضاربت په نوم ورکړي او کار، د کار ځای، صفت او هغه کس چې ورسره معامله کوي تعین نه کړي.

۲- مقید مضاربت:

هغه مضاربت دی چې یو څوک چا ته ټاکلې اندازه روپۍ د معین ښار، معین مال، معین وخت او یا یو خاص شخص سره د معاملې کولو لپاره ورکړي، یعنې دا روپۍ پدې شرط درکوم چې اخیستل او خرڅول به د فلاني سره کوې.[1]

د مضاربت حکم:

مضاربت یو غیر لازم عقد دی، برابره ده چې د کار د پیل څخه مخکې وي او که وروسته، بناء هر یو له عاقدینو څخه یې له منځه وړلای شي، همدارنګه په میراث هم نه وړل کیږي.

د مضاربت شرطونه:

د مضاربت د صحت لپاره ځینې شرطونه په عاقدینو، راس المال (پانګه) او ګټه کې بیل بیل شرط شوي دي.

د عاقدینو شرطونه:

عاقدین د مال له خاوند او مضارب څخه عبارت دي. د دوی شرطونه کټ مټ د وکیل شرطونه دي، چې مونږ په وکالت کې ذکر کړل.

---

[1]- بدائع الصنائع ٦/٧٨.

ketabton.com - The Digital Library

د پانګې شرطونه:

دمضاربت د راس المال (پانګې) شرطونه دا دي:

۱. د مضاربت پانګه بايد د چليدونکو پيسو څخه وي.

۲. د مضاربت د پانګې اندازه بايد معلومه وي.

۳. د مضاربت پانګه به معينه او موجوده وي، پور به نه وي.

۴. د مضاربت پانګه به کاريګر (مضارب) ته سپارل کيږي.

د ګټې شرطونه:

د ګټې شرطونه په لاندې ډول دي:

۱. د ګټې اندازه به څرګنده وي.

۲. ګټه به تيته او پراګنده وي، يعنې په نيمايي، دريمه يا څلورمه به دواړه سره متفق شوي وي.

فعاليت: څوتنه زده کوونکي دې دمضاربت مختلف شکلونه تمثيل کړي

ارزونه:

لاندې شيان تعريف کړئ:

۱. مضاربت لغتاً او اصطلاحاً تعريف کړئ.

۲. مطلق او مقيد مضاربت تعريف کړئ.

۳. د مضاربت حکم څه دی؟

۴. د راس مال شرطونه په مضاربت کې بيان کړئ.

۵. په مضاربت کې د ګټې شرطونه ووايئ.

کورنی دنده :

د مطلق او مقيد مضاربت صورتونه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

مضاربت ۲

په تير درس کې مو مضاربت د ارکانو او شرايطو سره وپيژانده، په دې درس کې د مضاربت احکام او هغه شيان چې مضاربت وربانديې پای مومي وړاندې کوو.

هر کله چې مضاربت د يو شرط د خلل له امله فاسد شو مضارب دمناسبې مزدوری مستحق ګڼل کيږي او په ګټه کې نشي شريکيدای، نو که چيرې يو څوک چا ته ووايي: زما جال د ښکار لپاره واخله، څه چې دې ښکار کړل د مضاربت په توګه زما او ستا تر منځ شريک دي، په دې صورت کې د مضارب لپاره د مضاربت په اساس هيڅ نشته، ځکه دا صحيح مضاربت ندی او نه وربانديې د صحيح مضاربت احکام پلي کيږي، بلکه دې سړي ته به مناسبه مزدوري ورکول کيږي، برابره ده چې نوموړي مضاربت ګټه کړې وي او که نه، ځکه چې فاسد مضاربت د فاسدې اجارې غوندې دی.

د صحيح مضاربت احکام:

۱. مضارب (کاريګر) چې کومه پانګه په لاس کې لري ورسره امانت ده او دی په خپله امين ګڼل کيږي، ځکه چې ده دا مال د خپل مالک په اجازه قبض کړی دی.

۲. مضارب په اخيستنې او پلورنې کې وکيل ګڼل کيږي، ځکه ده د بل چا په مال کې په اجازې سره تصرف کوي او د وکيل معنا همدا ده.

۳. مضارب په مضاربت کې د خپلې برخې د ګټې په اندازه شريک شميرل کيږي، ځکه دی د مال د ځينې برخې مالک وګرځيد د هغه کار په اساس چې ده ترسره کړی دی.

۴. کله چې په يو سبب د اسبابو سره مضاربت فاسد شو، اجاره ګرځي او مضارب د مال د خاوند مزدور دی، نو مناسبه اجوره به ورکول کيږي.

۵. که چېرې مضارب دعقد تاکلو شرطونه څخه مخالفت وکړي، غاصب شميرل کيږي، ځکه ده د بل چا په ملکيت تيری کړی دی.

٦. د مضاربت تاوان د مال په خاوند دی، په هغه صورت کې چې ګټه شتون ونلري، خو که چيرې د ګټې څخه وروسته تاوان رامنځ ته شوی وي دا تاوان به د ګټې څخه ورکول کيږي[۱].

---

[۱]- مختصر الطحاوي ۱۲۴.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې د فاسد مضاربت مثالونو په هکله په خپلو منځوکې مباحثه وکړي.

د مضاربت پای: مضاربت په لاندې شیانو سره پای مومي:

۱. په فسخه او له منځه وړلو باندې مضاربت پای مومي.

۲. کله چې مضارب د تصرفاتو څخه ګوښه شي مضاربت پای ته رسیږي.

۳. کله چې یو د عاقدینو څخه د مال خاوند یا مضارب مړ شي.

۴. کله چې یو د عاقدینو څخه لیونی شي.

۵. کله چې د مضاربت پانګه د مضارب په لاس کې له منځه ولاړه شي.

د مضاربت په هکله مسئلې:

۱. کله چې د مضارب لپاره پرته له تجارتي مال څخه ګټه وټاکل شي مضاربت جواز نلري.

۲. مضارب دا واک لري چې دمضاربت مال بل چا ته د دې لپاره ورکړي تر څو د بل ښـــار څخه ورته سامان راوړي، پداسې حال کې چې اجوره یې ورسره نه وي منلې.

۳. مضارب دا واک نلري چې د مضاربت مال بل چا ته د مضاربت لپاره ورکړي او د چا سره شریک شي، او نه یې د خپل او بل مال سره ګډولای شي، مګر که چیرې د مال خاونـــد ورته داسې ویلي وي چې کارونه پخپله خوښه کوه، بیا خپلواک دی.

۴. مضارب به خپل واجبي مصارف د مضاربت له مال څخه کوي، دوا او د علاج مصارف هم په واجبي نفقاتو کې شمیرل کیږي، ځکه د بدن اصلاح یې پدې باندې راځي او پرتـــه لـــه جوړ صحته هیڅ تجارت نشي کولای.

۵. که چیرې مضاربت ګټه کړې وي مصارف به د همدې څخه کیږي او که چیرې یې ګټه نه وي کړې بیا به د پانګې څخه حسابیږي، ځکه چې مصارف د مال څخه له منځه تللې برخه ده.

٦. که چیرې د مضارب او د مال خاوند تر منځ د مال د بیرته ورکړې په هکله اختلاف رامنځ ته شو، د مال د خاوند خبره د باور وړ ده.

۷. مضارب ته به تر هغه پورې ګټه نه ورکول کیږي تر څو چې مال په پیسو بدل او د مـــــال خاوند ته یې نقدې تسلیم کړي.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

الف: لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. په کومو حالاتو کې اجر مثل دمال په خاوند باندې لازمیږي.

۲. د مضاربت اړوند ځینې احکام ووایاست.

۳. د مضاربت عقد څه وخت له منځه ځي؟ په لنډ ډول یې بیان کړئ؟

۴. ایا مضارب کولای شي مضاربت مال بل چاته په مضاربت ورکړي؟

۵. مضاربت کوونکې دمضاربت اړوند مصارف له کوم ځای څخه پوره کوي؟ موضوع روښانه کړئ.

ب: لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. هغه مهم حالات چې مضارب وربانديې د مناسبې مزدوری مستحق ګرځي عبارت دي له .....

۲. ستاسې په مقرر کتاب کې د صحیح مضاربت احکام عبارت دي له .....

۳. مضاربت پدې ..... شیانو پای مومي.

کورنۍ دنده:

د لوست مهم مطالب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

هبه

هبه هديې او صدقې ته شامله ده، ځکه چې معناوې يې سره نږدې دي، که چيرې څوک څه شی کوم اړ سړي ته د الله جل جلاله د رضا په خاطر ورکړي، دا صدقه ده، خو که چيرې يې چاته د دوستۍ له کبله ورکړي، بيا هديه، او که دا يوه معنا هم پکې موجوده نه وي بيا هبه ده.

د هبې معنا:

هبه په لغت کې ورکړې او تبرع ته وايي.[۱]

او د فقهاءو په اصطلاح کې هر هغه عقد او تړون چې په ژوندانه کې پخپله خوښه پرته له کوم عوض څخه بل ته ملکيت ثابتوي هبه بلل کيږي.[۲]

د هبې د روا والي دليل:

هبه په قران کريم، احاديثو او اجماع باندې رواشوې ده.

۱. **قران کريم:** الله جل جلاله فرمايي: «فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَرِيئًا» (سورة النساء، ۴ آيت) ژباړه : که چيرې تاسې ته خپلو ښځو د مهر څه برخه دروښله نو په خوښۍ سره يې وخورئ.

۲. **سنت:** نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «لَا تَحْقِرَنَّ إِحْدَاكُنَّ أَنْ تُهْدِيَ لِجَارَتِهَا وَلَوْ كُرَاعَ شَاةٍ مُحْرَقًا».[۳] ترجمه: که يوه ښځه خپلې ګاونډۍ ته په هديه کې د پسه يو ښنګری (سوم) ورکوي هغه دې هم سپک نه ګڼي.

۳. **اجماع:** د هبې د ټولو ډولونو په استحباب اجماع شوې ده.

د هبې رکن: ايجاب او قبول د قبض سره د هبې رکن دی.[۴]

---

[۱]- لسان العرب ۸۰۳/۱.

[۲]- فتح القدير ۱۱۳/۷.

[۳]- مؤطا امام مالک (رح).

[۴]- المبسوط ۷۵/۱۲.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: یوشمیر زده کوونکي دې دهبې څو صورتونه تمثیل کړي.

د هبې شرطونه: هبه ځانګړي شرطونه لري چې په لاندې ډول بیانیږي:

۱. هبه کوونکی باید د هبې (بخشش) ورکولواهلیت ولري یعني عاقل او بالغ وي.

۲. موهوب (ښیل شوی شی) باید د هبې په وخت کې موجود وي.

۳. موهوب باید ارزښتناک مال وي، نو د تښتیدلي اوښ هبه صحیح نده.

۴. موهوب باید مملوک مال وي، نو د مباحاتو ښیل صحیح ندي.

۵. موهوب باید دهبه کوونکي ملکیت وي، د بل چا د مال هبه کول صحیح نه دی.

٦. موهوب مال باید جلا شوی او په امان کې وي، د تیت او خور شي هبه کول صحیح ندي.

۷. د موهوب مال قبض باید د واهب په اجازه ترسره شوی وي.

۸.

د قبض ډولونه:

د هبې قبض په دوه ډوله راتلای شي، چې یو ته اصالتاً او بل ته نیابتاً قبض ویل کیږي.

۱- **اصالتاً قبض:** هغه قبض دی چې یو سړی پخپله د ځان لپاره شی قبض کړي، د جواز شرط یې یواځې عقل دی، بلوغ ورته شرط ندی، نو د لیوني قبض صحیح ندی.

۲- **نیابتاً قبض:** هغه قبض دی چې د ماشوم پر ځای دهغه ولي ترلاسه کړي، د جواز شرط یې د ولایت موجودیت او سرپرستي ده.[۱]

د هبې حکم:

د ملکیت ثبوت دی د هغه چا لپاره چې هبه ورته شوی وي ، پداسې توګه سره چې رجوع او فسخه پکې راتلای شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: ((واهب بیرته خپل ښیلی مال په هغه صورت کې غوښتلای شي چې عوض یې نه وي اخیستی.))[۲]

---

[۱]- بدائع الصنائع: ج ۵ ص ۱۲٦.

[۲]- نصب الرایه ۱۲۵/۴.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

الف: لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

۱. هبه په لغت او اصطلاح کې څه ته وايي؟

۲. دهبې شرطونه بيان کړئ.

۳. قبض په څو لارو سرته رسيږي؟ واضح يې کړئ.

۴. د هبې حکم وواياست.

ب: لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. هبه ورکوونکې بايد د ..... د..... اهليت ولري.

۲. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ((واهب خپل ښښلې مال بيرته غوښتلای شي تر څو چې ..... نه وي اخيستی.))[۱]

کورنۍ دنده:

دلوست مهم مطالب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

[۱]- نصب الرايه ۱۲۵/۴.

ketabton.com - The Digital Library

هبه ۲

په تير درس کې مو د هبې تعريف، شرايط او ارکان وپيژندل، اوس پدې هکله نوره څيړنه چې په هبه باندې د رجوع موانع او خپلو اولادونو ته ورکړه او داسې نور بيانوو.

لومړی: په هبه باندې د رجوع موانع:

احمد محمود ته غوا وبښله وروسته له څه مودې بيرته پښيمانه شو غواړي چې بيرته خپله غوا د محمود څخه واخلي، ايا دا کار ورته روا دی او که نه؟

دا کار په خپل ذات کې روا دی خو دا يو کمزوی عمل دی چې د انسان د شان سره مناسب نه دی، خو په ځينو صورتونو کې د موانعو له امله رجوع وربانديې روا نده.

پر هبه باندې د رجوع موانع:

۱. کله چې د هبې مالي عوض ورکړل شي:

يعنې واهب ته د هبې مالي بدله ورکړي، او واهب دا عوض قبض کړي، بيا خپل بښنل شوی شی نشي غوښتلای.

۲. کله چې خپلوانو ته شی وبښل شي:

که چيرې يو څوک خپلو داسې خپلوانو ته چې د ده د محارمو څخه وي مال بخشش کړي، بيرته يې ورڅخه نشي غوښتلای، ځکه چې خپلوي معنوي عوض دی.

۳. کله چې بښل شوي شي کې زياتوالی وشي:

۴. يعنې بښل شوې غوا بچی وزيږوي او يا توته وي وگنډل شي بيا يې غوښتل روا ندي.

۵. کله چې موهوب له ملکيت څخه ووځي:

يعنې يا يې خرڅ کړي او يا يې بل چا ته بښلی وي رجوع وربانديې نشي کولای.

٦. کله چې يو د عاقدينو څخه خپل ژوند له لاسه ورکړي.

۷. کله چې بښل شوی شی له منځه ولاړ شي.

۸. کله چې بښځه خپل خاوند او يا خاوند خپلې بښځې ته شی بخشش کړي، بيا يې هم نشي غوښتلای.

ketabton.com - The Digital Library

دويم: اولاد ته ورکړه:

خپل اولاد ته په ورکړه کې برابري او مساوات مستحب دي، او په روغتيا حالت کې يو پر بل غوره کول مکروه دي.

له مستحب مساوات څخه مراد کوم ډول مساوات دی؟ پدې هکله فقهاء په دوو ډلو ويشل شوي دي:

۱- د امام ابو يوسف رحمه الله تعالى نظر:

د پلار لپاره دا مستحب ده چې په ورکړه کې د نارينه او ښځينه اولاد تر منځ مساوات مراعات کړي، د ده دليل د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم دا حديث دی چې فرمايي: ((تاسې په ورکړه کې د بچو تر منځ برابروالی مراعت کړئ، که زه چيرې غني وای ما به ښځينه اولاد ته د نارينه و څخه ډير څه ورکړي وای.))[1]

۲- د امام محمد رحمه الله تعالى نظر:

امام محمد رحمه الله تعالى وايي: پلار ته پکار ده چې د اولادونو تر منځ په ژوند کې هغه ويش وکړي کوم چې الله تعالى په ميراث کې کړی، يعنې په ژوند کې دې هم نارينه اولاد ته د ښځينه اولاد په پرتله دوه چنده ورکوي، ځکه دا ويش الله جل جلاله کړی دی.

فعاليت: څو تنه زده کوونکي دې په ډليز او يا انفرادي توګه دهبې د يو يو شرط حکمت په اړه خپلو ملګرو ته معلومات ورکړي.

دريم: په ورکړه کې مساوات او برابروالی:

په ورکړه کې د اولادونو تر منځ د برابري او مساوات خيال ساتل واجب ندی بلکه يو مستحب عمل دی، نو که چيرې يو څوک ځنو اولادونو ته په نورو باندې زياتوالی کوي صحيح دی سره له کراهيته، خو هغه احاديث چې په برابروالي باندې امر کوي، په استحباب محمول دي.

څلورم: مور او پلار ته ورکړه:

مور او پلار ته په ورکړه کې د مساوات او برابری خيال ساتل سنت دي مګر ځنې وختونه د مور غوره والی په پلار باندې په زياته ورکړه او عزت کولو سره جواز لري، نظر په هغه احاديثو چې پدې هکله راغلي دي.

---

[1]- قال عليه السلام: ((سووا بين اولادكم في العطية ولو كنت مؤثراً لاثرت النساء على الرجال)) مجمع الزوائد ۱۵۳/۳.

ketabton.com - The Digital Library

پنځم: ورونو او خويندو ته ورکړه:

په هبو او بخششونو کې د ورونو او خويندو تر منځ تعادل ساتل مستحب دي، په هغه صورت کې چې اړتياو کې سره برابر وي، خو د مشر خاص کول په څه زيات شي جواز لري، رســـول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: ((مشر ورو د پلار ځای لري)).[1]

د هبې په هکله مسئلې:

۱. که چيرې يو څوک چا ته داسې غوا چې ګيډه کې بچی ولري، پرته له بچي هبه کړي روا نده، ځکه دا داسې هبه ده چې په بل شي سره مشغوله او بنده ده.

۲. که چيرې څوک چا ته داسې شی چې ويشل شوی او بيل شوی وي وښني، حال داچـــې د قبض او ترلاسه کولو اجازه ورنکړي، مګر که د واهب په وړاندې قبض او ترلاسه شي روا دي.

۳. په هبه باندې رجوع صحيح نده، مګر په خوښه يا د قاضي په پريکړه صحيح ده، ځکه چې وروسته د تماميدو څخه رجوع فسخه ګڼل کيږي.

ارزونه:

أ. لاندې پوښتنې ځواب کړئ:

۱. دهبې د بيرته غوښتنې موانع بيان کړئ.

۲. په کومو حالاتوکې مور اوپلارته د اولاد ترمنځ تويير کول روا دي؟

۳. ايا ځوی کولای شي چې د مور اوپلار اويا له خپلوان څخه هغه تحفه چې ورکړې وه بيرته واخلي؟

ب لاندې عبارات بشپړ کړئ:

۱. که چيرې څوک چا ته غوا پرته له هغه بچي چې ګيډه کې يې دې هبه کړي.....

۲. د هبې بيرته د اخيستلو غوښتنه صحيح نده، مګر په ..... اويا د .....په پريکړه صحيح ده.

کورنۍ دنده:

د لوست مهم مطالب په خپلو کتابچو کې وليکئ ، او خپلې کورنۍ ته دغه لوست ولولئ.

---

[1] – بيهقي او طبراني روايت کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library

اته لسم لوست

وديعت (امانت)

احمد زيد ته وايي: دا راديو واخله ما ته يې وساته او يا دا له تا سره امانت شوه. دې عمل تــه وديعت وايي.

د وديعې معنا:

وديعه د (و،د،ع) له تورو څخه اخېستل شوې چې په لغت کې ترک او پرېښودلو ته وايي، يعنې د بل سره د ساتنې پخاطر د شي ايښودلو ته وديعه وايي.

او د فقهاوو په اصطلاح کې:

صريحاً او يا دلالتاً په خپل مال باندې د بل چا مسلطول دحفظ او ساتنې لپــاره وديعــه بلــل کيږي.[1]

اصطلاحات:

مُودِع: د دال به زير امانت ورکوونکي ته وايي

مُودَع: د دال په زور باندې امانت اخستونکي ته وايي.

د امانت د روا والي دليل:

ايداع يا امانت ايښودل په قران کريم او احاديثو باندې روا شوی دی.

لومړی قران کريم: الله جل جلاله فرمايي: «إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا» (النساء، ۸) الله جل جلاله تاسې ته امر کوي چې امانتونه هغه چا ته وسپارئ چې څوک يې اهليت لري.

دويم حديث:

نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «أَدِّ الأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلاَ تَخُنْ مَنْ خَانَكَ»[2] ژباړه: چا چې امين ګڼلی يې هغه ته خپل امانت وسپاره، او هغه چا سره خيانت مه کوه چې له تا سره يې خيانت کړی دی.

د امانت يا وديعت رکن:

د وديعت رکن ايجاب او قبول دی.

د وديعت په عاقدينو کې يواځې عقل شرط او بلوغ ته اړتيا نه ليدل کيږي.

---

[1] – حاشيه ابن عابدين ۵۱۵/۴.

[2] – ابو داود او ترمذي روايت کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library

فعاليت: يو شمېر زده کوونکي دې د ودېعت صورت په ټولګي کې تمثيل کړي.

د امانت حکم: په لازمي او حتمي ډول مالک ته د شي ساتل د امانت حکم دی.

د امانت د ساتلو لياړې:

هغه څوک چې امانت ورسره ايښودل شوی دی د امانت په ساتلو داسې مکلف دی لکه څنګه چې خپل مال ساتي او په هغه چا به يې ساتي چې د ده په عيال کې شامل وي او پده يې نفقه لازمه وي لکه د ده ښځه، زوی او مزدور يې.

ايا وديعه تاوان لري او که څنګه؟

له چا څخه د ساتنې لپاره د امانت اخيستل د ثواب کار دی، خو د دې مال ساتنه به د خپل مال په څېر کوي او د ده د تقصير څخه پرته د مال د تلف په صورت کې په ده باندې تاوان نه لازمېږي، ځکه نبي اکرم صلی الله علیه وسلم فرمايي: «په هغه چا باندې چې امانت ورسره ايښودل شوی تاوان نشته مګر په هغه صورت کې چې خيانت يې کړی وي بيا به تاوان ورکوي»[1]

فعاليت: څو تنه زده کوونکي دې په انفرادي توګه د وديعت دهر شرط دحکمت په هکله خپلو ملګروته معلومات ورکړي.

د امانت د تاوانيدو حالات:

په لاندې حالاتو کې د امانت تاوان ورکول لازمېږي:

۱. هغه څوک چې امانت ورسره ايښودل شوی د امانت ساتل پرېږدي.

۲. کله چې مؤتمن امانت د هغه چا سره کېږدي چې هغه د ده په عيال کې نه وي، او يا يې هغه چا ته ورکړي چې دی ورباندې خپل مال عادتاً نه ساتي.

۳. کله چې د امانت مال هغه څوک استعمال کړي چې ورسره ايښودل شوی، يعنې امانت استعمال کړي او ګټه تربنه واخلي.

۴. کله چې د امانت څخه منکر شي.

۵. کله چې امانت د خپل مال سره ګډ کړي.

٦. کله چې مُودَع د مُودِع د ساتنې له شرايطو څخه مخالفت وکړي، يعنې د هغه د ټاکلو شرايطو لاندې يې ونه ساتي.

---

[1]– بيهقي او دار قطني روايت کړی دی.

ketabton.com - The Digital Library

امانت په لاندې حالاتو کې پای مومي:

۱. کله چې امانت مال بیرته خپل خاوند ته ورکړي.

۲. کله چې یو د عاقدینو څخه خپل ژوند یا اهلیت له لاسه ورکړي.

۳. کله چې د امانت مال مالک بل څوک وګرځي، یعنې ملکیت یې انتقال ومومي.

د امانت اړوند مسائل:

۱. کله چې د امانت ساتونکي او امانت ورکوونکي تر منځ اختلاف څرګند شي، امانت ساتونکی ووایي: ستا امانت ما سره له منځه ولاړ او یا ما درکړ، حال داچې امانت ورکوونکی ووایي: نه داسې نده، نو د هغه چا خبره د باور وړ ده چې امانت ورسره ایښودل شوی دی، ځکه چې په ساتنه باندې امین ګڼل شوی دی.

۲. که چیرې دوه تنه د یو سړي سره څه شی امانت کیږدي او دواړه ولاړ شي، وروسته یو راشي او خپله برخه وغواړي، ده ته به تر هغه چې بل ملګری یې نه وي حاضر شوی خپله حصه نه ورکول کیږي.[۱]

ارزونه:

أ. لاندې شیان بیان کړئ:

۱- ودیعه یا امانت لغتاً او صطلاحاً تعریف کړئ.

۲- امانت باید څرنګه وساتل شي؟

۳- د امانت ساتونکی په کومو حالاتوکې ضامن ګڼل کیږي؟

۴- په کومو حالاتوکې امانت پاې مومي؟

۵- که چېرې د امانت خاوند اوهغه ساتونکي ترمنځ اختلاف پیدا شي، نو کوم یو خبره د اعتبار وړده؟ واضح یې کړئ.

ب- لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱ . مودِّع ته ..... هم ویل کیږي، اوهمدارنګه مودَّع ته..... ویل کیږي.

۲ . دامانت ساتوونکی ضامن نه وي ، په هغه حالت کې چې..... .

کورنۍ دنده:

د خلکو دامانتونوکیښودل او د هغودساتلود ګټو تر عنوان لاندې په پنځو کرښو کې یوه مقاله ولیکئ.

---

[۱]- المبسوط: ۱۲۳/۱۱.

ketabton.com - The Digital Library

مدينې منورې ته د نبي کريم صلى الله عليه وسلم هجرت

له هجرت څخه مخکې:

کله چې د مدينې منورې مشرانو له نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره د عقبې دويم بيعت وکړ او قريش لدې بيعت څخه خبر شول نو د مکې د مشرکينو ضرر رسول لاپسې زيات شول، ځکه دوی پوهېدل چې له مسلمانانو سره د مدينې منورې د اوس او خزرج قبيلو مرسته د مسلمانانو د قوت لامل ګرځي.

پدې وخت کې مسلمانان نبي کريم (ص) ته راغلل او له هغه څخه يې مدينې منورې ته د تللو اجازه وغوښتله، نبي کريم (ص) مدينې منورې ته د هجرت اجازه ورکړه او مسلمانانو مدينې منورې ته په پټه توګه هجرت پيل کړ.

د هجرت په اړه د ابوبکر صديق (رض) غوښتنه:

ابو بکر صديق (رض) هم نبي کريم (ص) ته تشريف يوړ او مدينې منورې ته يې د هجرت اجازه ورڅخه وغوښته خو نبي کريم (ص) ورته وويل: يو څه وخته دې انتظار وباسي امکان شته چې الله تعالى ورته ملګری پيدا کړي.

د دې خبرې په اورېدو سره ابوبکر صديق (رض) ډېر خوښ شو او د سفر لپاره په تيارۍ نيولو بوخت شو، دوه قوي اوښان يې تيار کړل.

د مکې د مشرکينو د مشرانو دسيسه:

د قريشو مشرانو دا خبره حس کړه چې نبي کريم (ص) مدينې منورې ته هجرت کوي، او کله چې نبي کريم (ص) مدينې منورې ته هجرت وکړي نو شونې ده چې مسلمانان به د عزت او قدرت خاوندان شي، چې دا به د دوی لپاره لوی خطر وي، لدې امله دوی په دار الندوة کې را ټول شول، چې پدې وخت کې ابليس هم د نجد د خلکو په جامه کې دې مجلس ته ورغی، او جلسه پيل شوه.

يوه وويل: پرېږدئ چې محمد له مکې څخه بهر شي او موږ يې له شر څخه په آرام شو.

ابليس وويل: دا خبره سمه نده، ځکه هغه کولای شي چې په خپل ځان خلک را ټول کړي او په راتلونکي کې د ستاسو لپاره ډېرې ستونزې پيدا کړي.

ketabton.com - The Digital Library

بل وويل: هغه بندي کوو تر هغه چې مړ شي.

ابليس وويل: دا هم سمه خبره نده، ځکه چې ملګري يې خبرېږي او هغه لـــه مـــورِ څخـــه خلاصوي.

ابو جهل وويل: له هرې قبيلې څخه يو تکړه ځوان ټاکو او هر يوه ته تبره توره ورکوو، تر څو ټول په يو ځای په محمد باندې حمله وکړي او هغه په يو وژونکي ګوزار سره ووژني، چې پدې صورت کې به د محمد قبيله (عبدمناف) و نشي کولای له ټولو عربو سره جنګ وکړي، نو په پای کې به اړ شي چې د ديت اخيستلو ته غاړه کېږدي.

ابليس وويل: همدا معقوله خبره ده.

پدې ترتيب ټول له ابليس او ابو جهل سره پدې نظر کې سره شريک شول او ټول اتفاق ته ورسېدل.

لدې توطئې څخه د نبي کريم (ص) خبرېدل: پدې وخت کې جبرئيل امين نبي کريم (ص) ته راغی او ورته ويې وويل چې: د هجرت تياري ونيسه او نن شپه په خپله بستره کې مه ويده کېږه، هماغه وو چې نبي کريم (ص) د هجرت تياری ونيو.

حضرت علي (رض) ته دنده سپارل: څرنګه چې له نبي کريم (ص) سره د مکې د خلکو ډېر امانتونه موجود وو او هغه صلی الله عليه وسلم نه غوښتل چې دا امانتونه ضائع شي. او همدارنګه د دې لپاره چې ابو جهل او ملګري يې دا ګومان وکړي چې نبي کريم (ص) تر اوسه پورې په خپل کور کې دی، نو حضرت علي (رض) ته يې وظيفه وسپارله چې د ده په کور کې پاتې شي، څو خلکو ته يې خپل امانتونه وسپاري او د قريشو توطئه جوړوونکي مصروف وساتي، او ورته يې لاربنوونه وکړه چې هوښيار او خپل حال ته متوجه واوسي، همدارنګه دا اطمنان يې هم ورکړ چې کفار ده ته هېڅ ضرر نشي رسولای، ځکه نبي کريم (ص) خبر درلود چې قريشو يوازې د هغه صلی الله عليه وسلم د قتل دسيسه جوړه کړې ده او د نورو د قتل او ضرر له پاره هېڅ تصميم نه لري.

له خپل کور څخه د نبي کريم (ص) وتل: نبي کريم (ص) د بعثت په څوارلسم کال د صفر په د مياشتې په اووه ويشتمه نېټه له خپل کور څخه ووت، په خپل لاس کې يې يو موټی خاورې واخيستې، هغه يې د مشرکانو په سرونو و شيندلې، او د کفارو د صفونو له منځه پداسې حال کې تېر شو چې د يس سورت يې تلاوت کاوه. څه وخت وروسته دوی متوجه شول چې د هغوی د هر يوه په سر خاورې پرتې دي، يوه وويل: محمد له کور څخه وتلی دی.

ketabton.com - The Digital Library

کفار وارخطا شول، کله چې دوی کور ته ننوتل نو وېې لیدل چې نبي کریم (ص) په خپله بستره کې نشته، او پر ځای یې حضرت علي (رض) پیدا کړ.

د ثور غار ته ورتګ: مشرکینو د نبي کریم (ص) د پیدا کولو په منظور هر لوري ته کوښښونه پیل کړل، خو نبي کریم (ص) پدې توانېدلی و چې د ابوبکر صدیق (رض) په ملګرتیا سره د ثور غره ته (چې د مکې مکرمې په جنوب ختیځ خوا کې موقعیت لري) ولاړ شي، او هلته په یوه غار کې پناه واخلي.

ketabton.com - The Digital Library

د ثور په غار کې د نبي کريم (ص) پاتې کېدل:



نبي کريم (ص) له ابوبکر صديق (رض) سره د ثور په غار کې درې ورځې پاتې شو، او پدې درېو ورځو کې هره شپه د ابوبکر صديق (رض) د زوی عبدالله په واسطه د مکې د خلکو له احوال څخه خبربدل، او عامر بن فهيره به (چې د ابوبکر صديق (رض) غلام و) هره ورځ خپل پسونه د څرولو له پاره دې ځای ته راوستل، او کله به چې دوی دواړو د هغو له شيدو څخه استفاده وکړه نو د شپې په تياره کې به ېبرته مکې ته را ستنېده.

نبي کريم (ص) دا درک کړې وه چې د مکې مشرکين به له ټولو څخه مخکې د مدينې منورې لاره (چې د مکې مکرمې شمال لور ته موقعيت لري) ډېره وخاري او تر خپل نظر لاندې به يې ونيسي، نو لدې امله يې د مکې مکرمې جنوب لوری چې په تمامه معنی معکوس او بې گومانه وه غوره کړه. له دريو ورځو وروسته د عبدالله بن اريقط په ملگرتيا د مدينې منورې په لوري وخوځېدل او له آتو شپو ورځو تېرولو ورسته مدينې منورې ته ورسېدل.

د جايزې او انعام ټاکل: قريش چې د خپلې دسيسې د ناکامېدلو له امله پرېشانه شوي وو، د اضطراري کېناستلو په پای کې يې تصميم ونيوه چې د هغوی د نيولو له پاره له هرې ممکنې وسيلې څخه کار واخلي، نو لدې امله يې سره لدې چې د مکې مکرمې څخه د وتلو ټولې لارې يې ترلې وې، داسې اعلان وکړ: هر هغه چا چې دوی دواړه يې مورِ ته په لاس را کړل سل (۱۰۰) اوښان به انعام ورکړو.

ketabton.com - The Digital Library

د سراقه بن مالک هڅه: د دې اعلان له امله سراقه بن مالک (چې په هغه وخت کې مشرک و) د هغو خلکو له جملې څخه و چې په هر لوري يې کوښښ کولو تر څو د نبي کريم (ص) کوم اثر پيدا کړي او د دغې لويې جايرې وړ وګرځي.

په ځمکه کې د سراقه بن مالک د آس پښې خښېدل: سراقه وکولای شو چې نبي کريم (ص) وويني، خو کله يې چې کوښښ وکړ څو خپل ځان نبي کريم (ص) ته نيږدې کړي نو د آس پښې يې دوه ځلې په ځمکه کې ننوتلې، سراقه پدې متيقن شو چې الله تعالی د خپل پيغمبر حفاظت کوي او دې هېڅکله نه شي کولای چې هغه ته ضرر ورسوي، نو هماغه و سراقه وعده وکړه چې دی به د نبي کريم (ص) په اړه هېڅا ته څه نه وايي، او پدې ترتيب سره سراقه مکې ته وګرځېد.

فعاليت: لاندينيو کسانو د نبي کريم (ص) په هجرت کې څه رول لوبولی دی؟:

ابوبکر، ابو جهل، حضرت علي،

سراقه بن مالک، عامر بن فهيره، عبد الله بن اريقط.

زده کوونکي دې پدې فعاليت کې په انفرادي او ډله ايزه توګه برخه واخلي.

د لوست ګټې:

۱. سره لدې چې مسلمانان د الله تعالی په مرسته يقين لري خو بيا هم بايد د کارونو په سرته رسولو کې پلان، احتياطي تدابير او اسباب په پام کې ولري.
۲. د امانتونو سپارل خپلو خاوندانو ته اسلامي فريضه ده آن تر دې چې په اضطراري حالاتو کې هم بايد ورته پام وشي.
۳. د نبي کريم (ص) په وړاندې د حضرت ابوبکر صديق او حضرت علي رضی الله تعالی عنهما د مقام او منزلت لوړوالی او د پيغمبر (ص) په هجرت کې د دوی رول.
۴. د پيغمبر (ص) په وړاندې د ابو جهل او د هغه د ملګرو بدي.
۵. د الله تعالی لخوا د خپل پيغمبر حفاظت او ساتنه.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: نورې هغه ګټې چې له لوست څخه تر لاسه کېږي، بیان کړئ.

ارزونه:

أ. لاندینیو پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. د دې لوست عمده ټکي په ګوته کړئ.

۲. نبي کریم (ص) په کوم تاریخ خپل کور پرېښود؟

۳. ولې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د خپل هجرت مسیر د ثور غار په لوري و ټاکه؟

۴. د مکې د مشرانو په جلسه کې کومې خبرې وشوې؟

ب. لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

( ) هغه شپون و چې نبي کریم (ص) او ابو بکر صدیق (رض) د ثور په غار کې د هغه له پسونو څخه ګټه پورته کوله.

ابلیس د پیغمبر صلی الله د وژلو په اړه د ( ) نظر تایید کړ.

پیغمبر (ص) د ( ) نېټه د مدینې منورې په لور د هجرت په نیت له خپل کور څخه ووت.

مدینې منورې ته د پیغمبر (ص) او ابوبکرصدیق (رض) د هجرت د لارې لارښوونه ( ) په غارِه درلوده.

کورنۍ دنده:

پورتنی لوست په لنډه توګه په خپلو تعبیرونو سره په خپلو کتابچو کې و لیکئ!

د لاندې اشخاصو نومونه په صحیح او مکمله توګه پنځه ځلې په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

(صدیق، (ابن فهیره، (ابن اریقظ، (ابن مالک)

د لاندینیو کسانو په اړه یوه یوه مناسبه جمله ولیکئ! ابوبکر صدیق، حضرت علي، سراقه بـــن مالک، عامر بن فهیره، عبد الله بن اریقط، ابو جهل او ابلیس.

ketabton.com - The Digital Library

مدينې منورې ته د نبي کريم (ص) رسېدل

د مدينې منورې لومړي کلي (قباء) ته د نبي کريم (ص) رسېدل:

کله چې د مدينې منورې مسلمانانو د نبي کريم (ص) د هجرت او د مکې مکرمې څخه د هغــه صلى الله عليه وسلم د وتلو خبر واورېد، نو هره ورځ به دښتو ته وتل، او د نبي کريم صلى الله د راتګ له پاره به سترګې په لاره وو، د نيمې ورځې له ګرمۍ څخه وروسته به بېرتــه خپلــو کورونو ته ستنېدل، بالآخره د دوشنبې په ورځ چې د ربيع الاول د مياشتې آتمه نېټه او د بعثت څوارلسم کال و، له انتظار وروسته بېرته خپلو کورونو ته را وګرځېدل نو پدې وخت کې يو تن يهودي چې د خرما په ونه کې و، ناڅاپه يې سترګې په نبي کريم (ص) او د ده په خواږه ملګري ابوبکرصديق(رض) ولګېدې، په ناڅاپي توګه يې په لوړ آواز وويل: اى د عربو ټولیه! دغــه دى ستاسې هغه لارښود چې تاسو يې د راتګ انتظار کوئ، او ليدلو ته يې تږي او لېواله ياستئ.

مسلمانان چې د نبي کريم (ص) په رارسېدلو ډېر خوشحاله شول، د تکبير په ويلو سره د نبــي کريم (ص) مخې ته ورغلل، او د پيغمبر په صفت سره يې هغه ته هرکلى ووايه.

قباء:

قباء د مدينې منورې لومړى هغه کلى دى چې د مدينې منورې جنوب لور ته د مکې مکرمې په لار کې پروت دى، کله چې نبي کريم (ص) قباء ته ورسېد، نو لومړى هغه څوک چې د نبي کريم (ص) د مېلمستيا شرف يې په برخه شو کلثوم بن هدم وه.

رسول الله (ص) په قباء کې د خپل ځلور ورځني اقامت په ترڅ کې تر ټولو مخکې د قباء په نوم د هغه مسجد بنسټ کېښود، چې په قرآن کريم کې ورځخه د تقوى د مسجد په نامه يادونه شوې ده، او په هغه کې يې لمونځ اداء کول پيل کړل.

ketabton.com - The Digital Library

د حضرت علي (رض) رسېدل:

حضرت علي رضى الله تعالى عنه چې كله د پيغمبر (ص) د لارښونو سره سم د خلكو امانتونـــه دوى ته وسپارل نو د مدينې منورې په لور يې حركت وكړ او پيغمبر (ص) په قباء كې و چـــې حضرت علي (رض) ورورسېد.

له قباء څخه د مدينې منورې په لور:



په پنځمه ورځ (چې د جمعې مبارکه ورځ وه) نبي كريم (ص) د بني نجار خلک چې د ده له ماماګانو څخه وو راوبلل، هغوى هم د خپل اخلاص له مخې چې له نبي كريم (ص) سره يې درلود، ټول له خپلو تورو سره د نبي كريم (ص) په خدمت كې حاضر شول، نبي كريم (ص) د بني نجار د خلكو په ملګرتيا د مدينې منورې مركز ته حركت وكړ او د جمعې مباركې ورځې د لمانځه د وخت په رارسېدلو سره يې د بني سالم بن عوف په منطقه كې د جمعې لمونځ اداء كړ.

ketabton.com - The Digital Library

مدينې منورې ته داخلېدل: په همدغه ورځ د جمعې د لمانځه له اداکولو څخه وروسته پیغمبر اکرم (ص) د یثرب ښارګوټي ته ننوت، چې لدې ورځې وروسته په مدينة الرسول او یا مدینه منوره سره ونومول شو، (مدینه په عربي ژبه کې د ښار په معنی ده، یعنې د پیغمبر ښار او یا نوراني ښار). مدینې ته د نبي کریم (ص) په رسېدلو د مدینې منورې د کلیو خلک ډېر زیات خوښ او خوشحاله شول، خلکو خپله خوشحالي په مختلفو ډولونو ښکاره کوله، د انصارو وړو او کوچنیو نجونو په ډېره خوښۍ او خوشحالۍ سره دغه بیتونه د هرکلي د ترانې په توګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته وړاندې کول:

طلع البـــــدرعلينا　　من ثنيات الـــــوداع
وجب الشكر علينا　　مـــــا دعـــا لله داع
ايهـــا المبعوث فينا　　جئت با لامر المطاع

ترجمه:

د وداع (په مدینه منوره کې د یو کلي نوم دی)له څوکو نه پر مـــوږ بانـــدې د څوارلـــسمې سپوږمۍ را وختله

پر موږ باندې شکر واجب دی تر هغې چې د الله لوري ته یو دعوتګر دعوت (بلنه) کوي.

ای موږ ته راتلونکیه! تا له ځان سره داسې حکم راوړی دی چې منل او اطاعت یې فرض دی.

د هرکلي بیتونه او د هغې ترجمه په ازموینه کې داخله نده.

ketabton.com - The Digital Library

د انصارو د خلکو هیلې:

سره لدې چې د انصارو خلک شتمن او بډای نه و خو د هغه ایماني احساس له مخې چې دوی درلود هر یوه یې غوښتل چې نبي کریم (ص) د هغه کور ته تشریف یوسي، د نبي کریم (ص) د اوښ پرې به یې نیولو او ویل به یې: پر ما احسان وکړه، زه په خدمت کې یم، مگر رسول اکرم (ص) فرمایل: د اوښ لاره خوشې کړئ! هغه خپل ځای پیژني. تر هغه چې اوښه د ابو ایوب انصاري د کور مخې ته گونډه شوه، او پیغمبر (ص) ورځخه را ښکته شو او له هغه څخه وروسته یې د ابو ایوب انصاري په کور کې استوگنه غوره کړه.

په مدینه منوره کې د نبوي مسجد جوړول:

په مدینه منوره کې تر ټولو لومړی کار چې نبي کریم (ص) تر سره کړ، هغه د نبوي مسجد جوړول وو، چې رسول اکرم (ص) په خپلو مبارکو لاسونو باندې په جوړولو کې یې کار وکړ.

د لوست گټې:

۱. د مدینې منورې د خلکو (انصارو) مینه او اخلاص د پیغمبر (ص) سره.

۲. په اسلام کې د مسجد جوړولو ارزښت، ځکه تر ټولو لومړی کوم کار چې پیغمبر (ص) په مدینه منوره کې تر سره کړی هغه د مسجد جوړول ؤ.

۳. د مسلمانانو د مشرانو د هرکلي لپاره د خوښۍ ځرگندولو او د هرکلي د ترانو د ویلو روا والی.

۴. د ابو ایوب انصاري مقام او منزلت.

ketabton.com - The Digital Library

فعاليت: لدې لوست څخه چې نورې کومې ګټې تر لاسه کېږي، بيان کړئ.

ارزونه:

أ. لاندينيو پوښتنو ته ځوابونه ووياست:

١. د لوست عمده ټکي بيان کړئ.

٢. پيغمبر (ص) او ملګرى يې په کومه نېټه قباء ته ورسېدل؟ او څو ورځې يې هلته تېرې کړې؟ او تر ټولو مخکې يې څه وکړل؟

٣. پيغمبر (ص) د کومو خلکو په ملګرتيا د مدينې منورې په لورې حرکت وکړ؟

٤. د يثرب نوم له کوم وخت څخه په مدينة الرسول تبديل شو؟

ب. لاندينې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

١. پيغمبر (ص) لومړى د جمعې لمونځ په ( ) کې اداء کړ.

٢. په قباء کې د نبي کريم(ص)د اوسېدلو وخت ( ) ورځې وو.

٣. پيغمبر (ص) په قباء کې د اوسېدلو په وخت ( ) جوړ کړ.

کورنۍ دنده:

د لوست ارزښتناک ټکي په يوه مقاله کې وليکئ!

پورتنې لوست ته په کتو سره لاندينيو کسانو او قومونو څه رول لوبولى دى؟

يهودي سړي، کلثوم بن الهدم، علي بن ابي طالب، بني النجار، بنـــي ســـالم، د انصارو کوچنيو نجونو، ابو ايوب انصاري.

ketabton.com - The Digital Library

يوويشتم لوست

د مسلمانانو تر منځ د وروړگلوی ټړون

پيغمبر (ص) د لومړي ځل لپاره د مهاجرينو او انصارو تر منځ د اسلامي وروگلوی ټړون قـــايم کړ، چې د هغې اړيکې له نسبي اړيکو څخه هم ډېرې کلکې او محکمې وې.

د مهاجرينو او انصارو تر منځ وروړگلوي: مدينې منورې ته د نبي کريم (ص) له رسېدلو وروسته د مهاجرينو او انصارو تر منځه د وروړگلوی ټړون اعلان وشو، پدې بنياد د انس بن مالک په کور کې يې د نوي تنو صحابه کرامو تر منځ چې نيمايي يې انصار او نيمايي نور يې مهاجر وو د وروړ گلوی ټړون اعلان وکړ، چې د هغې له امله به يې يو له بل څخه ميراث هم وړلای شو، او دا کار د مسلمانانو يو بل ته د ډېرې پاملرنې لامل و گرځېد.

د مدينې منورې د اوسېدونکو سره د يووالي ټړون: لکه څنگه چې نبي کريم (ص) د مهاجرينو او انصارو تر منځ د وروړگلوی ټړون غښتلی کړ، همدارنگه يې د انصارو تر منځه او په ځانگړې ډول د اوس او خزرج قبيلو تر منځ چې د ډېرو کلونو را پدېخوا يې له يو بل سره دښمني درلوده، د وروړگلوی ټړون قايم کړ.

همدارنگه پيغمبر (ص) د مدينې منورې له ټولو اوسېدونکو يعنې له مـــسلمانانو، مـــشرکانو او يهودو سره د وروړگلوی ټړون لاسليک کړ، چې د هغې په وسيله د مدينې منورې اوسېدونکو ته ديني او اقتصادي ازادي ورکړل شوه، او د بهرني يرغل په وړاندې ملکف وو چې له يو بـــل سره مرسته وکړي.

د لوست گټې:

۱. د مسلمانانو تر منځ د وروړگلوی د اړيکو ژوندي کول او په ځانگړې ډول په هغه وخت کې چې يوه ډله له دوی څخه مهاجر او بې کوره وي او بله ډله په ښه حالت کې قرار ولري.
۲. د گډو مصالحو (گټو) څخه د دفاع په منظور د مختلفو قومونو او طايفو سره د اړيکو د ټړون تـــر سره کولو جواز.
۳. د مسلمانانو تر منځ او په ځانگړې توگه د هغو مسلمانانو تر منځ چې له يو بل سره دښمني ولري، د صلحې او وروړگلوی ټينگول.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: لدې لوست څخه نورې کومې ګټې تر لاسه کېږي؟ بیان یې کړئ.

ارزونه:

أ. لاندینیو پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:

١. د دې لوست عمده ټکي بیان کړئ!

٢. د مدینې منورې له اوسېدونکو سره د یووالي ټرون څرنګه تر سره شو؟

کورنۍ دنده:

پورتنی لوست په لنډه توګه په خپلو عبارتونو په کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

له نورو قبيلو سره د رسول الله (ص) تړونونه

کله چې رسول الله (ص) په مدينه منوره کې د مسلمانانو تر منځ د ورورګلوی تړون ټينګ کړ، نو د اسلامي ټولنې د پياوړيتوب او د مدينې منورې د ساتنې په غرض يې مدينې منـــورې تـــه د نېږدې سيمو له اوسېدونکو سره هم تړونونه لاسليک کړل.

د بني عوف له يهودو سره تړون:

د مدينې منورې په شاوخوا کې د يهودو ځينو قبيلو ژوند کاوه، دوی له مـــسلمانانو ســـره خپله دښمني پټه ساتله، خو نبي کريم (ص) له دوی سره له احتياط څخه کار اخيسته، لدې امله يې له دوی سره ځينې تړونونه لاسليک کړل چې مهم ټکي يې په لاندې توګه دي:

۱. د بني عوف يهود د مسلمانانو متحدين دي، يهود به په خپل دين او مسلمانان به په خپل دين اوسي.
۲. که د تړون په يوه لوري د پردیو له خوا تېری کېږي، د تړون په دواړو لورو لازم دي چې په اتفاق سره د يرغلګرو پروړاندې له يو بل سره مرسته وکړي.
۳. د تړون دواړه لوري په خپل منځ کې د يو بل له پاره د خير غوښتونکي وي.
۴. د تړون هېڅ يو لوری د بل لوري د جنايت مسوول ندی.
۵. د تړون دواړه لوري به د مظلوم مرسته کوونکي وي.
۶. د جنګ په وخت کې به د تړون هر لوری خپل مالي مصارف په خپله غاړه اخلي.
۷. د مدينې منورې سيمه د حرم (ممنوعه سيمې) حيثيت لري.
۸. که د تړون د دواړو لورو تر منځ کومه ستونزه پيدا کېږي نو د الله تعالی او د هغه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د لارښوونو مطابق به فيصله کېږي.

ketabton.com - The Digital Library

د لوست ګټې:

۱. مسلمانان باید کوښښ وکړي چې له خپلو ګاونډیانو سره نېکې اړیکې ولري.
۲. مسلمان باید دخپل ګاونډي لپاره د خیر غوښتونکی اوسي.
۳. مسلمان باید له مظلوم څخه دفاع وکړي.
۴. د اسلامي هېواد لپاره د ښه امنیت په موخه دا لازمه ده چې له ګاونډیانو سره یې د دوستۍ، او تفاهم ټرونونه لاسلیک کړي.
۵. د محاربینو څخه د اسلامي خاورې د دفاع په منظور مسلمانانو ته روا دي چې له غیر مسلمانانو سره ائتلاف وکړي.

ارزونه:

أ. لاندینیو پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:
۱. د بني عوف له یهودانو سره د پیغمبر (ص) د ټرون مهم ټکي بیان کړئ.
۲. د لوست ګټې واضح کړئ.

کورنۍ دنده:

دغه لوست په خپل تعبیر سره په کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د مسلمانانو په ضد د قریشو د سیسې

د قریشو کافرانو، سره لدې چې مسلمانانو ته یې په مکه مکرمه کــې ډول ډول شــکنجې او ضررونه ورسول او مدینې منورې ته د هجرت په وخت کې یې هم دوی ته ضرر ورساوه، خو بیا یې هم له مسلمانانو سره له دښمنۍ څخه لاس وانخیست.

عبد الله بن ابی بن سلول ته د قریشو د لیک لیږل:

د مکې مشرکینو عبد الله بن ابی بن سلول ته (چې د مدنیې منورې له مــشرانو څخــه وو) لیــک واستاوه، چې پکې راغلي وو:

تاسو زموږ دښمن ته ځای ورکړی دی، په الله دې قسم وي، چې یا خو به له ده سره جنګ کوئ او له مدینې څخه یې وباسئ، او یا دا چې زموږ د راتلو انتظار وباسئ، تر څو ستاسې جنګیالي مــړه او عزت مو تر پښو لاندې کړو.

د پیغمبر (ص) په وړاندې د عبد الله بن ابی د جنګ تیاری: کله چې دغه لیک د عبد الله او د هغه د ملګرو لاس ته ورغی، هغوی د پیغمبر (ص) مقابلې ته را وړاندې شول، نبي کریم (ص) د دوې له بدو نیتونو څخه خبر شو، پخپله یې د دوې غونډې ته تشریف یووړ، او دوې ته یې وویل: د عبد الله خبرې د مکې د کفارو د درواغجنو تبلیغاتو نتیجه ده. هغوی نشي کولای چې د مدینې اوسېدونکو ته زیان ورسوي. او عبدالله او ملګرو ته یې وویل: آیا تاسو غواړئ چې له خپلو اولادونو او خپلو وروڼو سره جنګ وکړئ؟

عبد الله بن ابی د پیغمبر (ص) د خبرو په اورېدو سره له جنګ څخه لاس په سر شو او ولاړل.

ketabton.com - The Digital Library

د لوست ګټې:

۱. مسلمانان په حکمت او نېکې موعظې سره کولای شي چې د ډېرو لویو ستونزو مخه ونیسي.
۲. مسلمانان باید کوښښ وکړي تر څو د داخلي اختلافاتو مخنیوی وکړي، په ځانګړي ډول په هغه وخت کې چې کله له خارجي دښمن سره مخ وي.
۳. له منافقینو سره مخامخ کېدل ډېر ځلې د مسلمانانو تر منځ د نفاق لامل ګرځـــي، او پـــه ځانګړي ډول په هغه وخت کې کله چې د مسلمانانو تر منځ قومي شعارونه موجود وي.
۴. د مسلمانانو لارښود باید په مناسب وخت کې د دښمن له دسیسو څخه ځان خبر کړی و اوسي، څو مخکې له مخکې لاس په کار شي.

ارزونه:

أ. لاندینیو پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:
۱. د لوست عمده ټکي بیان کړئ.
۲. د دې لوست ګټې په ډاګه کړئ.
۳. عبد الله بن ابي بن سلول څوک ؤ؟

کورنۍ نده:

د دې لوست په اړه یوه مقاله ولیکئ او مناسب عنوان ورته غوره کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

د بدر غزا

ketabton.com - The Digital Library

د بدر غزوه د اسلام په تاريخ کې لومړنۍ سرنوشت ټاکونکې غزوه وه چې د رمضان المبـــارک په مياشت د هجرت په دويم کال په بدر نومي ځای کې (چې له مدينې منورې څخه په (۱۵۰) کيلو متره فاصله کې واقع دی) د مسلمانانو او مشرکينو تر منځ واقع شوه.

د بدر د جنګ لاملونه:

کله چې مسلمانانو له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت وکړ، نو د قريشو د مشرکينو له وېرې مدينې منورې ته د خپلو مالونو په وړلو ونه توانېدل، هماغه وو چې مالونه يې د مکې د مشرکينو له لوري غصب شول، په همدې بنياد چې کله مسلمانان او په ځانګړي ډول مهاجرين د ابو سفيان په مشرۍ د قريشو د تجارتي قافلې څخه خبر شول، چې له شام څخه د مکې پـــه لور روانه ده، پدې هوډ شول چې د قافلې لاره ونيسي، او د مسلمانانو غصب شـــوي مالونـــه ورځخه پدې ترتيب ببرته ترلاسه کړي، پيغمبر (ص) له دری ســـوه او ديارلـــسو (۳۱۳) تنـــو مسلمانانو سره له مدينې منورې څخه د ابوسفيان د قافلې د لارې نيولو په نيت را ووت، کلـــه چې دغه خبر ابو سفيان ته ورسېد، هغه سملاسي دمکې مشران د مسلمانانو له نيت څخه خبـــر کړل، او د خپلې قافلې د نجات له پاره يې د مرستې غوښتنه وکړه، د مکې مشرکينو د خپلـــې قافلې د نجات له پاره سملاسي له يو زر او دری سوه تنو لښکر سره د ابو سفيان د مرستې لـــه پاره ورودانګل، خو ابوسفيان د خپلې ځيرکۍ په مرسته قافله په بله لار روانه کړه، او مکې تـــه يې ورسوله.

قريش د مسلمانانو لدې حرکت څخه ډېر سخت په غوسه شول، او سره لدې چې مکې مکرمې ته د قافلې له روغ رسېدلو څخه خبر شول، مګر د مشرکينو د لـــښکر مـــشر ابـــو جهـــل د مسلمانانو سره په جنګ کولو ډېر ټينګار وکړ، د مشرکانو د لښکر مشر ابوجهل، د خپل هغـــه جاهلي غرور له مخې چې يې درلود، قسم ياد کړ او ويې ويل: په الله مې قسم چې بدر تـــه بـــه ځم، هلته به دری شپې او ورځې مېلې جوړوم، تر څو ټول عرب زمونږ له قوت څخه خبر شي او د تل له پاره له مونږ څخه ووېرېږي.

لدې امله د قريشو لښکر د بدر په لور حرکت وکړ، خو د بني زهره وو دری ســـوه تنـــو لـــه مسلمانانو سره له جنګ مخ واړاوه، او د اخنس بن شريک په مشرۍ مکې ته واپس وګرځېدل.

ketabton.com - The Digital Library

د مسلمانانو او د مکې د مشرکینو تیاری:

د بدر په غزا کې د مسلمانانو شمېر ۳۱۳ تنه وو، چې یوائې په دوو آسونو او ۷۰ اوښانو سمبال وو. د مکې د مشرکینو شمېر د بدر په غزا کې ۱۰۰۰ تنه وو، چې د دوی له جملې څخه ۷۰۰ تنو جنګي زغري درلودې، او ۱۰۰ تنه یې په آسونو سپاره وو، د اوښانو شمېر یې هم ډېر زیات و، چې د نقلي لوازمو د نقلولو په وخت کې یې ورڅخه کار اخیست، او د غوښو څخه یې هم ګټه اخیسته.

له مجاهدینو سره د رسول الله (ص) مشوره کول:

نبي کریم (ص) د مسلمانانو مشورتي غونډه جوړه کړه، ابو بکر، عمر، مقداد بن عمرو او سعد بن معاذ رضی الله تعالی عنهم هر یوه په خپل نوبت سره خپل نظرونه څرګند کړل، پدې تصمیم و نیول شو چې د قریشو د لوی لښکر په وړاندې باید مقاومت وشي، او د جنګ له پاره باید تیاري ونیول شي، خباب بن منذر (رض) د مسلمانانو د جنګ د قرارګاه په اړه خپل نظر وړاندې کړ، چې باید د بدر اوبو ته نېږدې و اوسي، پیغمبر (ص) د ده نظر تایید کړ، هغه ځای یې خوښ کړ چې د بدر اوبو ته نېږدې و، او همدارنګه یې نوې ځاګانې و اېستې، تر څو د ځښاک پرېمانه اوبه ولري.

له الله تعالی څخه دعا غوښتل:

سهار مهال کله چې دواړه لښکرې سره مخامخ شوې، رسول الله (ص) د مجاهدینو صفونه برابر کړل، جنګي مسئولینو ته یې خپلې وروستۍ لارښوونې وکړې، لاس په دعا شو او ویې ویل: ای الله! د مرستې هغه وعده دې چې له ماسره کړې وه نن ورځ هغه پوره کړه، ای الله! که نن ورځ د مسلمانو دغه ټولی هلاک شي نو دځمکې پر مخ به ستا عبادت ونه شي.

ketabton.com - The Digital Library

تن په تن جنګ (مبارزه):



د پيل په وخت کې د معمول په څېر د قريشو دری تنه تر ټولو ښه تکړه جنګ کوونکي عتبه او شيبه د ربيعه زامن او وليد د عتبه زوی چې ټول له يوې کورنۍ څخه وو، د جنګ ميدان تــه را وړاندې شول، او د مبارزې لپاره يې د دښمن غوښتنه وکړه، د انصارو څخه دری تنه عــوف، معوذ چې د حارث زامن وو، او عبد الله بن رواحه د دوی مخې ته ور وړاندې شــول، خــو د قريشو جنګ کوونکو له دوی سره د جنګ کولو څخه انکار وکړ، او د خپلو ترونو د زامنــو غوښتونکي وو.

پيغمبر (ص) د عبيده بن حارث، حمزه او علي رضی الله تعالی عنهم ته د وتلو حکم وکړ. حمزه (رض) خپل دښمن شيبه او علي (رض) هم خپل دښمن وليد ډېر ژر وواژه، يواځې عبيده (رض) چې د پاخه عمر خاوند و، خپل دښمن ته يې وخت ورکړ، تر څو چې حمزه او علي (رضی الله تعالی عنهما) د خپلو دښمنانو له وژلو څخه وزګار شول او ټولو په ګډه سره هغه وواژه.

ketabton.com - The Digital Library

ډله ییز یرغل:

د دغو دریو تنو په وژل کېدو سره د مشرکینو غوسه زیاته شوه، له کینې څخه په ډکو زړونو یې پر مسلمانانو باندې په ډله ییزه توګه یرغل وکړ، مسلمانانو چې له الله تعالی څخه یې یـــواځینی غوښتنه د دښمن پر وړاندې ثبات او استقامت و، د کفارو یرغلونه یې یو پر بل پسې په شـــا و تمبول او په ښه توګه یې له خپل ځان څخه دفاع وکړه. او پداسې حال کې چې د (اَحَد، اَحَد) کلمه یې پر ژبو جاري وه، دښمن ته یې ملا ماتوونکې ګوزارونه ورکړل.

د ابو جهل وژل کېدل: د مشرکانو د لښکر مشر ابو جهل په خپلو لښکرو کې د ماتې د نښو له لیدلو وروسته کوښښ وکړ څو د اسلامي لښکر په وړاندې د هغوی روحیات د دویم ځل له پاره را ژوندي کړي او هر لوري ته به یې منډې وهلې. ناڅاپه دوو زلمیو مجاهدینو د باز په څېر په ابو جهل حمله وکړه، د تورې د ګزار له امله یې ورون پرې شو او له آس څخه را پرېوت، او د پرله پسې ګوزارونو له امله له حرکت څخه ولوېده.

د مشرکینو ماتې او د دوی تېښته: کله چې د مشرکینو په لښکرو ماته ګډه شوه، او د مجاهدینو د سختو حملو له امله د دوی جنګي نظام په بشپړه توګه ګډوډ شو، نو مشرکینو د تېښتې لاره غوره کړه، سره لدې چې دوی د جنګ میدان په ډېر بد حالت کې پرېښود خو بیا هم د مجاهدینو له لوري تر ډېرو لیرې ځایونو پورې تعقیب شول.

د جنګ تنیجه: پدې تاریخي غزا کې چې د مشرکینو په ریښتوني ماتې او د مسلمانانو په ریښتوني بریالیتوب پای ته ورسېده، (۱۴) تنه مسلمانان په شهادت ورسېدل، او د مشرکینو له لوري اویا (۷۰) تنه چې ډېر یې د قریشو مشران وو، ووژل شول او اویا (۷۰) تنه نور یې بندیان ونیول شول، چې بیا وروسته په مختلفو لارو آزاد شول، تر دې چې ځینې یې لسو تنو زده کوونکو ته د زده کړې په بدله کې آزاد شول.

ketabton.com - The Digital Library

د لوست ګټې:

۱. د دښمن کاروان ته لار نیول شونې ده چې په لوی جنګ تبدیل شي، نو لازمه ده چې له یوه لوري د هغې له پاره د جواز دلیل پیدا شي او له بل لوري د جګړې د خطر ناکو پایلو لـــه پاره پوره تیاری ونیول شي.

۲. له خپلو ملګرو او په ځانګړي ډول له مخلصو او متخصصو ملګرو سره مشوره کول ښـــې پایلې لري.

۳. بریالیتوب ته د رسېدو په منظور له ټولو روا امکاناتو څخه ګټه اخیستل.

۴. الله تعالی ته دعاء او له هغه څخه د مرستې غوښتل.

۵. غرور، کبر او خپل ځان غوښتل ناوړه پایلې لري.

٦. څرنګه چې مسلمان له مرګ څخه وروسته په بیا ژوند ایمان لري، نو د دښمن ســـره پـــه مقابله کې نه وارخطا کېږي، او په لوړه روحیه او پر حواسسو باندې د پوره حاکمیت لـــه لارې خپل حرکات په ښه توګه کنترولوي، چې دا ټکی یې د بریالیتوب مهم لامل ګڼل کېږي.

۷. جنګي بندیان باید ونه وژل شي او په ځانګړې توګه هغوی چې جنګي مجرمان نه وي.

۸. د علم زده کړه په اسلام کې ډېر ارزښت لري.

فعالیت: له لوست څخه کومې ګټې تر لاسه کېږي؟ بیان یې کړئ.

ارزونه:

أ. لاندینیو پوښتنو ته ځوابونه ووایاست:

۱. د بدر د غزا علت څه ؤ؟

۲. د بدر په غزا کې د مسلمانانو او مشرکانو شمېر او تجهیزات څومره وو؟

۳. د بدر د غزا نتیجه څه وه؟

۴. د بدر غزا په کوم کال او کومه سیمه کې واقع شوه؟

ب. لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

۱. ( ) خپل حریف شیبه او ( ) خپل حریف ولید ډېر ژر ووژل.

۲. ( ) چې د پاخه عمر خاوند و، خپل حریف ته یې وخت ورکړځو ( ).

۳. ( ) وتوانېدو چې د قافلې مسیر ته تغیر ورکړي اومکې ته یې روغه ورسوي.

کورنی دنده:

۱. د بدر د غزا مهم ټکي په خپلو کتابچو کې ولیکئ!

۲. پدې لوست کې د لاندینیو کسانو رول ته په کتلو سره د دوی په اړه مناسبې جملې ولیکئ:

حمزه بن عبد المطلب، علي بن ابي طالب، عبیدة بن الحارث، شیبه بن ربیعـــة، عتبه بن ربیعة، ولید بن عتبة، ابوجهل، ابو سفیان، اخنس بن شریک، حباب بن منذر.

ketabton.com - The Digital Library

د احد غزا

د احد غزا د احد په سیمه کې، چې د مدینې منورې شمال لوري ته موقعیت لري، د هجرت په دریم کال د شوال په ۷ مه نېټه پېښه شوه.

د بدلې اخیستلو له پاره د قریشو تیاری:

پدې اساس قریشو په یوه اتفاق له مسلمانانو سره د یو پرېکنده جنګ له پاره په تیاري نیولو پیل وکړ، د هغې قافلې ټول مالونه یې چې د بدر د غمیزې پېښې لامل شوي وو، پـــدې لاره کـــې وقف کړل، د راتلونکي کال په را رسېدلو سره د مکې خلک له دریـــو زرو ۳۰۰۰ مـــسلح جنګیالیو سره چې دری زره ۳۰۰۰ اوښان، اووه سوه ۷۰۰ جنګي زغرې، دوه ســـوه ۲۰۰ آسونه او د جنګیالو د احساساتو د ښو پارولو له پاره یو شمېر ښځې ورســـره ملګـــرې وې، د مدینې منورې په لوري روان شول.

په مدینه منوره کې د شورى جوړېدل:

د مشرکینو لښکر د حرکت د خبر له رسېدو سره سم رسول الله (ص) له خپلو ملګرو سره مشورتي غونډه جوړه کړه، څو د مشرکینو په وړاندې خپله تیاري ونیسي، د پیغمبر (ص) شخصي نظر دا و چې باید د مدینې منورې په داخل کې له مشرکینو سره جګړه وشي، د منافقینو رئیس عبد الله بن ابي بن سلول هم لدې نظر سره خپله موافقه اعلان کړه.

ketabton.com - The Digital Library

ځينې صحابه کرامو لکه حضرت حمزه (رض) له مدينې منورې څخه وتل وغوښتل، نو هماغه وو چې د مسلمانانو د ډېر ټينګار په نتيجه کې رسول الله (ص) دا تصميم ونيوه چې د کفارو سره د مقابلې له پاره له مدينې منورې څخه بهر ولاړ شي.

له جنګ څخه د عبد الله بن ابی را ګرځېدل:

عبد الله بن ابی چې اصلي موخه يې د مجاهدينو د مورال ټيټول او دښمن ته جرات ورکول وو، له خپلو درې سوو تنو ملګرو سره بېرته مدينې منورې ته راستون شو.

د مسلمانانو د صفونو تنظيمول:

کله چې رسول الله (ص) له خپلو ملګرو سره د احد غره ته ورسېد، پنځوسو تنو ښو تجربه کارو غشو وېشتونکو ته يې د عبد الله بن جبير په مشرۍ دنده وسپارله، څو د هغې غونډۍ په سر چې وروسته په جبل رمات ونومول شوه سنګر ونيسي، چې له يوې خوا دښمن پر غشو ولي او له بلې خوا به دښمن دې ته نه پرېږدي چې په ناڅاپي ډول پر مسلمانانو د شا له خوا حمله وکړي، پيغمبر (ص) دوی ته ډېر ټينګار وکړ چې د پيغمبر (ص) له امر پرته به په هېڅ ډول خپل ځای ته تغير نه ورکوي، تردې چې که جنګ پای ته هم ورسېږي او مشرکين و تښتي.

د جنګ پيل:

دواړه لوري د يو بل په وړاندې ودرېدل، طلحة بن ابي طلحة عبدري د مکې د مشرکينو له لوري پداسې حال کې چې په اوښ يې سپور و د جنګ ميدان ته را وړاندې شو، او د مقابلې له پاره يې د حريف غوښتنه وکړه، زبير بن العوام (رض) يې د مقابلې له پاره ور وړاندې شو، او له مهلت ورکولو پرته يې په هغه باندې د زمري په څېر حمله وکړه او د سر په پرې کولو سره يې هغه په ځمکه وپرځاوه، د دې صحنې په ليدلو سره رسول الله (ص) په لوړ آواز د تکبير نعره کړه چې ټولو صحابه کرامو ورسره د تکبير آوازونه پورته کړل.

له هغې وروسته جنګ په ډېره تېزۍ سره پيل شو، د مشرکينو د بيرغ اخيستونکي يو پر بل پسې ووژل شول.

د مسلمانانو ځانونه قربانول:

مسلمانانو د جنګ ميدان په بشپړه توګه تر خپل کنترول لاندې درلود، د خپلو جنګي کارنـــامو او لوړ همت په ښکارولو سره يې مشرکانو ته ماتې ورکړه او تېښتې ته يې اړ کړل.

ketabton.com - The Digital Library

د ځینو غشو ویشتونکو تېروتنه:

پدې نازکو او حساسو شېبو کې چې د مسلمانانو وړوکی ټولی د مشرکینو پر لوی لښکر باندې د بریالیتوب په حال کې و، د مسلمانانو ځینو غشو ویشتونکو لویه تېروتنه وکړه، هغوی د غنیمتونو د ټولولو په هیله او پدې ګومان چې ګویا جنګ پای ته ورسېد او مشرکین وتښتېدل، د رسول الله (ص) له امر پرته یې خپل ځای پرېښود، لاندې راکوز شول، او د غنیمتونو په ټولولو مشغول شول.

پر مسلمانانو باندې د مشرکینو دویم ځل حمله:

پدې اساسو شېبو کې په ناڅاپي توګه د مشرکینو څخه یوې ډلې چې په آسونو سپاره وو، پر مسلمانانو د شا له خوا حمله وکړه، لومړی یې عبدالله بن جبیر او دده نهه تنه ملګري چې له ده سره په جبل رمات کې پاتې وو په شهادت ورسول، او لدې څخه وروسته یې مسلمانان له هرې خوا په ناڅاپي توګه محاصره کړل او حمله یې پرې وکړه، چې پدې وخت کې جنګ د مشرکینو په ګټه تغیر وموند، د مسلمانانو لښکر غیر منظم او تیت شو، تر دې چې تر منځ یې د رسول الله (ص) د وژل کېدو بده اوازه هم خپره شوه، خو رسول الله (ص) خپل آواز لوړ کړ او مسلمانان یې خپلې شا او خوا ته راټول کړل، چې په نتیجه کې د دښمن حمله په شا وتمبول

ketabton.com - The Digital Library

شوه،. مشرکینو نه یواځي دا چې دویم ځل حمله یې ونه کړه، بلکې و نه توانېدل چې د جنګ له میدان څخه یو څه شی له خپلو ځانونو سره واخلي او بیا خپلې قرارګاه ته له رسېدلو څخه وروسته یې د مکې لاره ونیوله.

د حمراء الاسد د غزا له پاره تیاری:

د احد په غزا کې د مسلمانانو ۷۰ تنه شهیدان شول چې حضرت حمزه او حضرت مصعب بن عمیر رضی الله تعالی عنهما هم پکې وو، او پیغمبر (ص) هم زخمي شو، مشرکینو د مسلمانانو د شهیدانو بدنونه مثله (د بدن اندامونه یې غوڅ) کړل او د مکې د مشرکینو ۳۷ تنه په هلاکت ورسېدل.

د لوست ګټې:

۱. مسلمانان باید د خپل لارښود د اوامرو اطاعت وکړي، او هېڅکله د لارښود له اوامرو څخه سرغړونه ونه کړي، (البته په معصیت او ګناه کې اطاعت لازم ندی).
۲. د مسلمانانو رهبر او لارښود باید په مهمو او ارزښتناکو مسائلو کې د نظر له خاوندانو سره مشوره وکړي.
۳. د خپل هېواد او خپلو خلکو څخه د دفاع په منظور لازم تدبیرونه نیول او له ټولو امکاناتو او روا وسائلو څخه ګټه اخیستل.

ketabton.com - The Digital Library

۴. د يوې کوچنۍ ډلې تېروتنه کله نا کله د يوه لوی ټولې له پاره د دردناکې پېښې لامل ګرځي.

ارزونه:

أ. لاندينيو پوښتنو ته ځوابونه وواياست:

۱. د غښتي ويشتونکو تېروتنه په څه کې وه؟ واضح يې کړئ.

۲. د احد د غزا سبب څه و؟ واضح يې کړئ.

۳. . د احد په غزا کې د مسلمانانو او مشرکينو د لښکرو شمېر څومره ؤ؟

ب. لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱. ( ) چې اصلي موخه يې د مسلمانانو د روحيې ضعيفول وو، له دری سوو تنو سره د مسلمانانو له ټولې څخه ووت، او مدينې منورې ته واپس وګرځېد.

۲. ( ) د طلحة بن ابي طلحة مقابلې ته ور وړاندې شو.

۳. پيغمبر (ص) پنځوس کسيزه ډله د ( ) په مشرۍ د جبل رمات په سر و ټاکله.

کورنۍ دنده:

۱. د احد د غزا مهم ټکي په خپلو کتابچو کې وليکئ!

۲. د احد په غزا کې د لاندينيو اشخاصو رول ته په کتلو سره د دوی په اړه يوه يوه مناسبه جمله وليکئ:

زبير بن العوام، طلحه بن ابی طلحه عبدري، حمزه بن عبد المطلب، عبد الله بن ابی بن سلول، او ابو سفيان.

ketabton.com - The Digital Library

اووه ويشتم لوست

د سلام فضيلت

عَن ابی هریره قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلی الله علیه وسلم : « لَاتَدخُلُوا الجَنَّةَ حَتَّی تُؤمِنُوا وَ لَا تُؤمِنُوا حَتَّی تَحَابُّوا اَوَلَااَدُلُّکُم عَلَی شَیءٍ اِذَا فَعَلتُمُوهُ تَحَابَبتُم؟ اَفشُوا السَّلَامَ بَینَکُم » رواه مسلم

د رواي پيژندنه:

د دې حدیث رواي په اول لوست کې پیژندل شوی دی.

د کلمو معنا:

۱. تُؤمِنُوا: ترڅو چې کامل مؤمنان شئ.
۲. تَحَابُّوا: چې یو بل سره مینه وکړئ.
۳. اِذَا فَعَلتُمُوهُ: کله چې تاسې هغه انجام کړ.
۴. اَفشُوا: خور کړئ.

د حديث شريف معنا:

د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي : تر هغې به جنت ته داخل نه شئ تر څو پوره مؤمنان نه شئ، او تر هغې پورې به د کامل ايمان خاوندان نه شئ تر څو چې يو له بل سره د زړه له کومې دوستان نه شي، آيا تاسي ته داسې يو کار درونه ښايم که چيري مو انجام کړ، نو په خپلو کې به مو مينه زياته شي؟ په خپلو کې يو پر بل سلام اچوئ !

د حديث شريف حكمت:

اسلام د سولې دوستۍ او صميميت دين دی ، نو اړينه ده چې مسلمانان د خپلو کړنو او ويناوو په ذريعه دا صفات په ځان کې ثابت کړي ، نو پر همدې بناء کله چې يو مسلمان د بل مسلمان سره مخ کيږي نو اولنی الفاظ چې د دوې د خولې نه تر هر څه مخکې راوځي هغه د سلام (السلام عليكم ...) الفاظ دي .

ketabton.com - The Digital Library

نو څوک چې پر چا پدې الفاظو (السلام علیکم ...) سلام واچوي ، برسیره پر دې چې هغه ته یې د خیر دعاء و غوښته او د هغه د سلامتیا غوښتونکی شو ، هغه ته یې دا پیغام هم ورواندې کړ چې زما له طرفه پوره مطمئن شه ، هیڅ کوم شر به زما له پلوه تاته و نه رسیږي ، همدا رنګه زما له پلوه بـه ستا سر مال او ابرو ته هیڅ کوم شر و نه رسیږي ، د سلام په ویلو سره انسان مقابل جانب ته خپلـه دوستي ښکاره کوي ، او د هغه زړه ته اطمئنان ورکوي ، نو بالاخره په پایله کې یـوه د دوسـتی او صمیمیت او محبت څخه ډکه فضا او ټولنه رامنځ ته کیږي .

د الله جل جلاله پیغمبر د سلام اچول د تل پاتې دوستۍ لامل بللی دی ، او مونږ یې د سلام اچولـو ته تشویق کړي یو.

فعالیت: په ډلیزه او یا انفرادي توګه د سلام اچولو ګټې وښایئ.

د حدیث شریف ګټې:

۱. **د سلام په اچولو سره انسان د پوره ایمان خاوند ګرځي:** ځکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د پوره ایمان درلودل لامل د مسلمانانو تر منځه دوستي ښودلي ده ، او د دوستي پیدا کیدلو لامل یې د سلام اچول ښودلي ، نو پردې بنا د سلام په اچولو سره انسان د پوره ایمان خاوند ګرځي .

۲. **جنت ته د ننوتلو شرط د ایمان درلودل دي:** ځکه چې جنت د مؤمنانو لپاره دی ، ولې ایمان سره باید نیک عمل هم ملګری وي ، نه بد اعمال .

۳. **یو له بل سره دوستي ساتل د پوره ایمان له نښانو څخه دي:**

۴. **د سلام اچولو کلتور (دود) باید د مسلمانانو تر منځه ژوندی وساتل شي:**

نو اړینه ده چې خپل ماشومان د سلام په اچولو سره عادت کړو ، او دا وروښایو چې پر بل څرنګه سلام اچول کیږي ، او هم د سلام جواب په څه ډول سره ورکول کیږي .

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

۱. د لاندې حدیث نیمګړي جملې پوره کړئ:

لاَ تَدخلُوا الجَنَةَ حتّی.....وَ لاَ تؤمنُوا حتی .....

وَلاَ اَدُلُّکُم علی شيءٍ اذا .....تَحابَبتُم ؟ .....السلام بَینَکُم .

۲. د لوست حدیث وواياست، او معنا يې کړئ.

۳. د حدیث د راوي په باره کې معلومات ولیکئ.

۴. د حدیث حکمت وښایاست.

۵. د حدیث څخه لاس ته راوړل شوي ګټې ذکر کړئ.

کورنۍ دنده:

د لاندې ذکر شوی حدیث عبارت د معنا سره په یادو زده کړئ .

« اَوَلَااَدُلُّکُم عَلَی شَیءٍ اِذَا فَعَلتُمُوهُ تَحَابَبتُم؟ اَفشُوا السَّلَامَ بَینَکُم » .

ketabton.com - The Digital Library

اته ويشتم لوست

د وخت او سلامتيا (صحت) ارزښت

عن ابن عباس رضی الله عنهما قال: قال النبی صلی الله علیه و سلم: « نِعمَتَانِ مَغبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ الصِّحَةُ وَ الفِرَاغُ» رواه البخاری و الترمذی.

د راوي پيژندنه:

عبد الله بن عباس بن عبد المطلب د پيغمبر صلی الله علیه وسلم د تره ځوئ ؤ ، او په وړوکوالي کې د اسلام په دين مشرف شوی ؤ ، د الله جل جلاله رسول ورته دعاء کړی وه ، د صحابه وو تر منځه تر ټولو ښه فقيه او د تفسير په علم پوهه وه، او د پيغمبر صلی الله علیه وسلم څخه يې تر دو زرو زيات احاديث روايت کړي دي ، او د هجرت په درې شپيتم کال په طايف کې وفات او خاورو ته وسپارل شو .

د کلمو معنا:

۱. نِعمَتَان: دوه نعمته .
۲. مَغبُونٌ: تاوان يې پکې ليدلی دی.
۳. الفِرَاغُ: وزګارتيا.

د حديث شريف معنا:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي : دوه نعمتونه دي چې ډيرو خلکو په کې تاوان ليدلی او ورځخه په غفلت کې واقع دي : چې هغه سلامتيا (روغ صحت) او وزګارتيا ده .

د حديث شريف حکمت:

تر ټولو ستره پانګه د انسان لپاره روغ صحت او فارغ وخت دی، ځکه چې ټول ارزښتونه د الله تعالی د توفيق څخه وروسته د همدې دوو نعمتونو پورې تړلي دي ، لدې امله د دې دوو نعمتونو څخه ګټه اخيستنه د ژوند څخه ګټه اخيستل دي، او ضايع کول يې د ژوند ضايع کول دي.

د انسان فکر هغه وخت ښه توليد کوي کله چې د هغه بدن سالم وي يعني سالم فکر په سالم بدن کې وي، او د فکر د ښې ودې لپاره بايد پوره وخت د ځان سره ولري ، مګر ډيرى خلک د دې دوو نعمتونو په ارزښت نه پوهيږي، او له دې څخه هم غافله دي چې عمر يې څومره په تيزى

ketabton.com - The Digital Library

سره تيريږي ، نو پدې حديث کې پېغمبر صلى الله عليه وسلم مونږ ته لارښوونه کوي تر څـو لـه دې دوو نعمتونو څخه ښه ګټه واخلو ، او د الله جل جلاله په عبادت او د دنيـا او آخـرت پـه جوړولو کې يې و لګوو.

فعاليت: په ډلېزه توګه د وخت د ارزښت او ورځخه د ګټې د پورته کولو په بـاره کـې خبرې وکړي .

د حديث شريف ګټې:

۱. **سلامتيا او د وخت درلودل د الله جل جلاله دوه ستر نعمتونه دي:** نو انسان بايد د دې نعمتونو شکر اداء کړي او ورځخه ښه ګټه واخلي .

۲. **د بدن سالم ساتلو ته پاملرنه:** ځکه چې د ځان ساتل د علاج څخه غوره دي، انسان بايد د صحت په سالم ساتلو کې بې غورې و نه کړي، دا ځکه کله چې د انسان د بې غورۍ په صورت کې د هغه د بدن يو غړی کار پرېږدي، او يا يې بدن په کومي ناوړه مريضي اخته شي، نو په هغه وخت کې به پښيمانتيا هيڅ ګټه ونلري.

۳. **زياتره خلک له دې دوو نعمتونو څخه په غفلت کې دي:** هغه وخت يې په ارزښت پوهيږي کله چې يې هر څه له لاسه وتلي وي.

۴. **د سلامتيا او ځوانۍ ارزښت پېژندل:** د انسان بريالېتوب پدې کې دی چې د سلامتيا او ځوانۍ ارزښت وپېژني.

ارزونه:

۱. **د لاندې ذکر شوي حديث شريف ناقصې جملې پوره کړي:**

« نِعمَتَانِ..... فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ.....وَ..... »

۲. **د حديث عبارت ووايئ ، او معنا يې کړئ .**

۳. **کوم احکام چې د حديث څخه لاس ته راځي ويې ښايئ .**

کورنۍ دنده:

۱. د لوست حديث د معنا سره دښوونکي په مشوره په ښايسته خط پر يوه تخته وليکئ ، او ليکـل شـوی حديث په خپله کوټه کې د ديوال پر مخ راوزړوي .

۲. د حديث په اړوند يوه لنډه مقاله وليکئ ، او د ليکنې لپاره يو مناسب عنوان غوره کړي .

ketabton.com - The Digital Library

د رشوت حراموالی

عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ عَمرِو بن العاص رضي الله عنه، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْـــهِ وَسَـــلَّمَ : ((الرَّاشِي وَالْمُرْتَشِي فِي النَّارِ)).رواه للطبراني في المعجم الكبير.

د راوي پيژندنه:

دغه لوی او جليل القدر صحابي عبد الله بن عمروبن العاص رضی الله تعالی عنه دی، نسب يـــې له نبي کريم صلی الله عليه وسلم سره په کعب بن لؤي کې يو ځای کېږي.

دغه صحابي عالم، د قرآن کريم قاري او د احاديثو د حافظانو له جملې څخه دی، زيات شمېر احاديث يې روايت کړي دي، او د هجرت په (٦٥) کال وفات شو.

د کلمو معنا:

٤. الرَّاشِي:	رشوت ورکوونکي.
٥. الْمُرْتَشِي:	رشوت اخيستونکي.
٦. فِي النَّار:	په جهنم کې به وي.

د حديث شريف معنا:

د حضرت عبد الله بن عمرو بن العاص رض څخه روايت دی چې رســـول الله (ص) فرمـــايلي دي:(رشوت ورکوونکي ،او رشوت اخيستونکي به دواړه په اور(جهنم) کې وي.

د حديث شريف حکمت:

رشوت هغه ناولې او کرغيړنه پديده ده چې دټولنو ټول اساسي بنسټونه له منځه وړي،دانسانيت لمنه ټولوي،بې باوري ،اداري او مالي فساد خپروي،عامه ګټې لوټ کوي ،حق تلفي،ظلم ،او بې عدالتي منځ ته راوړي ،نو ځکه بايد ددغه شوم اوناروا کار سزابايد سخته وي.

فعاليت: درشوت بيلګې او اضرار په ګروپي ډول پيان کړئ.

د حديث شريف ګټې:

١. د رشوت ورکوونکي سزا: په غالبه وختونو کې رشوت ورکوونکی ددې لپـــاره بـــډی ورکوي چې ناحقه پريکړه بايد دده په ګټه وشي .داچې بډی ورکوونکی له يو پلوه دظلم

ketabton.com - The Digital Library

لامل ،اوله بل پلوه رشوت اخيستونکي ته دګناه او تيري زمينه برابروي الله (ج) ورته جهنم ته دد اخليدو سخته سزا ټاکلې ده.

۲. د رشوت اخيستونکي سزا: د اسلام په مقدس دين کې حاکمان اودواک خاوندان په دې مکلف دي چې همیش باید پر حق کلک ولاړ اوسي،اود انسانانو ترمنځ د عدل،انصاف،او دحق پريکړې وکړي اود هر نوعه فاسدو،اوناحقه فيصلو څخه ډډه وکړي.که چيرې څوک بډې واخلي اوپر حقايقوپرده واچوي الله(ج) به يې د جهنم اور ته د اخل کړي دا ځکه چې دې له يوې خوا دحرام مال خوړونکې ،او هم د سمې لارې څخه د انحراف د ګناه مرتکب شوې دی.

فعاليت:درشوت اوډالی ترمنځ څه توپير دی؟ په هکله يې په خپل منځو کې پری بحث وکړئ.

ارزونه:

۱. لاند ې کلمې معنا کړئ:

الرَّاشِي:

ألْمُرْتَشِي:

فِي النَّارِ:

۲. د رشوت اخيستونکي اورشوت ورکوونکي سزا بيان کړئ.

۳. د رشوت په فرد اوټولنه بدې اغيزې څه دي؟

کورنی دنده:

حديث په يادو زده کړئ، او هم د رشوت د زيانونو په باره کې لنډه مقاله وليکئ!

ketabton.com - The Digital Library

د حلال کسب طلب

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بن مسعود قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم:(طَلَبُ كَسْبِ الْحَلاَلِ فَرِيــضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيضَةِ).مسند الشهاب القضاعي

د راوي پيژندنه:

د دغه جليل القدر صحابي نوم عبدالله د پلار نوم يې مسعود او د بنو هذيل قبيلې ته منسوب دی، شپږم شخص ؤ چې د اسلام په مبارک دين مشرف شو، دوه ځله يې حبشې ته هجرت کړی دی او په دريم ځل يې له حبشې څخه مدينې منورې ته هجرت وکړ. د رسول الله (ص) سره به تل يوځای او ملګری ؤ چې له دې امله د اصحابو ترمنځ په صاحب العصا، صاحب الوسادة او صاحب المطهرة[1] مشهور ؤ په ډېره خوږه لهجه به يې تل د قرآنکريم تلاوت کاؤ د علم او پوهې سمندر ؤ د علمي مقام ترڅنګ د حق د سنګر يو غښتلی مجاهد هم ؤ، په بدر، احد، خندق او نورو ټولو غزاګانو کې يې برخه اخيستې ده د هجرت په دوه ديرشم (۳۲) کال د حضرت عثمان (رض) له شهادت څخه وروسته يې د نيمګړې نړۍ څخه رحلت وکړ.

د کلمو معنا:

۱. طَلَبُ: لټول.
۲. كَسْبِ الْحَلاَلِ: حلال کار او عمل کول.
۳. فَرِيضَةٌ بَعْدَ الْفَرِيضَة: فرض دی پس له نورو فرضونو څخه يعنی داسلام پنځو ارکانو، اويادپنځه وخته لمونځونو څخه وروسته.

د حديث شريف معنا:

د عبد الله ابن مسعود (رض) څخه روايت دې چې پيغمبر(ص) فرمايلي دي:دحلال کسب لټون دنورو فرضونو پسې فرض عمل دې.

د حديث شريف حکمت:

هر انسان په ژوند کې خوراک،څښاک،پوشاک،اوداسې نورو شيانو ته اړتيا لري اوددې شيانو لاس ته راوړل کسب اوکار پورې تړاو لري.ددې لپاره چې انسان هوسا ژوند وکړي ،او د فقر

[1] - يعني رسول اکرم (ص) ته به يې امسا په لاس کې ورکوله، تکيه او بالښت به يې ورته ايښود، او مسواک به يې ورته په لاس کې ورکاوه.

ketabton.com - The Digital Library

او احتیاج څخه مصوون وي په همدې بناء پر هر کس دحلال کسب لټه لازمه ده ترڅـــو ددې لارې څخه حلاله روزي لاس ته راوړي په خپله يې هم وخوري نوروته يې هم ورکړي اوپه عامه خيريه کارونوکې يې هم مصرف کړي.

فعالیت: زده کوونکې دې په نوبت سره دهغه پغمبرانو نومونه واخلي چې لاندې کارونه يـــي کول:دهقانی،ترکانی،زغرې جوړول،چوپاني.

د حديث شريف ګټې:

۱. **حلاله روزي ګټل عبادت دی:** الله(ج) زمکه په راز راز نعمتونو پوخلې ده اوهـــم يـــي درزق لاس ته راوړلو سرچينې زياتې پيدا کړي دي ترڅو انسانان دخپل شتون او بقا لپـــاره ورڅخه استفاده وکړي البته دغه نعمتونوته لاس رسی لپاره کاراو کسب اوزحمت ګاللو ته اړتيا ده.

دحلال رزق لټه پرهر مسلمان فرض ده دحلال رزق لټون عبادت او دپيغمبرانو ســـنت دي پر هر مسلمان دا واجب دي چې دمشروع لارو څخه رزق وګټي تر څود سوال او احتياج له ذلت څخه ځان وژغوري بهتره او غوره روزي هغه ده چې دلاس په زيار وګټل شي دالله (ج) غوره پيغمبر داوود (ع) به دخپل لاس ګټلې روزي خوړله.

۲. **د حلال کسب ارزښت:** د اسلام سپيڅلې دين انسانان کار او کسب تـــه هڅوي،کـــار اوکسب پر هر مسلمان واجب بولي.په شرعي نصوصو کې دټولو کسبونو په هکله لکـــه: تجارت، زراعت اوبزګري،صناعت، چوپاني اوددا‌سې نورو کسبونو فضيلتونه بيان شويدي.

دحلالې روزې دلاس ته راوړلو په خاطرکارکول دالله(ج) په لارکې دجهاد برابر ثواب لري.

پيغمبر(ص) ديوکس سره مصافحه وکړه چې دهغه لاسونه دکار له امله زيـــړه اوشـــار وو پغمبر (ص) وفرمايل:(دا هغه لا س دې چې الله(ج) يې ډير خوښوي).

داسلام له نظره هغه څوک دستاينې وړدی چې کار اوعمل کوی. يواځې کسب اوکار دی چې شخصي اوټولنيز احتياجونه پوره کوي. دپياوړي اقتصاد سرچينه کسب او کار کـــول دي کاسب او کارکوونکې ته خپله کورنی،خپل خپلوان اوټول وګړي په درنـــده ســـترګه ګوري اود هرچا په وړاندې محترم وي.

۳. **بې کاري(کار نه کول) او بد عواقب يې:** بې کاري ياکار نه کول هغه بد خصلت دې چې هيڅ سالم عقل يې نشي زغملای کار نه کول په شريعت کې مردود خصلت دې ددې

ketabton.com - The Digital Library

لپاره چې په جامعه کې بیکاري دفقر سبب ونه ګرځي پیغمبر(ص) بیکاري په کلکه غنـــدي اوفرمایي:(بیشکه الله(ج) بیکاره ناست بنده بدګني).

حضرت عمر (رض) هغه ځوانان چې دعبادت په بهانه مسجد کې بیکاره ناســـت وو لـــه مسجده وویستل اوورته یې وویل:(ووځی هیڅکله له اسمان څخه په خپله سره او سپین زر نه راتوییږي).

هرڅوک چې کار اوعمل پریږدي اوسستی وربانديې غالبه شی پر کورنۍ اوټولنه بار او بوج وي دوستان یې کم وي، ځوک یې نه خوښوي،دهرچا په وړاندې ملامته وي،دمالي عباداتو اونورو سره دکومک کولو څخه بې برخې ،اود ښیګنې لاس یې ترهر چا زیات لنډ وي.

۴. **د ځمکې تعمیر او ابادي:** الله (ج) زمکه دانسان دژوند زانګو او انسان یی ددې زمکې معمار پیداکړې دی.انسان ددې لپاره زمکې ته رالیږل شـــوې چـــې دزمکـــې مـــخ پـــه ودانیو،کرلو،جوړولو... اباد اودژوندانه لپاره یې برابر کړي ترڅو انسانان وکولای شي په ارامه او اطمنان سره عبادت اود الله(ج) بنده ګي وکړي چې د زمکې تعمیـــر او ابـــادي دانسان په بې ساری هلو ځلو پورې تړاو لري .

فعالیت: زمورِ خورِ پیغمبر حضرت محمد(ص) له بعثت څخه مخکې کوم کوم کارونه کړي؟

ددوو نومونه واخلی.

ارزونه:

۱. د حدیث شریف راوي په بابله لنډ معلومات وړاند پ کړئ.
۲. د حدیث شریف اجمالي معنا ووایاست.
۳. لاندې خالي ځایونه ډک کړئ:
:(طَلَبُ.....الْحَلاَلِ..... بَعْدَ .....)
۴. د حدیث شریف دوې ګټې ولیکئ.

کورنۍ دنده:

پورتنی لوست په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د الله (ج) نعمتونه

عن ابن عباس رضي الله عنهما قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم ، لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهُ :اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: شَبَابَكَ قَبْلَ هِرَمِكَ ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاءَكَ قَبْلَ فَقْرِكَ، وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ).المستدرك للحاكم

د راوي پيژندنه:

د دې راوي پيژند نه په تيرو لوستونو کې تيره شوی ده.

د کلمو معنا:

١. يَعِظُهُ :	ورته يې نصيحت کاوه.
٢. اغْتَنِمْ :	غنيمت وګنه.
٣. خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ :	پنځه شيان مخکې له پنځو څخه.
٤. شَبَابَكَ قَبْلَ هِرَمِكَ:	ځواني دې مخکې له کمزورتيا څخه.
٥. وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ:	او خپله روغتيا مخکې له مريضتيا څخه.
٦. وَغِنَاءَكَ قَبْلَ فَقْرِكَ:	اوخپله غنيوالي مخکې له فقرڅخه.
٧. وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ:	اوخپله وزګارتيا مخکې له مصروفتيا څخه.
٨. وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ:	او خپل ژوند مخکې د خپل مرګ څخه.

د حديث شريف معنا:

دعبد الله بن عباس رض څخه روايت دې چې رسول الله ص يوه کس ته نصيحت کاوه ورته يې وويل:(پنځه شيان مخکې له پنځو څخه غنيمت وګنه :خپله ځواني مخکې له خپلې کمزورتيا څخه غنيمت وګنه،او خپله روغتيا مخکې له خپلې مريضتيا څخه غنيمت وګنه،اوخپله بډايي اوغنيوالي مخکې له خپل فقرڅخه غنيمت وګنه,اوخپله وزګارتيا مخکې له مصروفتيا څخه غنيمت وګنه،او خپل ژوند مخکې د خپل مرګ څخه غنيمت وګنه).

د حديث شريف حکمت:

دکاياناتو خالق الله (ج) انسانانو ته دوه ډوله ظاهري ،اوباطني نعمتونه ورپه برخه کړې دي لکه: روغ صحت، مال او دولت،ځواني ،علم اوپوهه اوداسې نور، بناءً حتمي ده چې انسان د

ketabton.com - The Digital Library

الله (ج) د نعمتونو شکر ادا کړي او شکر يې هله پر ځای کيږي چې ژوند او وخت څخه اعظمي استفاده واخيستل شي، او په نيکو لارو چارو کې مصرف کړل شي ترڅو دنعمتونو دخالق او دهغه مخلوق د خوښۍ سبب وګرځي.پيغمبر ص مونږ ته په دی حديث کې دغه نعمتونه اوورځخه دښې استفادی لارې چارې را په ګوته کوي.

فعاليت: زده کوونکې دې په ګروپي شکل دالله (ج) دنعمتونو نومونه واخلي.

د حديث شريف ګټې:

۱. **ځواني د الله (ج) لوی نعمت دی:** د انسان عمر دلحظو،دقيقو،مياشتو څخه عبارت دی،او دژوند هره لحظه چې تيريږي انسان مرګ ته ورنږدی کيږي ځواني هغه نعمت دی چې په هکله به يې دقيامت په ورځ دبنده څخه پوښتنه کيږي انسان په ځوانۍ کې دداسې نعمتونو څخه برخه مند وي چې دځوانۍ په تيريدو سره يې بيا هيڅکله نشي تر لاسه کولای په ځوانۍ کې بنده د کامل عقل،ښه ذهن،اوپياوړي قوت او طاقت څښتن وي هرڅه ډير ژر يادوي، د کارونو په مقابل کې زيات تحمل اوحوصله لري هرجسمي کړنې اوکارونه په ښه شان انجاموي،مګر کله چې ضعيف او ځوانی يی تيره شي نو دبدن هډوکی يی نرم اوکمزوري شي بيا دډيرڅه کولو ارزو لري خو ورڅخه عاجز اوناتوانه وي که و غواړي چې ډير ښه کارونه وکړي ،مګرد ضعيفوالی له امله يې نه شي کولای.چې دسالمې ټولنې جوړول،دښو اوعالي اخلاقو ترويجول،ذهنيتونه مثقف کول،علم او پوهه دوګړو ترمنځ عامول، دجامعې دافرادو تر منځ د مهذب مسلمان انځور انځورول دا هر څه مستقيما دځوانانو مسؤوليت دی د ځوانۍ عمر عبث تيرول نه جبرانيدونکې زيان دې.

۲. **روغ صحت اوسلامتيا ستر نعمت دی:**روغ صحت هم دالله ج له نعمتونو څخه ستر نعمت دی صحت او مريضي دواړه داسی څيزونه دي چې دانسان په واک او اختيار کې نه دي روغتيا دانسان پر سرهغه تاج دی چې هغه يواځې ناروغان وينې خو صحت من يی احساس نه کوي مګر کله چې روغ صحت الله ج دانسان څخه واخلی بيا يی په ارزښت پوه شي سالم عقل په سالم جسم کې وي روغتيا او صحت دالله ج هغه مهرباني ده چې ددې په وسيله بنده کولای شی دنيوي او خروي کارونه په ښه شان تر سره کړي بناءً پر هر مسلمان لازم دي چې ددغه ارزښتناک نعمت څخه ګټه واخلي اوکوښښ وکړي چې دژوند هره لحظه بيکاره او دنيک عمل څخه علاوه په بل څه تيره نه کړي.

ketabton.com - The Digital Library

مریضی دداسې ضعیفه حالت څخه عبارت دی چې بنده دهر نیک او خیر کار څخه محرومه وي.

۳. **د پانګې اومال داری نعمت:** دالله ج دنعمتونو له جملې څخه یو شتمني او مـــال داري ده چې دبشري ټولنې نیکمرغي ورپورې تړلې ده. حلاله شتمني الله ج ته دنزدیکت ،دپـــت اوابرو ساتلو ،دبندګانو دحقوقو دادا کولو، دخپلوانو سره دصله رحمی ذریعه او ســـرچینه ده. بډایی او شتمني هغه وخت نعمت دی چې ورڅخه په سمه توګه استفاده وشي ،اوکـــه چیرې په ناروا ،حرامو او ناوړه لارو چارو کې ولږول شي نوبیا لویه بد بختـــي ده.ددغـــه نعمت د شکر دادا کولو لار دفرضي او نفلي صدقاتو ورکول دي دفرضي صـــدقو څخـــه مراد د زکاتونو، فدیو، کفارو،نذرونو ورکول دي چې بنده دبخل،شومتیا څخه پاکوي اوپه مؤمن کې دایثار، فداکاری، ورکړې اوسخا احساس راژوندې کـــوي ددې لپـــاره چـــې مسلمان باید یواځې دزکات په ورکولو بسوالی ونه کړي ،بلکه نفلي صدقې باید ورکړي او په نورو اجتماعي خیریه کارونوکې برخه واخلي لکه: مدرسی ،مکتبونه،روغتونونه پلونه ،ونی کینول،سرکونه جوړول.دټولنې دډیری بې وزله طبقې نابینایانو،شلو ګوډانو ،کونـــډو ضرورتونه پوره کول هغه فقیران چې په کار قادر وي ورته دکارونو زمینه برابرول.

۴. **خپل ژوند غنیمت وګڼه مخکې له مرګه:** ژوند هغه فرصت دی چې له لاسه ووت بیا هیڅکله نه راځي اوهرکله چې انسان مړ شي دده دنیکو عملونو دروازه بنده شي. پس لـــه مرګه هرانسان د بیا ژوند څخه علاوه بل د هیڅ شي ارزو نه کوي دهمدې کبله مخکې له دې چې دغه نعمت له لاسه ووځي باید ورڅخه ګټه واخیستل شي اوپه ژوندکې هغه اعمال ترسره شي چې داخرت د ابدي ژوند لپاره سودمند وي مخصوصا داسې اعمال چې ثواب یې پس له مرګه هم بنده ته ور رسیږی لکه:دعلم ښوونه، دنیک اولاد روزنه،لارې پلونـــه اوسرکونه جوړول ،مسجدونه ابادول ،داوبو څاګانې ویستل ټول دخیرهغه کارونـــه چـــې انسانان ورڅخه په ژوندانه کې استفاده کوي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: زده کوونکی دې د وخت دارزښت په اړوند په انفرادي یا ګروپي شکل معلومـــات وړاندې کړي.

ارزونه:

۱. لاندې عبارات معنا کړئ:

شَبَابَکَ قَبْلَ هِرَمِکَ: وَصِحَّتَکَ قَبْلَ سَقَمِکَ: وَغِنَاءَکَ قَبْلَ فَقْرِکَ: وَحَیَاتَکَ قَبْلَ مَوْتِکَ.

۲. د حدیث شریف معنا وواياست!

۳. د پورتنو مطلبونو څخه یو مطلب غوره او په اړوند یې لنډه مقاله ولیکئ.

کورنۍ دنده:

د لوست مطلبونه په خپل تعبیر په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

دوه دېرشم لوست

د مزدور حق بايد ډير ژر ورکړل شي

عَن جَابِرٍ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : (أَعْطُوا الأَجِيرَ أَجْرَهُ قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ).

رواه سنن ابن ماجة

د راوي پيژندنه:

نوم يي جابر اود پلار نوم يي عبد الله د مديني منورې د خزرج له قبيلې څخه ؤ، پلار اوزوی دوارې جليل القدره صحابه وو پيغمبر ص ورته پينځه ويشت ځله په يوه شپه کې دمغفرت دعاء کړی د بدر او احد څخه علاوه يي په ۱۹غزواتو کې د رسول الله ص سره اشتراک کړی دی.په خپل وخت کې دمديني منورې لوی مجتهد او مفتي ؤ.او د هجرت په ۷۸کال کې يې له فاني دنيا څخه سترګې پټې کړی.

د کلمو معنا:

۱. أَعْطُوا:	ورکړئ.
۲. الأَجِيرَ:	مزدورته.
۳. أَجْرَهُ :	د هغه اجوره اومزدوري.
۴. قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ:	مخکې له دې چې دهغه دوجود خوله وچه شي.

د حديث شريف معنا:

له حضرت جابر بن عبد الله (رض) څخه روايت دی چې پيغمبر (ص) فرمايلي دي:(مزدورته دهغه مزدوري مخکې له دې ورکړئ چې دهغه خوله وچه شي).

د حديث شريف حکمت:

په ټولنه کې انسانان يوپربل مادي او معنوي ځانګړي حقوق لري لکه:دمور اوپلار حقوق ،دمشرانو حقوق،دګاونډيانو حقوق اوداسې نور،چې ددې حقوقو په قطار کې يوهم داجير(مزدور) حق دی او هغه ته دهغه دزحمت ګاللو اومشقت تيرولو په مقابل کې مزدوري ورکول دي.داچې دنوروپرحقوقو تيرې هغه که په هرشکل اورنګ کې وي ناروا دی په همدې اساس پيغمبر ص فرمايلي دي چې داجير په حق تيرې مه کوئ او هغه ته دهغه حق بې له ځنډه ورکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: مالک او اجیر ته څه کول په کار د ي؟ په ګروپی شکل يې ځواب ووایاست

د حدیث شریف ګټې:

۱. **د اجیر (مزدور) مزدوري ځنډول ظلم او ګناه ده:** مزدور دخپل وجود انـــرژي ددې لپاره مصرفوي چې څه وګټي ،او ځان ته حلاله روزي پیدا کړي اوددې پـــه انتظـــارکې وې چې دخپل زحمت او مشقت بدله ډیرژرترلاسه کړي نو لازمه ده چې دهغـــه مـــزدوري دی دومره ژر هغه ته ورکړل شي چې حتی دهغه دوجود خوله هم نه وي وچه شوي ،اوپـــه دې کار کې ځنډ اوتاخیر ظلم او ګناه ده پیغمبر ص فرمایلي دي:(دغنـــي لـــه خـــوا د مـــزدور مزدوري یا د قرضدار قرض ځنډول ګناه ده). په بل حدیث کـــې راغلـــي دي پیغمبـــر(ص) فرمایلي دي:(زه به د اخرت په ورځ د الله (ج) په حضورکې د هغه مزدور حق غوښتنه کـــوم چې په کار وګمارل شي او بیا د هغه مزدوري هغه ته ورنکړل شي).

۲. **د اجیر (مزدور) حقوق:** په نړۍ کې شتمن، او بې شتو غریب دوه ډوله انسانان اوسیږي چې یو بل ته د ژوند انه په هره ګړۍ کې محتاج دي د بلډایې ځښتن غریب ته دکار لپـــاره اوغریب مالدار ته د مزدورې لپاره اړتیا لري.

په اسلام کې د مالک اومزدور ترمنځ علاقه په ورورولی،کومک،مهربانی، اویوبل تـــه پـــه وفاداری ولاړه ده نو لازمه ده چې د اجیر او مزدور سره نیکه رویه اوښه چلند وشی ،ورته د کار پروخت مناسبه غذا ورکړل شي،د کار کولو مناسبه وسایل ورته مهیا شـــي،هغه تـــه دهغه مزدوري پروخت ورکړل شي، ،هغه ته پر په خپل تاکلي وخت رخصت ورکړل شي، اجوره اومزدوري باید د کار په تناسب او یا ډیره وي اود هغه له بې وزلۍ ځخـــه نـــاوړه استفاده ونه شي. د اجیر په حقوقو تیرې لویه ګناه ده

۳. **کار اومزدوري دهرکس حق دی:** کار او مزدوري دژوندانه هغه اساسي رکن دی چې بې له مزدورې شخصي،اوټولنیزاقتصادي پرمختګ،نړیوال تمدن نا شونې دی.دنـــړې پـــه هرګوټ کې،هروخت ، هر کس ددې حق لري چې کار او مزدوري وکړي اود خپل توان په اندازه هرکار چې وغواړي دځان لپاره یې خوښ کړي په دې شرط چې داسلام دعـــالي مقاصدو اوشرعي قوانینو او مقرراتو سره په ټکر کې نه وي.

۴. **په کار او وظیفه کې سستي او غفلت کول ګناه ده:** کاراو وظیفه یو امانت دی بنـــاءً په شخصي او ددولت پر مامور واجب دي چې دغه امانـــت پـــه پـــوره اخلاص،دیانـــت داری،وفاداری، دوخت په پابندی اوبې له تقصیره سره انجام کړي ترڅو هغه معاش چـــې

ketabton.com - The Digital Library

ددې لارې څخه يې تر لاسه کوي ځان ته حلال ،اود شخصي او ملي خيانت څخه ځـــان وژغوري.

پيغمبر (ص) فرمايلي دي:(کله چې ستاسې څخه څوک کوم کار کوي بايـــد هغـــه ښـــه وکړي).

په کارونو او وظيفو کې سستي،غفلت او عبث وخت تيرول اجتماعي خيانت دي.

همداراز دولتي وسايل اوشتمنۍ ملي امانت دی او بايد په سمه توګه وکـــارول شـــي پـــه شخصي کارونو کې ورڅخه استفاده وانه اخيستل شي.

فعاليت: په اجير دداسې کار تحميلول چې هغه يې توان ونه لري څنګه کاردی؟

ارزونه:

۱. د حديث شريف راوي څوک ؤ ؟په اړوند يې معلومات وړا ند ی کړئ.
۲. د حديث شريف په رڼا کې د مزدور حقونه کوم دي؟
۳. لاندې کلمې اوعبارات معنا کړئ:

أَعْطُوا:

الأَجِيرَ:

أَجْرَهُ :

قَبْلَ أَنْ يَجِفَّ عَرَقُهُ.

کورنۍ دنده:

۱. حديث شريف سره د معنا په يادو زده کړئ.
۲. د مزدور د حقونو په باره کې يوه لنډه مقاله وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

دری دېرشم لوست

د علم زده کړه فرض ده

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: (طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ). رواه ابن ماجه

د راوي پيژندنه:

د دې حديث شريف د راوي نوم حضرت انس او د پلار نوم يې مالک انصاري دی د پيغمبر (ص) په کور کې لوی شوی او پوره لس کاله يې د پيغمبر (ص) خدمت کړی دی، د فقهاوو او مجتهدينو اصحابو له جملې څخه ګڼل کېږي پيغمبر (ص) ورته د اوږده عمر، په مال کې د برکت او جنت ته د تللو دعا کړې ده، د هجرت په ۹۳ کال د بصرې په ښار کې وفات شوی دی.

د کلمو معنا:

۱. طَلَبُ : پلټنه.
۲. الْعِلْمِ : پوهه.
۳. فَرِيضَةٌ: فرض دی.
۴. عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ: پر هر مسلمان باندې.

د حديث شريف معنا:

حضرت انس رض د پيغمبر ص څخه روايت کوي چې پيغمبر فرمايلي:دعلم طلب پرهر مسلمان فرض دی.

د علم مفهوم: علم يواځنی هغه کلمه ده چې ټولو الهامي اودیني معلوماتو،اودنيوي غير الهامي څيړنو او تحقيقاتو ته شامله ده او يواځې په کوم خاص فن يا خاصو احکامو پورې منحصره نه ده.

د حديث شريف حکمت:

علم هغه روښنايې ده چې د نړۍ سعادت او نيکمرغي،ټولنيز عدالت،اقتصادي پياوړتيا،سياسي اوساينسي زغلنده پرمختګ ورپورې تړلی دی.علم دی چې انسان دجهالت د تورو تياروڅخه خلاصوي اوورته خير اوسوکاله ژوند ورپه برخه کوي.د نړۍ په ډګر کې چې څومره لاس ته راوړنې تر سترګو کېږي داهرڅه دعلم له برکته دي.که چيرې علم نه وي نونړيواله بې نظمي،

ketabton.com - The Digital Library

ټولنيز طبقاتي ډول ډول ظلمونو تور څادر به د زمکې پر سر خپور وی.په همدی بناء پيغمبر ص دعلم زده کړه پر هرچا لازم بولي.

هڅونه: دعلم له لارې لاس ته راوړنو ژوند ي مثالونه دی زده کوونکی په گروپی شکل په گوته کړئ.

د حديث شريف گټې:

۱. **د علم فضيلت:** د جاهليت د تور تمونو د لمنځه وړلو لپاره د هر څه لومړی الله ج خپل پيغمبر ته دعلم په زده کولو امر وکړ داځکه چې دټولو مشکلاتو حل په علم پوری اړه لري علم الله ج د معرفت اوهغه ته دنزديکت ذريعه ده دعلم زده کړه د الله ج ستر عبادت دی علم هغه ستر نعمت دی چې الله ج خپل پيغمبر ته وايي چې د علم دزيادت غوښتنه کوه او داسې وايه:(ای زما ربه زما په علم کې زياتوالی راولئ).علم ددنيا او اخرت سعادت او نيکبختي ده.

۲. **د علم طلب:** هر څه چې څومره ارزښت ولري دهغی پلټنه هم په همغه اندازه ارزښتناکه وي لکه چې د علم زده کړه لازمه ده دعلم پلټنه اوطلب هم لازم دي نو داضروري ده چې دپوهې دلاس ته راوړلو به غرض زيات کوښښ او زيار وويستل شي داځکه چې دعامو انسانانو علم کسبي بڼه لري اوبې له هلو ځلو ددې قيمتي نعمت ترلاسه کول ناممکن دي که د صحابه کرامو اوتابعينو چې تر ټولو غوره انسانان دي سيرت ته يې ځير شو گورو چې هغوی دعلم په خاطر په خالي نس شپې اوورځې تيرولې دمياشتو مياشتو پياده سفرونه به يې کول.

څوک چې دعلم په طلب کې ووځي دهغه سفر عبادت اود الله ج په لاره کې حسابيږي او الله ج ورته جنت ددداخليدو لاره هواروي ملايکې ورته خپلې وزرې پر زمکه غوړوي په اسمان کې ملايکې او په اوبو کې ماهيان ورته دمغفرت دعا غواړي.

۳. **دکوم علم زده کړه فرض ده:** علمونه ډير اقسام لري چې دځينو علومو زده کړه په هرکس فرض عين ده اود ځينو علومو زده کړه فرض کفايي ده داپه دې معنا چې که چيرې په ټولنه کې يي يوڅه کسان زده کړه په غاړه واخلي نوفرضيت يې د نورو له ذمی څخه سا قطيږي.هغه علم چې چې زده کړه يي پر هرکس فرض عين ده د هغه اعتقادي ،اوعملي احکامو څخه عبارت دي چې الله ج بنده گان دهغې پر زده کړه مکلف کړي دي لکه: په

ketabton.com - The Digital Library

الله ج ايمان درلودل،دالله ج په ملايكو، پيغمبرانو ، اسماني كتابونو،داخرت دورځې په حالاتو ايمان لرل.د اسلام پنځو ارکانو زده کړه لکه لمونځ ، روژه، زکات او حج کول. په هر حال د حديث څخه دا په ډاګه معلوميږي چې د هر علم زده کړه ضروري ده.

۴. **د علم زده کړه پر هر مسلمان فرض ده:** د علم زده کړه په هر نارينه ،اوښځينه مسلمان فرض ده ښځې چې د ټولنې نيمه برخه تشکيلوي عموما هغه احکام چې سړو ته په کې خطاب شوې وي ښځو ته هم شاميږي.د پيغمبر ص په زمانه کې ښځو هم د سړو په څير د علم زده کړې کولې او حتی ډيرې لوې لوې فقيهه زنانه هم موجودې وې چې سړو به دپيغمبر ص له وفات څخه وروسته هغوي ته په مسايلو کې مراجعه کوله اوله هغوي څخه به يې پوښتنې کولې، لکه ام المؤمنين عايشة رضي الله عنها ،مګر د دوی دزده کړې زمينه بايد داسلامي احکامو مطابق تنظيم کړای شي.

هڅونه: د علم د زده کړې په اړه په خپلو کې سره خبرې وکړئ.

ارزونه:

۱. د حديث شريف معنا ووایاست.

۲. لاندې کلمې معنا کړئ:

- ✓ طَلَبُ:
- ✓ اَلعِلْم :
- ✓ فَرِيضَةٌ:

۳. د حديث شريف ګټې ووایاست.

کورنۍ دنده:

۱. حديث شريف سره د معنا په يادو زده کړئ.

۲. د حديث له مطالبو څخه د يو مطلب تر عنوان لاندې يوه مقاله وليکئ!

ketabton.com - The Digital Library

غصب

د غصب تعريف: غصب په لغت کې په ښکاره او زور سره د يو چا څخه د شي اخستلو ته وايي. او د فقهاءو په اصطلاح کې: پرته د مالک له اجازې نه د محترم او متقوم مال اخيستل پداسې توګه سره چې د ده لاس ورڅخه لنډ کړي غصب بلل کيږي[1].

د غصب د ناروا والي دليل:

د غصب حراموالی په قران کريم، احاديثو او اجماع باندې ثابت دی.

لومړی قران کريم: الله جل جلاله فرمايي: «وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ»(البقره، ۱۸۸) ژباړه: تاسې د يو بل مالونه په ناروا مه خورئ او مه يې چارواکو ته په رشوت کې ورکوئ، پدې خاطر چې تاسې به په ناروا د خلکو د مالونو ځنې برخه د پوهې سره خوړلې وي.

دويم: حديث:رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «لاَ يَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ إِلاَّ بِطِيبِ نَفْسٍ مِنْهُ».[2] د مسلمان د خوښې څخه پرته د هغه مال خوړل جواز نلري.

دريم: اجماع: مسلمانانو د غصب په حراموالي اجماع کړې او دا يې لويه ګناه شميرلې ده که څه هم د غلا نصاب ته ونه رسيږي.

فعاليت: دوه زده کوونکي دې دغصب صورت په ټولګي کې تمثيل کړي.

د غصب احکام: غصب دری حکمونه لري:

۱- ګناه: په هغه صورت کې چې څوک پدې پوه شي چې له ما سره د پردي شخص مال دی او بيا يې هم د ځان سره ساتي ګناه ده او په اخرت کې ورباندې نيول کيږي.

۲- غصب شوی مال که چيرې غاصب سره شتون ولري ورکول يې لازم دي:

د رد او بېرته ورکولو مصارف په غاصب دي او هغه وخت مسترد ګرځي چې د مالک لاس ورباندې ثابت شي، چې پدې کار سره غاصب د تاوان څخه خلاصيږي.

---

[1]- تكملة فتح القدير ۳٦۱/۷.

[2]-رواه البيهقي ۱٦۹/۴.

ketabton.com - The Digital Library

۳- کله چې غصب شوی مال له منځه تللی وي تاوان به ورکوي:

برابره ده چې دا تلف د الله جل جلاله له لوري وي او که د مخلوق له لوري.

که چېرې غصب شوی مال مثلي وي د مثل ورکول يې لازم دي او که مثلي نه وي بيا يې قيمت ورکول لازم دي.

د غصب په هکله مسائل:

۱- چا چې د کوم مسلمان د ساز او سرود سامان لکه طبله، ارمونيه، چمبه، شپيلۍ او دې ته ورته نور شيان مات کړل تاوان د صاحبينو په نظر نلري، ځکه چې دا د ګناه لپاره تيار شوي، نو قيمت کول يې باطل دي، همدا راز شرعاً يې له منځه وړل واجب دي، او د امام صاحب په نظر تاوان لري، ځکه چې پرته لدې کارونو څخه نوره ګټه هم ترې اخيستل کېږي، او همدا راز پلورل يې هم روا دي.[۱]

که چېرې يو چا په ناپوهۍ پدې ګمان چې دا زما دی څه غصب کړل، هيڅ ګناه ورباندې نشته او نه ورباندې نيول کېږي، ځکه چې دا خطا ده او په خطا انسان نه نيول کېږي.

د قيمت د وجوب حالات:

قيمت په درې حالاتو کې واجبېږي:

۱. کله چې له منځه تللی شي مثلي نه وي لکه حيوانات.

۲. کله چې له منځه تللی شي د مثلياتو له ډلې څخه وي خو د مثل پيدا کيدل يې په بازار کې حقيقتاً او حکماً ناشوني وي.

۳. کله چې يو مثلي د بل جنس مثلي سره ګډ شي لکه غنم د وربشو سره.[۲]

---

[۱] - جوهرة النيرة ۳- ۳۳۴- كتاب الغصب.

[۲]- وګوره: الدر المختار ۱۲۹/۵.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

أ. لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱- غصب لغتاً او اصطلاحا تعریف کړئ.

۲- د غصب اړوند احکام بیان کړئ.

۳- په کومو حالاتوکې دغصب شوي مال قیمت لازمیږي؟

ب-لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلموسره ډک کړئ:

۱- که چیرې څوک پدې ګمان چې مال یې خپل دی څه غصب کړي ..... نلري .

۲- په زور باندې د یوچا مال اخیستل ..... بلل کیږي.

د خلکو په مالونو باندې دتیري کولو ضررونو په اړه یوه مقاله ولیکئ، چې له پنځو کرښو څخه کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

لقطه (موندل شوی مال)

د لقطې معنا:

لقطه په لغت کې موندل شوي مال ته وايي.

او د فقهاوو په اصطلاح کې: د نامعلومه مالک او غیر مباح مال موندل لقطه بلل کیږي.

د لقطې حکم:

د اشخاصو په اعتبار د لقطې حکم اختلاف لري، چې ځنې وخت غوره، مکروه او کله حرامیدای هم شي، چې تفصیل یې په لاندې ډول بیانیږي:

۱- که چیرې څوک پخپل امانت باوري وي او موندونکی مال خپل خاوند ته ساتلی او ورسپارلی شي، بیا د موندل شوي مال ترلاسه کول ورته غوره او مستحب دي، ځکه چې دا د ده د واجباتو څخه شمیرل کیږي.

۲- که چیرې څوک پخپل امانت باوري نه وي او دا ویره ورسره وي چې ځان ته یې مباح ونه ګرځوم، بیا ورته د موندل شوي مال ترلاسه کول مکروه دي.

۳- که چیرې یو چا پخپل ځان د خیانت باور درلود او دا یې نه ګڼله چې دا به خپل خاوند ته وسپاري بیا یې اخیستل حرام دي[1].

د موندل شوي مال حکم له دې امله چې تاوان به لري او که نه؟

لقطه یا موندل شوی مال د هغه چا سره چې موندلی یې دی امانت شمیرل کیږي که پرته له تیري څخه هلاک شي تاوان نلري، خو که یې د تسلیمولو څخه منعه وکړه بیا هلاک شو تاوان لري.

د لقطې ډولونه: لقطه په دوه ډوله ده:

۱- د ساکښ مالونو موندل: لکه د ورک اوښ، غوا، پسه او داسې نورو څارویو موندل[2].

۲- د غیر ساکښو مالونو موندل.

---

[1]- بدائع الصنائع ۲۰۰/٦، فتح القدیر ۴۲۳/۴، الدر المختار ۴۰٦/۳.

[2]- بدائع الصنائع ۲۰۱/٦.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: یو شمیر زده کوونکي دې په ټولګي کې دلقطې صورت تمثیل کړي.

د لقطې سره څه کول پکار دي؟

په موندونکي باندې لازم دي چې اعلان يې کړي، بخاري او مسلم د زيد بن خالد الجهني څخه روايت کوي فرمايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د لقطې په هکله پوښتنه وشوه، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: «عَرِّفْهَا سَنَةً» ژباړه: يو کال پورې يې اعلان کړه.[1]

اوس د اعلان څرنګوالی، موده، ځای، د اعلان مصارف او هغه څه چې ورک مال ورته اړتيا لري، د رد او بېرته ورکولو شرط او ځان ته د خپلولو حکم يې څېړو.

د اعلان څرنګوالی:

د موندل شوي مال اعلان او غږ به په هغه ځايونو کې د ځنو نښانو په بيانولو سره کوي چې ډير خلک پکې راټولېږي لکه بازارونه او د مسجدونو دروازې.

څوک به اعلان کوي؟

اعلان به خپله موندونکی او يا د موندونکي نائب کوي[2].

د اعلان موده: دا خبره څو اړخه لري:

الف: که چيرې موندل شوی مال د اهميت وړ وي، پوره يو کال به اعلانيږي. خو فتوی پر دې ده چې د اعلان موده خپله موندونکي ته دې پرېښودل شي چې تر هغې پورې دې اعلان وکړي ترڅو خلکو کې مشهوره شي، تر کاله اعلانول يې ضرور ندي.

ب: که چيرې موندل شوی مال حقير يا ناچيزه وي، يعنې چې د غله لاس وربانديې نه پرې کيږي، هومره ورځې به اعلانيږي چې څومره موندونکي ته مناسبې ښکاري.

ج: که چيرې ډير ناچيزه شی وي لکه يو دانه خرما او يا د دې پشان نور پرته له اعلان څخه دې خيرات کړي.

د اعلان ځای: د موندل شوي شي اعلان به په بازارونو، د جوماتونو دروازو او د خلکو ټولنځايونو کې کيږي.

---

[1] – د دې حديث تخريج البزار پخپل مسند کې کړی، الهداية ۴۶۶/۲.

[2] – الدر المختار ۳۵۰/۳.

ketabton.com - The Digital Library

د اعلان اجوره: د اعلان مصارف هغه چې اخبار، تلویزیون او رادیو ته ورکول کیږي موندونکی شخص به یې ګالي، ځکه دا د ده د واجباتو او ښیګنو څخه شمیرل کیږي.

د موندل شوي مال خاوند ته د واپسۍ شرط: د مالک له لوري به موندونکي ته داسې ښنه ویل کیږي چې په هغې باندې د نورو څخه جلا کیږي لکه د بوجۍ د خولې تار، وزن، شمیر او داسې نورې ښې او یا دا چې شاهدانو باندې یې ثابت کړي چې دا د همده دی[1].

د موندونکي د مالک کېدو حکم:

الف: که چیرې موندونکی بډای یا غني وي د موندل شوي مال نه ورته ګټه اخستل روا ندي، بلکه فقیرانو ته به یې خیرات ورکوي برابره ده چې پردو ته یې خیرات ورکوي او که خپلوانو ته اګر که پلار، مور، ښځه او یا یې زوی او لور وي، ځکه چې دا پردی مال دی، پرته د هغه له خوښې څخه ورنه ګټه اخیستل جواز نلري.

ب: که چیرې موندونکی غریب وي بیا ورته ګټه اخیستل روا دي ګواکې داسې ده لکه چې په ځان یې خیرات کړی وي.

ج: که چیرې وروسته له خیرات یا ګټه اخیستلو څخه د هغه مالک پیدا شو، د خیار خاوند دی. که همداسې خیرات یې پریږدي نو ده ته به یې ثواب رسیږي، او که له موندونکي څخه تاوان اخلي، او یا دا غوره ګڼي چې له هغه غریب څخه یې ترلاسه کوي کوم ته چې خیرات ورکړل شوی که چیرې هغه غریب پیدا کړي.

د: دا ټول احکام د حل او حرمت په موندل شوي مال کې پلي کیږي.

---

[1]- فتح القدیر ۴۳۱/۴.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

✓ لاندې شيان په لنډ ډول بيان کړئ:

۱- لقطه لغتاً او اصطلاحاً تعريف کړئ.

۲- د لقطې حکم په لنډ ډول بيان کړئ.

۳- د لقطې سره څه کول پکار دي؟ بيان يې کړئ.

۴- ورک شوی مال بايد په کوم ځای کې او تر کومې مودې پورې اعلان شي؟

۵- د لقطې د مالک کيدلو اړوند احکام ووياست.

✓ لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱ - موندل شوی مال د مونډونکي په مال کې .... مګر که ..... وي گټه اخيستل ورته روا دي.

۲- د لقطې داعلان مصارف به .....گالي.

کورنۍ دنده:

که چېرې تاسو څه پيدا کړې دلوست په رڼا کې بايد څه ورسره کوئ ددې موضوع په اړه په پنځو کرښو کې يوه مقاله وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

مزارعت (دهقاني)

هارون خپله ځمکه سهيل ته د کرلو لپاره د حاصلاتو په نيمايي، دريمه او يـــا څلورمـــه برخـــه ورکوي دې کار ته د فقهې په علم کې مزارعت او مونږ ورته دهقاني وايو.

د مزارعت تعريف:

مزارعت ته په پښتو ژبه کې کښت يا دهقاني وايي. او د فقهاوو په اصطلاح کې د ځمکـــې د خاوند له خوا د دهقان سره د حاصلاتو په يوه معلومه برخه (نيمايي، دريمه، څلورمه، شـــپږمه) عقد ته مزارعت ويل کيږي[1].

د دهقانۍ رکن:

د دهقانۍ رکن ايجاب او قبول دی.

د دهقانۍ حکم:

امام ابوحنيفه رحمه الله تعالی د مزارعت عقد باطل ګڼلی او صاحبينو په څلورو ډولونو ښـــودلي چې درې يې روا او يو ډول يې باطل دی، په لاندې توګه:

۱- د جواز صورتونه:

الف: چې تخم د ځمکې په خاوند او کولبه په دهقان وي.

ب: چې تخم، کولبه او کار په دهقان وي او د ځمکې د خاوند يواځې ځمکه وي.

ج: چې ځمکه، تخم او کولبه د يو وي او عمل په بل وي.

دا پورتني درې واړه صورتونه روا دي.

۲- د بطلان صورت:

کله چې ځمکه او کولبه په يوه، تخم او کار په دهقان وي دا ډول ځمکه ورکول باطله دهقاني ده، ځکه چې دلته د کولبې اجوره د حاصلاتو په ځينې برخه کې راغلې، حـــال دا چـــې هغـــه نامعلومه ده، نو جواز نلري.

---

[1]- بدائع الصنائع ۱۷۵/٦، الدر المختار ۱۹۳/۵.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: یوشمېر زده کوونکي دی دمزارعت عقد هغه شکلونه چې د دوی په سیمو کې رایج دي بیان کړي.

د مزارعت شرطونه:

د هغه چا په نظر چې دهقاني پې روا ګڼلې ده د صحت لپاره پې ورته اته شرطونه ایښي دي چې په لاندې ډول بیانیږي:

۱- عاقدین به د عقد اهلیت لري یعنې عاقلان به وي.

۲- د دهقانۍ موده باید معلومه وي.

۳- ځمکه به د کرکیلې جوګه وي.

۴- مالک به ځمکه دهقان ته پریږدي او خپل لاس به ورڅخه لنډوي.

۵- حاصلات به د دهقان او ځمکې د خاوند تر منځ په تیت او پراګنده توګه شریک وي، تر څو د شراکت معنا متحققه شي.

٦- د تخم خاوند به معلوم وي چې په چا دی په دهقان یا خاوند د ځمکې ، تر څو له دې لارې د ځمکې او دهقان ګټه څرګنده شي.

۷- دهقان او د ځمکې خاوند به خپله برخه معلوموي.

۸- د تخم جنس به معلوم وي، تر څو اجوره معلومه شي[۱].

د صحیحې دهقانۍ احکام:

صحیح مزارعت خپل احکام لري چې مونږ پې په لاندې کرښو کې رالنډوو:

۱- د دهقانۍ ټول کارونه چې د کښت د اصلاح لپاره تر سره کیږي په دهقان باندې دي، لکه ساتنه او په تخم باندې د ځمکې لاندې مصارف کول.

۲- د کښت مصارف لکه سره، خشاوه، غوبل (تریشر) په دواړو باندې د خپلې برخې په اندازه دي.

۳- حاصلات به د هغه ټاکلي شرط لاندې چې د دواړو تر منځ وربانډې اتفاق شوی وي ویشل کیږي، که چیرې ځمکې حاصلات ونه کړل د هر یوه لپاره هیڅ شی نشته.

۴- د دهقانۍ عقد د هغه چا په حق کې چې تخم وربانډې وي غیر لازم شمیرل کیږي په بل لوري چې تخم پې ندی اچولی لازم ګڼل کیږي.

---

[۱]- تبیین الحقایق شرح کنز الدقایق ۲۷۹/۵.

ketabton.com - The Digital Library

۵- خړوبول او کرل د عرف او عادت مطابق ټاکل کیږي.

٦- که چیرې یو له عاقدینو د کښت د رسیدو څخه وړاندې مړ شي، کښت به تر پخلي پورې پریښودل کیږي او د دهقان لپاره هیڅ نشته، ځکه د اجارې عقد د مودې د نه ختمیدو لـــه وجې باقي پاتې دی[1].

فعالیت: څو تنه زده کوونکي دې د دهقانۍ د شرطونو دګټو په هکله معلومات ورکړي.

د دهقانۍ پای:

په لاندې حالاتو کې دهقاني پای ته رسیږي.

۱- کله چې د دهقانۍ موده پای ته ورسیږي

۲- کله چې یو د عاقدینو څخه مړ شي.

۳- همدارنګه دهقاني په عذرونو سره هم پای ته رسیږي، عذرونه عبارت دي له:

أ- کله چې د ځمکې خاوند ډیر قرضدار او د ځمکې پلورلو ته اړ شي.

ب- کله چې دهقان ته عذر پیدا شي، یعنې داسې ناروغ شي چې د کار توان ونلري.

ارزونه:

أ- لاندې شیان په لنډ ډول بیان کړئ:

۱- مزارعت لغتاً او اصطلاحاً تعریف کړئ.

۲- د جائز مزارعت صورتونه په لنډ ډول وویاست.

۳- د مزارعت شرطونه په لنډ ډول بیان کړئ.

۴- د دهقاني د اړونده احکامو په هکله معلومات ورکړئ.

ب- لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱- کله چې ځمکه او..... په یوه، تخم او..... په دهقـــان وي دا ډول ځمکه ورکول په دهقانۍ باندې باطله دهقاني بلل کیږي.

۲- حاصلات به د هغه ټاکلي شرط لاندې چې د دواړو تر منځ وربانـــدې اتفـــاق شـــوی وي .....

کورنۍ دنده:

د لوست مهم مطالب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

---

[1]- بدائع الصنائع ۱۸۱/٦، الدر المختار في رد المحتار ۱۹۹/۵.

ketabton.com - The Digital Library

مساقات (باغباني)

كريم، حكمت ته خپل باغ د لاس ته راتلونكو ميوو په يوه معلومه برخه د خدمت لپاره وركوي، د پورتنيو دوو كسانو دا معامله د باغبانۍ په نامه يادېږي او د فقهې په اصطلاح كې ورته مساقات وايي.

لومړی: د مساقات معنا:

مساقات ته په پښتو ژبه كې باغباني وايي.

او د فقهې په اصطلاح كې: باغبان ته د مېوو په يوه ټاكلې مشاع (تيته) برخه باندې د مېوه لرونكو ونو وركول باغباني بلل كېږي.[1]

دويم: د باغبانۍ حكم:

امام ابوحنيفه (رح) باغباني باطله بولي، مگر صاحبين يې د څه شرطونو سره روا گڼي، خو فتوی د همدوی په قول ده، ځكه نبي اكرم صلى الله عليه وسلم د خيبر له خلكو سره همداسې عمل كړی دی.

دريم: د باغبانۍ ركن:

د باغبانۍ ركن ايجاب او قبول دی.

څلورم: هغه ونې چې باغباني يې جواز لري:

د ميوه لرونكو ونو لكه خرما او انگور، همدا راز د نورو ونو او بوټو لكه بانجانو د بوټو وركول په باغبانۍ باندې روا دي، ځكه چې د باغبانۍ جواز د اړتيا له مخې راغلی نو ټولې ونې پكې راتلای شي.[2]

پنځم: د باغبانۍ او دهقانۍ تر منځ مهم توپيرونه په لاندې ډول دي:

١- كله چې يو د متعاقدينو څخه د باغبانۍ نه پلي كيدل غواړي، نو په ترسره كيدو يې مجبوريږي حال داچې دهقاني داسې نده.

---

[1] - التسهيل الضروري لمسائل القدوري ص ٥٦٥.

[2] - بدائع الصنائع ١٨٥/٦.

ketabton.com - The Digital Library

۲- کله چې د باغبانۍ موده پوره شي، عقد به د میوې تر پخیدو پورې دوام مومي، باغبان ته د دې مودې مزدوري نه ورکول کیږي او میوه به په ونه کې پرته له اجورې څخه تر پخیدو پورې وي، د دهقانۍ په خلاف.

۳- کله چې باغباني فاسده شي، باغبان ته به مناسبه مزدوري ورکول کیږي، حـــا ل دا چـــې مزارعت داسې ندی.

۴- استحساناً په باغبانۍ کې د مودې ټاکل شرط ندي، ځکه چې د هرې میوې د پخیدو موسم معلوم دی، حال دا چې دهقاني داسې نده.

فعالیت: یو شمېر زده کوونکي دې د مساقات عقد په هغو مېوو کې چې د دوی په سیمو کې شتون لري تمثیل کړي.

شپږم: د باغبانۍ شرطونه:

باغباني خپل ځانګړي شرطونه لري چې لنډیز یې دا دی:

۱- باغبان او مالک دواړه باید د عقد اهلیت ولري، یعنې د عقل خاوندان به وي.

۲- مالک به خپل لاس د ونو څخه لنډوي، یعنې ونې به باغبان ته سپاري.

۳- په لاس ته راتلونکو ټولو میوو کې به دواړه شریک وي.

اووم: د باغبانۍ احکام:

د صحیحې باغبانۍ لپاره فقهاؤ کرامو ځانګړي احکام راوړي چې لنډیز یې دا دی:

۱- ټول هغه کارونه چې ونه پرې ساتل کیږي او ورته اړتیا لري لکه اوبه، ویالې جوړول، ساتنه او القاح (پیوند کول) په باغبان دي.

۲- ټول هغه مصارف چې د ونو د قوت ښنلو لپاره دي لکه سره یا کود، د ځمکې اړول او د میوو په ټولولو باندې راځي، دواړه به یې د خپلې برخې په اندازه مشترک ګالي.

۳- که چیرې باغ میوه ونکړه هیڅ یو د بل څخه څه نشي اخیستلای.

۴- د باغبانۍ عقد په دواړو لازم دی.

۵- د ځمکې خاوند، باغبان په کار کولو مجبورولای شي، مګر نه د عذر په صورت کې.

۶- لاس ته راغلې میوه به د ټاکلي شرط سره سم د دواړو تر منځ ویشل کیږي[1].

[1]- بدائع النائع ۱۸۶/۶، تبیین الحقایق شرح کنز الدقایق ۲۸۴/۵.

ketabton.com - The Digital Library

اتم: د باغبانۍ پای:

باغباني په هغه شیانو پای مومي په کومو چې دهقاني پای ته رسیږي او عبارت دی لـــه لانـــدې شیانو څخه:

۱- کله چې د ټاکلي شرط سره سم باغباني پای ته ورسیږي.

۲- کله چې یو د عاقدینو څخه خپل ژوند له لاسه ورکړي.

۳- همدارنګه په عذرونو باندې هم پای ته رسیږي او دا عذرونه عبارت دي له:

الف: کله چې باغبان معلوم او مشهور غل وي.

ب: کله چې باغبان داسې ناروغ شي چې د کار جوګه نه وي.

فعالیت: څو تنه زده کوونکي دې د مساقات د یویو شرط حکمت په هکله خپلو ملګرو تـــه معلومات ورکړي.

ارزونه:

۱- لاندې شیان بیان کړئ:

۲- مساقات په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ.

۳- د مساقات او مزارعت ترمنځ توپیرونه په ګوته کړئ.

۴- د باغبانۍ شرطونه وواياست.

۵- د باغبانۍ لومړی او دوم حکم بیان کړئ .

٦- دباغبانۍ دریم او څلورم حکم وواياست.

۷- د باغبانۍ پنځم او شپږم حکم بیان کړئ.

۸- دباغبانۍ عقد په کوم وخت پای مومي؟

۹- لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو ډک کړئ:

۱۰- باغباني له دهقانۍ څخه پدې کې توپیر لري چې د مودی پوره کیدو سره ســره ..... د میوې تر پخیدو پورې دوام مومي.

۱۱- پـــه باغبـــانۍ کـــې د مـــودې ټاکـــل.....، ځکـــه چـــې .....

کورنۍ دنده:

هغه مهم توپیرونه چې باغباني پې له دهقانۍ سره لري په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

وقف

لومړی: د وقف معنا:

وقف په لغت کې حبس او ساتلو ته وايي.

او د فقهاوو په اصطلاح کې:

۱- وقف د ځمکې يا جنس بندول دي پداسې حال کې چې د ملکيت حکم يې واقف سره پاتې او ګټه يې خيراتيږي وقف بلل کيږي.

۲- او يا د عين بندول او خيراتول دي د ټولنې د خدمت لپاره. لومړی تعريف امام ابوحنيفه رحمه الله تعالى او دويم يارانو کړی دی.[۱]

دويم: د وقف د روا والي دليل:

وقف د دې په خاطر روا شوی چې محتاج خلک د ښېل شوي عين څخه پداسې توګه ګټه واخلي چې اصل عين يې باقي وي، نو پدې ډول به وقف شوی مال د واقف لپاره صدقه جاريه وي، نبي اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايي: «إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاثَةِ أَشْيَاءَ : مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ»[۲] ژباړه: کله چې انسان مړ شي ټول اعمال يې قطع کيږي مګر درې شيان دي چې دا ورته د مرګ څخه وروسته هم ګټه رسوي هغه: تل پاتې صدقه، ګټور علم او نيک اولاد چې ورته دعا کوي.

دريم: د وقف حکم:

امام ابوحنيفه رحمه الله تعالى وقف جائز غير لازم عقد ګڼي، بنا پر دې مالک يې بيرته غوښتلای شي او ورڅخه د ده لاس نه لنډيږي، مګر که چيرې د وخت قاضي ورباندې پريکړه صادره کړي او يا د ده تر مرګ پورې تړاو ولري بيا د مالک له لاسه وځي.[۳]

د يارانو په نظر کله چې وقف صحيح وي لازم ګڼل کيږي او د مالک د لاسه د وقف له وينا سره سم وځي.

لنډه دا چې د امام ابوحنيفه رحمه الله تعالى په نظر وقف جائز غير لازم عقد دی او د يارانو په نظر کله چې صحيح واقع شي وقف شوی د مالک له لاسه وځي.

۱- فتح القدير ۳۲/۵.

۲- صحيح مسلم.

۳- الدر المختار ۱۳۹/۳، الى ۳۹۲.

ketabton.com - The Digital Library

څلورم: د وقف رکن:

د وقف رکن هغه لفظ او صیغه ده چې په وقف دلالت کوي.

پنځم: د وقف شرطونه:

۱- وقف کوونکی باید عاقل او بالغ وي.

۲- وقف کوونکی به آزاد، د بنبل شوي شي مالک او هوښیار وي.

د موقوف شرطونه:

۱- وقف شوی مال به ځمکه او یا هغه شی وي چې د بقا سره تړنه ګټه اخیستل کیږي لکه د جهاد لپاره د سلاح او اسونو وقف کول.

۲- وقف شوی مال به معلوم او څرګند وي.

۳- وقف شوی مال به د وقف په وخت کې د واقف ملکیت وي.

۴- وقف شوی مال به بیل او جلا وي تیت او پراګنده به نه وي.

فعالیت: یو شمېر زده کوونکي دې د وقف څو صورتونه تمثیل کړي.

شپږم: د وقف کتونکی یا ناظر:

واقف ته روا ده چې د وقف نظارت پخپله وکړي او یا یې هغه چا ته وسپاري چې ورته وقف شوی وي، همدارنګه پرته له دوی دواړو څخه بل څوک هم ورته ټاکل کیږي، که نوم یې معلوم وي لکه فلانی او یا ورته څه صفتونه وټاکي لکه چې ووایي: هوښیار، عالم او یا نور داسې صفتونه ولري نو زما د وقف نظارت به کوي.

د وقف د ناظر شرطونه په لاندې ډول بیانیږي:

۱- د وقف ناظر باید متقي او پرهېزګار شخص وي.

۲- د ورسپارل شوې دندې کفایت باید ولري.

اووم: د ناظر دنده:

۱- د وقف شوي شي ساتل.

۲- د وقف شوي شي آبادول.

۳- وقف شوی شی په کرایه یا دهقانی ورکول او د دې لپاره لانجه او مخاصمه کول.

ketabton.com - The Digital Library

اتم: د ناظر ګومښه کول:

واقف د وقف ناظر ګومښه کولی شي.

نهم: د وقف اړوند مسئلې:

۱- یواځې زامنو ته پرته له لونې د مال وقف کول مکروه تنزیهي دي، ځکه چې دا کار د جاهلیت کړنو ته ورته دی.

۲- د وقف مصارف به د وقف شوي مال له ګټې څخه ورکول کیږي.

۳- که چیرې کوم جومات ړنګ او بیا هیڅوک یې ابادولو ته غاړه کښینږدي، پداسې حال کې چې خلک ورته اړتیا ونلري ځکه چې بل مسجد ورسره آباد شوی وي، دا ځای د شیخینو (امام ابو حنیفة او امام ابو یوسف) په نظر همداسې تر قیامته مسجد پاتې کیږي، ابادوونکی او د ده وارثان یې بیرته مالک کیدای نشي. همدارنګه د بل ځای سره یې تبدیلولای هم نشي او نه یې بل مسجد ته د اسبابو انتقالول جواز لري، برابره ده چې لمونځ پکې کیږي او که نه کیږي.[۱]

۴- د مسجد په دیوال د تیر ایښودل په کرایه او یا پرته له کرایې روا ندي.[۲]

فعالیت: څوتنه زده کوونکي دې د وقف دشرطونو ګټې په انفرادي توګه خپلو ملګروته بیان کړي.

ارزونه:

لاندې سوالونه ځواب کړئ:

۱. وقف په لغت او اصطلاح کې څه ته وایي؟
۲. د وقف شوي مال شرطونه بیان کړئ.
۳. د وقف شوي مال ساتوونکی باید څوک اوسي؟
۴. د وقف د ساتوونکي دنده څه ده؟
۵. ایا هغه ځمکه چې دمسجد په نوم وقف شوی وي تل لپاره دمسجد په نوم یادیږي؟

لاندې جملې بشپړې کړئ:

۱. زامنو ته پرته له لونې د مال وقف کول ..... .
۲. د وقف کوونکي شرطونه په لاندې ډول دي:.....

کورنۍ دنده:

د لوست مهم مطالب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

---

[۱] هندي فتاوی ۲- ۴۵۸- الفصل الاول فیما یصیر به مسجداً.

[۲]- الدر المختار ۴۰۶/۳.

ketabton.com - The Digital Library

صلح (سوله)

زيد او زبير په خپل منځ کې په يو پټي باندې شخړه وکړه، يو وايي: پټی زما دی. او بل وايي زما دی. د کلي سپين ږيرو د دوی تر منځ د دوی په خوښه پربکړه وکړه، زيد ته يې د مدعی به پټي درېمه برخه د صلح (سولې) په بنياد ورکړه او زبير پرې قانع شو. خو که دوی محکمې ته مراجعه وکړي نو قاضي د دوی تر منځ صلح نه کوي، چې د شخړې په لومړي ډول له منځه وړلو ته صلح او دويم ډول له منځه وړلو ته قضا ويل کيږي.

د صلحې تعريف:

صلحه په لغت کې سمولو ته وايي.

او د فقهاؤ په اصطلاح کې: هغه عقد چې شخړې له منځه وړي صلحه بلل کيږي.[1]

د صلح حکم:

د خلکو تر منځ د شخړو له منځه وړل ښه کار دی.[2]

د صلح د روا والي دليل:

صلح په قرآن کريم، احاديثو او اجماع باندې روا شوې ده.

۱ قرآن کريم: الله تعالي فرمايي: (وَالصُّلْحُ خَيْرٌ) [3] صلح کول غوره او بهتر کار دی.

۲ نبي اکرم ﷺ فرمايي:«الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ إِلاَّ صُلْحًا أَحَلَّ حَرَامًا أَوْ حَرَّمَ حَلاَلاً»[4] ژباړه: صلحه (سوله) د مسلمانانو تر منځ روا ده مګر هغه صلحه ناروا ده چې حلال حرام، او حرام حلال کړي.

۳ اجماع: ټولو علماؤ کرامو د صلحې په روا والي د دې لپاره اجماع کړې چې ستونزې او مشکلات له منځه يوسي.

د صلحې د روا والي حکمت:

د اختلاف او تفرقې له منځه وړل د محبت او دوستۍ فضا د مسلمانانو تر منځ ساتل دي.

---

[1]- وګوره : تکلملة فتح القدير:(۷\ ۳) تبيين الحقائق : ۵\ ۹.

[2]- وګوره: تبيين الحقائق: جلد، ۵، ص: ۳۰.

[3]- سورة النساء ، آيت ۱۲۸.

[4]- وګوره: السنن الكبرى للبيهقي: جلد، ٦، ص، ٦٥.

ketabton.com - The Digital Library

د صلحې حالات:

کله چې دوه تنه یو پر بل باندې د څه مال دعوه وکړي مدعی علیه به له لاندې درې حالاتو څخه خالي نه وي:

۱ **په دعوا به اقرار کوي:** لکه دا چې احمد په بکر باندې د یو جرنېټر دعوه و کړي، بکر د ده دعوه ومني، د سپین ږیرو له مداخلې وروسته دواړه په بل شي سره روغه، جوړه وکړي، معنا دا چې دعوه یې په جرنېټر کړي وي او جوړ جاړی په غوا وکړي، ګویا داسې ده لکه چې جرنېټر یې د غوا په بدل کې پلورلی وي، دا ډول صلحه روا ده او د بیعې احکام وربانديې مرتبیږي، ځکه چې د بیعې په معنا ده.

فعالیت: څو تنه زده کوونکي دې د صلحې صورتونه ثمثیل کړي.

۲ **د دعوا څخه د مدعی علیه انکار:** په پورتني صورت کې بکر د جرنېټر څخه منکر شي یې او بکر نه مني، مګر د احمد له ډېر اصرار څخه وروسته سپین ږیري په بکر څه شی ومني او بکر ته یې ورکوي دا ډول صلح هم جواز لري.

۳ **د مدعی علیه د چوپتیا او سکوت حالت:** معنا دا چې په پورتني مثال کې بکر د احمد په دعوا سکوت اختیاروي او هېڅ نه وایي، دې صورت کې هم د کلي مشران په بکر څه مني او احمد ته یې تسلیموي دا هم جواز لري.

د صلحې احکام: صلحه خپل ځانګړي احکام لري چې په لاندې ډول بیانېږي:

۱. د دعوا کوونکو تر منځ د شخړې او جنجال له منځه وړل، کوم چې وروسته لدې د دواړو دعوه پدې اړوند نه اوربدل کیږي.

۲. که چېرې دعوا په پټي وي او صلح هم په پټي باندې تر سره شوي وي شفیع ته د شفعې حق ثابتېږي، ځکه چې مدعی بها پټی یې په مصالح بها پټي و پلوره، ځکه چې د پټي په پلورلو باندې شفعه ثابتېږي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت: زده کوونکي دې په انفرادي توګه د مسلمانانو ترمنځ د صلحې ګټې بیان کړي.

ارزونه:

لومړۍ پوښتنه: لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. صلحه په څو ډوله ده ؟ په لنډه توګه یې بیان کړئ.

۲. د صلحې یو مثال ووایاست!

۳. په صلحه کې د مدعی علیه حالات ووایاست!

۴. د صلحې اړوند احکام بیان کړئ.

دویمه پوښتنه: لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

۵. صلحه په‌لغت کې ..... ته وایي. او په اصطلاح کې:..... .

۶. که چېرې دعوه په پټې وي او صلحه هم په پټې باندې تر سره شوې وي شفیع ته ..... .

کورنۍ دنده:

د صلحې د ګټو په هکله یوه مختصره مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

څلوېښتم لوست

شرکت

د شرکت تعریف:

شرکت په لغت کې اختلاط او ګډولو ته وایي.

او د فقهاؤ په اصطلاح کې: عبارت له هغه عقد څخه دی چې د شریکانو تر منځ په سرمایه او ګټه کې تر سره کیږي، معنا دا چې شریکان یو بل سره پدې اتفاق کوي څرنګه چې زمونږ سرمایه ګډه ده همدا شان ګټه مو هم سره ګډه ده.[1]

د شرکت د روا والي دلیل:

شرکت په قرآن کریم، احادیثو او اجماع باندې ثابتېږي.

۱. **الله تعالی فرمایلي دي:** وَإِنَّ كَثِيرًا مِّنْ الْخُلَطَاء لَيَبْغِي بَعْضُهُمْ عَلَى بَعْضٍ [2] دېر داسې شریکان شته چې یو پر بل باندې تېری کوي.

نبي کریم ﷺ فرمایي: « يَقُولُ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَنَا ثَالِثُ الشَّرِيكَيْنِ مَا لَمْ يَخُنْ أَحَدُهُمَا صَاحِبَهُ فَإِذَا خَانَ خَرَجْتُ مِنْ بَيْنِهِمَا ». [3]

ژباړه: دا قدسي حدیث دی رسول الله ﷺ وایي: الله تعالی فرمایي: زه د دوه شریکانو دریم یم په ساتنه او مرسته کې او تر هغه وخته پورې ورسره یم چې تر څو خپل ملګري سره خیانت ونکړي، پس هر کله چې دوې خیانت وکړ، زه ورڅخه وځم او خپله مرسته ترې اخلم. معنا دا چې کله سره ښه او راست چلیږي الله تعالی یې په کار کې برکت اچوي او کله چې خیانت ورڅخه واقع شي مرسته او برکت ورڅخه پورته کیږي.

---

[1]- وګوره، فتح القدیر د عنایې سره، ج: ۲. ص: ۵. تبیین الحقائق: ج: ۳. ص: ۳۱۲. رد المحتار، ج: ۳. ص: ۳٦۴.

[2]- سورت ص، آیت: ۲۴.

[3]- اخرجه البیهقي في السنن الکبری، ج: ٦. ص: ۷۸.

ketabton.com - The Digital Library

۲. اجماع: ټولو مسلمانانو د شرکت په جواز اجماع کړې ده.

د شرکت د روا والي حکمت:

خلکو ته د مرستو لارې چارې برابرول پداسې شکل سره چې یو بل سره مالونه ګډ او غټ غټ شرکتونه جوړ کړي د کومو چې یو تن ته چلول ګران وي.

د شرکت ډولونه:

۱. د املاکو شرکت.

۲. د عقودو شرکت.

د املاکو شرکت:

دا هغه شرکت دی چې دوه یا ډېر اشخاص پرته د شرکت له عقد څخه د یو عین مالکان شي او دا په دوه ډوله دي:

۱. اختیاري شرکت:

دا هغه شرکت دی چې د شریکانو په کړنې سره رامنځ ته شي، لکه یو شی په ګډه واخلي، یا د بل چا له لوري ورته وبښل شي او دوې یې قبول کړي.

۲. اجباري شرکت:

دا هغه شرکت دی چې دوه تنو ته پرته د دوې له کړنې ثابت شي، لکه دوه تنو ته په ګډه یو شی په میراث پاتې شي. [۱]

فعالیت: یو شمېر زده کوونکي دې د شرکت ډولونه په ټولګي کې تمثیل کړي.

د دې شرکت حکم: هر شریک ته د دې شرکت څخه روا نده چې د خپل ملګري په برخه کې پرته د هغه له اجازې څخه تصرف وکړي، ځکه چې یو په بل باندې هیڅ ولایت نه لري.

---

[۱]– وګورە، بدائع الصنائع، ج: ٦. ص: ٥٦. فتح القدیر، ج: ٥. ص: ٣. رد المحتار، ج: ٢. ص: ٣٦٤.

ketabton.com - The Digital Library

د عقودو شرکت: د عقودو شرکت عبارت له هغه عقد څخه دی چې دوه یا ډېر کسان یې په مال او ګټه کې د اشتراک په خاطر د یو بل سره کوي.

د عقودو د شرکت ډولونه: د عقودو شرکت په درې ډوله دی:

۱. د مالونو شرکت.
۲. د اعمالو او کارونو شرکت.
۳. د وجوهو شرکت.[۱]

د عقودو د شرکت رکن:

ایجاب او قبول د عقودو د شرکت ارکان دي.

لومړی د مالونو شرکت: دا هغه شرکت دی چې دوه تنه په مال کې شریک شي او یو بل ته ووایي: زه او ته دواړه په اخیستلو او پلورلو کې شریک یو او یا که چېرې مورِ ته الله تعالی ګټه را په برخه کړه دا به د دواړو تر منځ پدې شرط شریکه وي، دا شرکت په دوه ډوله دی:

۱. د عنان شرکت:

دا هغه شرکت دی چې دوه تنه د تجارت له پاره سرمایه پداسې شرط چې ګټه به یې د دواړو تر منځ وېشل کېږي را ټولوي او ازاد تجارت وربانديې کوي د عنان شرکت بلل کېږي.

دا هغه ډول شرکت دی چې د خلکو تر منځ په اوسني عصر کې رایج او خلک یې کوي، ځکه چې دا کوم حد نه لري چې سړی دې څومره سرمایه ولري چې دا شرکت وربانديې وکړي.

بلکې هر څومره شی چې په واک کې لري هغه د بل سره شریکولای شي او د خپلې سرمایې او ټاکلي شرط مطابق په ګټه کې شریکېږي.

دې شرکت کې دا کېدای شي چې یو د شرکت مسئول او بل هېڅ مسئولیت ونه لري، یو کار کوي او بل یې نه کوي، په شرکت او حکم یې کوم اثر نه پرېوځي.

۲. د مفاوضې شرکت:

دا هغه شرکت دی چې شریکان په سرمایه، ګټه او تصرفاتو کې برابره وندې ولري د مفاوضې شرکت بلل کېږي، بناءً که چېرې د شریکانو سرمایه او نورشیان سره مساوي نه وي بیا ورته د

---

[۱]- وګوره ، تبیین الحقائق شرح کنز الدقائق، ج: ۳. ص: ۳۱۳.

ketabton.com - The Digital Library

مفاوضي شرکت نشو ويلای، مثلاً: د يوه سړي سرمايه دوه زره افغانۍ او د بل يو نيم زر افغانۍ ده او په ګډه تجارت پيل کړي د مفاوضي شرکت ندی. [1]

دا ډول شرکت روا دی، نبي کريم ﷺ فرمايي: "فَاوضُوا، فَإِنَّهُ أَعظَمُ لِلبَرَكَةِ"[2] تاسي د مفاوضي شرکت وکړئ، دا ځکه چې پدې کې برکت دی.

فعاليت: څو تنه زده کوونکي دې په انفرادي توګه د شرکت ديو يو شرط حکمت په هکله خپلو ملګرو ته معلومات ورکړي.

ارزونه:

أ. لاندې پوښتنو ته ځواب ووياست:

۱. شرکت لغتاً او اصطلاحاً تعريف کړئ.

۲. د املاکو شرکت په څو ډوله دی؟ نومونه يې واخلئ!

۳. د عقودو د شرکت ډولونه په لنډ ډول وليکئ.

۴. دعنان شرکت تعريف کړئ .

۵. د مفاوضي د شرکت له تعريف څخه وروسته يې له عنان شرکت سره توپير وښايئ.

ب. لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

۱. اجباري شرکت: هغه شرکت دی چې..... ته پرته د دوې له ..... ثابت شي، لکه .....

۲. د عقودو شرکت په..... ډوله دی.

کورنۍ دنده:

د خپلې سيمې څخه د اجباري او عنان شرکتونو يويو مثال وليکئ.

---

[1]– وګوره: المبسوط، ج: ۱. ص: ۱۵۱. فتح القدير، ج: ۵. ص: ۲۰. بدائع الصنائع، ج: ٦. ص: ۵۷. رد المحتار، ج: ۳. ص: ۳۷۳.

[2]– وګوره: نصب الراية في تخريج احاديث الهداية، ج: ۲. ص: ۴۷۵.

ketabton.com - The Digital Library

د وجوهو شرکت

د وجوهو شرکت:

دا هغه شرکت دی چې مخور خلک پرته له دې چې سرمایه ولري سره شریکېږي، د خپل اعتبار پر بنسټ شیان په پور اخلي او بیا یې په نقدو پلوري او کومه ګټه چې وکړي پخپلو منځونو کې یې د ټاکلي شرط سره سمه وېشي.

دا ډول شرکت روا دی.[1]

پدې شرکت کې دا هم روا ده چې د یوه ګټه لږه او د بل ګټه ډېره وي، خو تاوان به په هغه اندازه وربانديې راځي څومره چې ضامن شوی دی.

د اعمالو او ابدانو شرکت:

دا هغه ډول شرکت دی چې دوه یا ډېر کسان پخپله غاړه باندې د چا څه کارونه ومني او دهغو له تر سره کولو وروسته لاس ته راغلې ګټه پخپل منځ کې د ټاکلي شرط سره سمه ووېشي.

معنا دا چې خیاطان، آهنګران او یا نور کسبه خلک په شریکه یو کار ونیسي وروسته دکار او مصارفو ګټه پخپل منځ کې ویشي.

فعالیت: د مضاربت او شرکت ترمنځ توپیر ووایاست.

د عقودو د شرکت شرطونه:

۱. **د ګټې اندازه به ټاکلې او محدوده وي:** معنا دا چې پنځمه، دریمه او یا څلورمه برخه کې به یو بل سره شریک وي، بناءً که چېرې مجهوله وي بیا شرکت فاسد دی.

۲. **د ګټې اندازه به مشاع (تیته) وي:** بناءً که چېرې داسې ووایي چې لس افغانۍ ګټه یې زما ده او نوره ستا ده، دا شرکت فاسد دی.

د مالونو د شرکت شرطونه:

۱. د کار او عمل شرط کول: په عنان شرکت کې دا روا ده چې شریکان یو پر بل باندې او یا یو تن باندې کار شرط کړي، لکه چې داسې شرط کړي: دواړه به په شریکه اخیستل او

---

[1]- وګوره: بدایع الصنائع، ج: ٦. ص: ٥٧. المبسوط، ج: ١١. ص: ١٥٤. فتح القدیر، ج: ٥. ص: ٣٠.

ketabton.com - The Digital Library

خرڅول کوو، که خدای تعالی ګټه را نصیب کړه زما او ستا ګډه ده، او یا داچې یو به اخیستل او خرڅول کوي او ګټه به د دواړو شریکه وي.

۲. د ګټو وېش: ګټه به په سرمایه وېشل کیږي، بناءً که چېرې سرمایه مساوي وي ګټه به یې هم مساوي وي، برابره ده چې کار یو تن کوي او یا دواړه، ځکه چې ګټه به یا په کار وېشل کیږي او یاپه سرمایه. [۱]

۳. هر کله چې د شرکت مال مخکې د مال له اخیستلو او یا ګډولو څخه له منځه ولاړ شي شرکت باطلیږي.

۴. په عنان شرکت کې هر شریک د اخیستلو او خرڅولو واک لري، ځکه د شرکت په اساس هر یو بل ته د دې اجازه ورکړې ده.

د شرکت باطلوونکي: شرکت په لاندې شیانو له منځه ځي:

۱. د شریکانو له لوري د شرکت ماتول: کله چې د شریکانو له لوري شرکت مات او له منځه ولاړ شي شرکت باطلیږي.

۲. کله چې د شرکت یو شریکوال مړ او له منځه ولاړ شي شرکت له منځه ځي.

۳. کله چې د شرکت مال وړاندې د شرکت له قیام څخه د منځه ولاړ شي شرکت باطلیږي.

هغه شیان چې شرکت په کې نه صحیح کیږي:

کله چې شریکان په یو مباح عمل باندې هغه چې په لاسته راوړلو یې سړی مالک ګرځي لکه ښکار، لرګي را ټولول، د معدنونو د ایستلو لپاره د ځمکې کیندل او داسې نور، دا ټول شرکتونه صحیح ندی او فاسد شمېرل کېږي، چا چې څه راټول او وموندل د هغه دي.[۲]

---

[۱]– وګوره: فتح القدیر، ج: ۵. ص: ۲۱. تبیین الحقائق، ج: ۳. ص: ۳۱۸. بدائع الصنائع، ج: ٦. ص: ٦۲.

[۲]– وګوره: تبیین الحقایق شرح کنز الدقائق، ج: ۳. ص:۳۲۳. بدائع الصنائع، ج: ٦. ص: ٦۳. المبسوط، ج: ۱۱. ص: ۲۱٦ او ورسته پاڼه.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

الف: لاندې اصطلاحات تعریف کړئ!

۱. د وجوهو شرکت تعریف کړئ.

۲. د اعمالو اوابدانو شرکتونه دمثال په وړاندې کولو سره شرحه کړئ.

۳. دعقودو د شرکت شرطونه بیان کړئ.

۴. په کوم شرکت کې د کار کول شرط ګنل کیږي؟

۵. په کومو حالاتو کې شرکت باطلیږي؟

ب: لاندې خالي ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

د عقودو شرکت څو شرطونه لري؟ په لنډ ډول یې بیان کړئ.

۱. کله چې د شرکت مال وړاندې د ..... څخه د منځه ولاړ شي شرکت .....

۲. د وجوهو شرکت دا هغه شرکت دی چې ..... سره شریکیږي

کورنۍ دنده:

د وجوهو او اعمالو د شرکتونو دګټو په هکله په پنځو کرښو کې یوه مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

شفعه

د شفعې تعريف:

په لغت کې: زيادت او جفت والي ته وايي.

او په اصطلاح کې: د ګاونډي له ضرر څخه د خلاصون په خاطر د ځمکې د تملک حق ته ويل کېږي.

د شفعې مشروعيت:

د شفعې حق د دې لپاره ضروري دی تر څو له ړومبني شريک څخه د نوي شريک ضرر دفعه شي.

د شفعې حکم:

د شفعې غوښتل يو روا حق دی.

د شفعې اړوند ځينې اصطلاحات:

شفيع: هغه چا ته ويل کېږي چې د شفعې حق ولري.

مشفوع: هغې ځمکې ته ويل کېږي چې د شفعې حق ورپورې تړلی وي.

مشفوع به: له هغه ملکيت څخه عبارت دی چې له امله يې د شفعې حق ثابتېږي.

مشفوع عليه: د ځمکې اخيستونکي ته ويل کېږي.

د شفعې سبب:

د شفعې سبب د پلورل شوې ځمکې سره د شفيع د ځمکې پيوستوالی دی برابره خبره ده چې دا پيوستوالی لار يا ګاونډيتوب وي.

په شفعه کې د شرکت ډولونه:

په شفعه کې شرکت په دوه ډوله دی:

۱. په خرڅه شوې ځمکه کې شرکت: هغه داسې چې شفيع په خرڅه شوې ځمکه کې برخه ولري.

۲. د خرڅې شوې ځمکې په حقوقو کې شرکت لکه: د اوبو خوړلو حق، د خاصې لارې حق او داسې نور.

ketabton.com - The Digital Library

د شفعې ثبوت:

د شفعې حق د ځمکې د خرڅولو او د شفعې د اسبابو د وجود په صورت کې ثابتېږي.

د شفعې شرطونه:

هغه بیعه چې شفعه په کې ثابتېږي باید لاندې شرطونه ولري:

۱. عقار (ځمکه) باید مملوکه وي اګر که د تقسیم قابلیت ونه لري.

۲. بیعه باید صحیح او نافذه وي.

په لاندې صورتونو کې شفعه نه ثابتېږي:

۱. بلاعوضه هبه، صدقه، وقف، میراث، وصیت یا هغه ځمکه چې د هغې بدل مال نه وي.

۲. هغه آبادي او ونې چې ځمکه یې دولتي وي.

۳. د شریکانو په خپلو کې د عقار (ځمکې) تقسیم.

۴. هغه بیعه چې خیار شرط په کې شرط شوی وي.

۵. هغه مبیعه چې د دولت له خوا د بولۍ په توګه پلورل شوې وي.

٦. هغه مبیعه چې د دولت له خوا د استملاک یا د مسجد د جوړولو یا د مسجد سره د یو ځای کولو په منظور پلورل شوې وي.

د شفعې طلب:

د شعې طلب او غوښتنه په لاندې درېو طریقو سرته رسېږي:

۱. مواثبت (بې له ځنډه) طلب: دا هغه طلب دی چې هر کله شفیع د هغه مجلس څخه خبر شي چې په کې بیعې صورت موندلی وي فوراً پرته له ځنډه او پرته له هغه څه چې د ده په انصراف دلالت کوي د شفعې غوښتنه وکړي.

۲. د استشهاد طلب (د شاهدانو په واسطه): دا هغه طلب دی چې شفیع پر پلورونکي چې ځمکه یې په لاس کې وي یا پر پېرودونکي چې اګر که ځمکه یې په لاس کې نه وي شاهدان ونېسي، که چېرې شفیع د شاهدانو په نیولو توان ولري خو شاهدان ونه نیسي د شفعې حق یې باطلېږي.

۳. د تملک طلب (د دعوا طلب): د تملک طلب په محکمه کې د خصومت د دعوی له دایرولو څخه عبارت دی.

ketabton.com - The Digital Library

د شفعی ځینی احکام:

- ❖ شفیع په ټولو حقوقو او وجایبو کی د بایع په وړاندې د مشتري غوندې دی. ځمکه د شفیع په حق کې نوې مبیعه ده، برابره ده که شفیع د قضاء له لارې لاس ته راوړې وي یا د بایع په خوښه یې تر لاسه کړې وي، نو په همدې بناء شفیع د خیار عیب او خیار رؤیت حق لري.
- ❖ که چېرې شفیع ته د مبیعې په ورکولو حکم وشي پداسې حال کې چې د مبیعې پیسې پر مشتري باندې قرض وې شفیع ملکف دی چې هغه پیسې نغدې ورکړي.
- ❖ که چېرې پېرودونکی د شفیع له خبر ورکولو څخه وروسته په مشفوع ځمکه کی آبادي وکړي یا پکې ونې کښوي، شفیع کولی شي چې یا ځمکه پرېږدي یا د ځمکې قېمت او د آبادۍ او ونو مصارف ټول ورکړي، او یا اخېستونکی د آبادۍ په ورانولو او ونو اېستلو اړ کړي.
- ❖ که چېرې اخیستونکی د شفیع له خبر ورکولو مخکی په مشفوعه ځمکه کی زیادت راولي (آبادي وکړي) نو شفیع اختیار لري چې یا ځمکه پرېږدي او یا د ځمکې قېمت او د زیادت د پیسو په ورکولو ځمکه واخلي.
- ❖ که چېرې مشفوعه ځمکه د طبعي حوادثو له امله له منځه ولاړه شي، د تلف شوې برخې پیسې د اصل قېمت څخه کمېږي.
- ❖ شفعه نه تجزیه کېږي، شفیع نه شي کولی چې اخیستونکی د مشفوعه ځمکی د ځینی برخې اخیستلو او د ځینې نورې برخې پرېښودلو ته اړ کړي.

د شفعی سقوط:

شفعه د مواثبت د طلب په پرېښودلو او یا د هغی د صحت له شرطونو څخه د کوم شرط په له منځه تللو ساقطېږي.

فعالیت: زده کوونکي دې لاندې عبارتونه په خپلو منځونو کې توضیح کړي:

خلیط، شفیع، شفعه، مدعی، مدعی علیه، دعوی.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

۱. شفعه په لغت او اصطلاح کې تعریف کړئ:

۲. شفعه څه حکم لري؟

۳. د شفعې د روا والي حکمت څه دی؟

۴. شفعه په څه شي ثابتېږي؟

۵. د شفعې شرطونه کوم دي؟

٦. د شفعې له حکمونو څخه دوه حکمونه بیان کړئ:

۷. د صحیح جملو په وړاندې دا (√) نښه او غلطو جملو په وړاندې دا (X) نښه کېږدئ:

أ- په شفعه کې ملکیت شرط دی، نو په وقف شوې ځمکه کې شفعه نه ثابتېږي. ( ).

ب- که چېرې جایداد چا ته بلاعوضه نقل شوی وي لکه: میراث، هبه (تحفه) یا وصیت شفعه په کې ثابتېږي. ( ).

ج- د شفعې حق هغه چا ته نه ثابتېږي چې په مبیعه کې شریک نه وي. ( ).

کورنۍ دنده:

د شفعې د حکمت په اړه لنډه مقاله ولیکئ!

ketabton.com - The Digital Library

له ځان څخه د دفاع کول

کله کله داسې پېښېږي چې یو انسان د بل انسان پر ځان، مال او ناموس د تیري جرأت کوي، په دې صورت کې مقابل لوری خپلې دفاع ته اړ کیږي، پدې درس کې موږ د دفاع لارې څېړو او دا معلوموو چې څوک څرنګه د ځان څخه دفاع وکړي.

لومړی: د دفاع روا والی:

د شرعي دفاع مشروعیت په قرآن کریم، احادیثو او عقل ثابت دی.

الله تعالی فرمایي: فَمَنِ اعْتَدَى عَلَيْكُمْ فَاعْتَدُواْ عَلَيْهِ بِمِثْلِ مَا اعْتَدَى عَلَيْكُمْ وَاتَّقُواْ اللّهَ وَاعْلَمُواْ أَنَّ اللّهَ مَعَ الْمُتَّقِينَ [1] چا چې پر تاسو تېری وکړ، په همغه شان عمل ورسره وکړئ، څنګه چې درسره کړي، د الله تعالی څخه ووېرېږئ، زیاتی ورسره ونه کړئ، تاسې پوه شئ چې الله تعالی د متقیانو ملګری دی.

نبي کریم ﷺ فرمایي: « مَنْ قُتِلَ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ دَمِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ ».[2] ترجمه: څوک چې په خپل دین مړ شو شهید دی، څوک چې د ځان په دفاع کې مړ شو شهید دی، څوک چې په خپل مال مړ شو شهید دی، څوک چې په خپل ناموس مړ شو شهید دی.

د شرعي دفاع حالات:

کله چې څوک د بل چا په مال، ځان او نفس تېری وکړي، مقابل لوري ته په کار ده چې د خپل قدرت سره سم څرنګه چې مناسب وي خپله دفاع وکړي، بل څوک هم کولای شي چې د ده مرسته وکړي، بناءً لومړی به کمزورې لارې سنجوي، که چېرې یې په چیغو دفاع کولای شوه، وهل ورته جواز نه لري، همدا راز که دلاس په وهلو یې دفاع کولای شوه په کوتک وهل ورته روا ندي، همدا شان نور چې پدې باندې خپله دفاع کوونکی پوهېږي. [3]

---

[1] – البقرة: ۱۹۴

[2] – اخرجه البيهقي في السنن الكبرى، ج: ۳. ص: ۲٦٦.

[3] – وګوره: بدائع الصنائع، ج: ۷. ص: ۹۳.

ketabton.com - The Digital Library

د شرعي دفاع شرطونه:

۱. تېری او تجاوز به له داسې جریمې څخه وي چې جزا به لري بناءً د پلار، خاوند او ښوونکي تادیب تیری ندی.

۲. تیری او تجاوز به سملاسي صورت نېولی وي، معنا دا چې مؤجل او تهدید به نه وي.

۳. د تیري مخ نیوی به په مناسبه اندازه کوي تر څو د ده د ګومان مطابق تېری رفع شي.

۴. د تیرې مخ نیوی پرته له زور څخه په بله لاره امکان و نه لري.

فعالیت: خوتنه زده کوونکي دې له ځان څخه د دفاع د شرطونوپه هکله خپلو ملګروته معلومات ورکړي.

د شرعي دفاع د حکم حالات:

۱. د ځان څخه د دفاع حکم:

که چېرې کوم انسان په بل باندې د تېري تکل وکړي غواړي چې مړ او یا یې کوم غړی له کاره وغورځوي، برابره ده چې دا کار په انسان کوي او یا کوم حیوان باندې، بناءً هغه چا له پاره چې تېری وربانديې کیږي پکار ده چې د ځان څخه دفاع وکړي، که چېرې حمله کوونکی د مدافع له لوري مړ شو هیڅ جنایي او مدني مسئول ندی، معنا دا چې دیت او قصاص وربانديې نشته، نبي اکرم ﷺ فرمایي: (چاچې یو چا پسې توره را وایستله بیا یې کېښوده او همدی وربانديې ووهل شو وینه یې تاوان نه لري)

مسئلة: که چېرې حمله کوونکی حیوان یا ماشوم او لیونی وي مدني پوښتنه به ورڅخه کیږي نه جنایي، معنا داچې قصاص وربانديې نشته مګر دیت او د حیوان تاوان به ګالي، نبي کریم ﷺ فرمایي: «الْعَجْمَاءُ جُرْحُهَا جُبَارٌ» د حیوان زخم تاوان نه لري.

۲. د مال څخه د دفاع حکم:

د خپل مال څخه دفاع کول روا دي له نبي اکرم ﷺ څخه یو سړي پوښتنه وکړه که چېرې یو سړی راشي او له ما څخه مال اخلي څه وکړم؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: مه یې ورکوه. [۱]

---

[۱] – وګوره: تبیین الحقائق ، ج: ٦. ص: ۱۱۰. بدائع الصنائع، ج: ۷. ص: ۹۳. الفتاوی الهندیة، ج: ٦. ص: ۷ الی ۵۱.

ketabton.com - The Digital Library

ارزونه:

أ- لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. دفاع په کوم دلیل روا شوې ده؟ د قرآن کریم یو آیت او یو حدیث شریف ولیکئ.

۲. د دفاع حالات کوم دي؟

۳. شرعي دفاع کوم شرطونه لري؟ په لنډ ډول يې بيان کړئ.

ب- لاندې خالي ځايونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ:

۱. د ..... تادیب تیری ..... بلل کیږي.

۲. که چېرې حمله کوونکی د مدافع له لوری مړ شو هیڅ ..... ندی، معنا دا چې .....وربانديې نشته.

کورنۍ دنده:

د خلکو په ما ل، نفس، او پت باندې د تېرې کولو د ګناه په هکله یوه مقاله ولیکئ.

ketabton.com - The Digital Library

څلور څلوېښتم لوست

وصيت

د وصيت معنا:

وصيت په لغت کې عهد او وعدې ته ويل کيږي.

او د فقهاوو په اصطلا ح کې: هر هغه مال چې وروسته له مرګ څخه يې سړی پر ځان باندې د بل چا له پاره لازموي وصيت بلل کيږي.[1]

د وصيت ډولونه: وصيت په دوه ډوله دی:

۱. مطلق وصيت: دا هغه وصيت دی چې يو څوک داسې ووايي: ما فلاني ته په فلاني شي وصيت کړی دی.

۲. مقيد وصيت: هغه چې داسې ووايي: که چېرې زه د دې ناروغۍ څخه مړ شوم فلاني ته دا شی ورکړئ.

د وصيت د روا والي دليل:

وصيت په قرآن کريم، احاديثو، اجماع او عقل سره ثابت شوی دی.

۱. الله تعالی فرمايي: كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ[2] پرتاسو فرض دي چې کله د ځنکدن په حالت کې ياست او مال درځخه پاتې کيږي، پر تاسې لازمه ده چې پلار، مور، او نږدې خپلوانو ته په نېکه (عدالت سره سم) وصيت وکړئ او دا په پرهېزګارانو باندې د دوې حق دی، همدا راز پدې هکله نور آيتونه هم شته.

يادونه: د وصيت فرضيت د ميراث د آياتونو نزول سره منسوخ دی يوائی جواز يې پاتی دي.

فعاليت: زده کوونکي دې په انفرادي توګه د وصيت د يو يو شرط حکمت په اړه خپلو ملګرو ته معلومات ورکړي.

---

[1]- وګوره: تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق، ج: ۱۸. ص: ۱۳۰.

[2]- البقرة: ۱۸۰

ketabton.com - The Digital Library

نبي كريم ﷺ فرمايي: «إِنَّ اللَّهَ تَصَدَّقَ عَلَيْكُمْ عِنْدَ وَفَاتِكُمْ بِثُلُثِ أَمْوَالِكُمْ زِيَادَةً لَكُمْ فِي أَعْمَالِكُمْ»[1] ترجمه: بېشكه الله تعالى تاسې ته د ځنكدن په وخت كې دا واک درکړی چې د خپل مال دربمه برخه چا ته د وصيت په بنياد خيرات ورکړئ، کوم چې بيا په آخرت کې ستاسې په نېکو اعمالو کې زياتوالی راولي.

١. اجماع: علماؤ کرامو رحمة الله عليهم د وصيت په روا والي اجماع کړې ده.

٢. عقل: د عقل غوښتنه هم همدا ده چې سړی بايد ښه او نېک کارونه وکړي د دې له پاره که چېرې کومه نېمګړتيا ترې شوې وي هغه ورباندې جبيره شي.

د وصيت د روا والي حکمت:

په دنيا کې خير او ښېګڼه د دې له پاره خلکو سره کول چې د آخرت ثواب ورباندې تر لاسه کړي، ځکه خو شريعت دنيا د کښت او آخرت د درمند اخيستلو ځای ښودلی دی.

د وصيت حکم:

وصيت مستحب او غوره عمل دی او اندازه يې د ټول مال دربمه برخه ده او هغه وخت بايد ورکړل شي چې د وصيت کوونکي ټول پورونه ورکړل شي.

چا ته به وصيت کيږي:

د اجنبي شخص (يعنې چې وارث نه وي) له پاره وصيت کول صحيح دي برابره ده چې مسلمان وي او که کافر، همدا راز د وارثانو اجازه هم شرط نده.

د وصيت رکن:

د وصيت رکن يوائې د وصيت کوونکي له لوري ايجاب دی چې همدا د امام زفررحمه الله نظر هم دی.[2]

د وصيت شرطونه:

د وصيت کوونکي شرطونه:

١. وصيت کوونکی به د تبرع او ورکړې اهل وي، معنا دا چې عاقل او بالغ په خپل مال کې د تصرف اجازه ولري.

٢. وصيت کوونکی به وصيت پخپله خوښه پرته له کوم زور او زياتي څخه کوي. [3]

---

[1]- وګوره: مسند الصحابة فی کتب الستة.

[2]- وګوره: الدرالمختار، ج: ٧. ص: ٢٢٩.

[3]- وګوره: العناية شرح الهداية، ج: ١٦. ص: ٥٥.

ketabton.com - The Digital Library

د وصيت د نفاذ شرط:

د وصيت د نفاذ او پلي کېدو له پاره دا شرط ده چې بايد وصيت کوونکی دومره قرضدار نه وي چې د ده ټول مال په کې له منځه ولاړ او ختم شي.

د وصيت مبطلات: وصيت په لاندې شيانو باندې له منځه ځي:

۱. کله چې د وصيت کوونکي اهليت له منځه ولاړ شي وصيت باطليږي يعنې چې دائمي ليونی شي.

۲. کله چې وصيت کوونکی د خپل وصيت څخه و ګرځي وصيت له منځه ځي.

۳. کله چې وصيت کوونکی خپل وصيت له کوم شرط سره وتړي او بيا هغه ټاکلی شرط رامنځ ته نه شي وصيت له منځه ځي. [۱]

ارزونه:

أ- لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

۱. وصيت په لغت او اصطلاح کې څه ته وايي؟

۲. وصيت په څو ډوله دی ؟ د هر يو تعريف بيان کړئ.

۳. د وصيت حکم او اندازه يې بيان کړئ.

۴. د وصيت کوونکي شرطونه ووایاست.

۵. د وصيت باطلوونکي څو دي؟ په لنډ ډول يې ووایاست.

ب-لاندې جملې بشپړې کړئ :

۱. د وصيت د نفاذ او پلي کېدو له پاره دا شرط ده چې بايد وصيت کوونکی .....

۲. د اجنبي شخص له پاره وصيت کول ..... دی برابره ده چې ..... وي اويا..... وي.

کورنۍ دنده:

د وصيت د ګټو او د هغه د ليکنې په هکله يوه مقاله وليکئ.

---

[۱]- وګوره: الدر المختار، ج: ۵. ص: ۴۶۹ الی ۴۷۱.

ketabton.com - The Digital Library

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English